بسم الله الرحمن الرحیم

د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه

(4)

ډاکټر کفایت الله وردګ

د کتاب په اړه

د کتاب نوم : د اسلامي تاريخ له پانو څخه (4)

ليکوال : ډاکټر کفايت الله وردګ

د کمپيوټر چارې : محمد نذير (ذبيح)

د چاپ وار : لمړی

د چاپ شمېره : ۲۰۰۰ توکه

ZamZam
Publication Company




زم زم
خپرندويه ټولنه

Zamzam_publication@yahoo.com

00923009808094
00923009101098

Unit R 7 Alwajid Plaza, Faisalcolony Chawk, Dalazak road
Peshawar, KPK, Pakistan





د بدر تر غزا وروسته 1
غزوة بني سُليم 3
غزوة بني قينقاع (د بني قينقاع محاصره) 5
غزوة السويق 10
غزوة ذي امر 12
د كعب بن اشرف وژل 15
غزوة بحران 19
غزوة بحران 20
سرية زيد بن حارثة ❽ 21
غزوة احد 23
غزوة احد 24
د اُحُد نه وړاندې د رسول الله ﷺ خوب ليدل 25
د غزوة احد سببونه 25
د كفارو تياري 27
د مكې د كفارو حركت 28
رسول الله ﷺ ته معلومات رسېدل 28
په مدينه منوره كې حالات بدلېدل 29
د مكې لښكر د مدينې ساحې ته را رسېدل 30
د وتلو نه وړاندې مشوره كول 30
د مسلمانانو لښكر 33
خپل لښكر معاينه كول 33
د مدينې منورې او احد په مينځ كې شپه 34
د منافقينو را ګرځېدل 35

د مسلمانانو پاتې لښکر د احد په لور........................ 37
د دفاع انتظام کول.. 38
د کفارو لښکر... 40
تر جنګ وړاندې نصیحت.. 41
د جنګ شروع 44
د کفارو بیرغ زمکې ته ورسېدو..................................... 47
د حضرت حمزة ® شهادت.. 47
په جبل الرماة باندې د مېشتو کسانو فائده 49
د کفارو تېښته شروع کول.. 49
په جبل الرماة کې د ناستو کسانو خپل ځای پرېښودل
50 ....
د رسول الله ﷺ ځای ته د کفارو نیزدېکت........................ 53
د رسول الله ﷺ د شهادت اوازه 54
د مسلمانانو زړونه له جنګ نه ماتېدل........................ 55
د خپل ورور د قتل کوښښ کول 58
د جګړې پای 58
د شهیدانو لټون.. 60
حضرت عمرو بن جموح ®... 61
نسیبه بنت کعب ام عمارة المازنیة (رض).................. 62
نسیبه بنت کعب ام عمارة المازنیة (رض).................. 63
د شهیدانو تدفین... 64
بې سارې قرباني او غیرت... 64
قزمان 65
حضرت حنظله بن ابي عامر ®...................................... 66
حضرت خیثمة ® 67
حضرت عبد الله بن جحش ®.. 68

الاصیرم 68
مخیرق 69
د احد شهیدان.. 70
غزوة حمراء الاسد 75
غزوة حمراء الاسد 76
سریة ابي سَلَمة بن عبد الاسد المخزومي........................ 83
سریة ابي سَلَمة بن عبد الاسد المخزومي........................ 84
د عبد الله بن انیس ❽ لېږل.. 85
یوم الرجیع) بعث الرجیع) 87
د حضرت خبیب بن عدي ❽ اعدام.. 89
بئر معونة.. 92
غزوة بني النضیر 94
غزوة بني النضیر 95
غزوة نجد 103
د بدر وروستنی غزوة 104
د بدر وروستنی غزوة 105
غزوة دومة الجندل.. 108
غزوة بني مصطلق (غزوة المریسع) 110
غزوة خندق (غزوة الاحزاب) 118
په تاریخ کې د غزوة خندق اهمیت.. 119
د مسلمانانو سره د بني قریظة د یهودو خیانت....... 126
د بني قریظة وو د خیانت خبر خپربدل 128
د صلح لار لټول.. 129
حضرت نعیم بن مسعود ❽ 132
په باد سره د مسلمانانو مرسته 136

د کفارو ماتې.. 137
د خندق په غزوة کې مهم کاڼی.................................... 137
غزوة بني قريظة... 140
ماخذونه.. 149

د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

په زړونو کې د اسلامي جذبې لرونکو ځو ورونو ددې لپاره ملا تړلې ده چې تر پورتني نوم لاندې د کتابونو يوه سلسله روانه وساتو پدې هلو ځلو کې زمونږ هيڅ مالي او دنيوي فايده نشته زمونږ غرض صرف د الله تعالى رضا ده او پدې سلسله کې مونږ څو نکتې تر نظر لاندې لرو چې مونږ دې ټولو هلو ځلو ته هڅوي .

١. پښتنو ورونو ته ددوی په خپله خوږه ژبه کې ديني معلومات ورکول.

٢. د اسلامي تاريخ د مهمو واقعو ياد را تازه کول .

٣. مسلمانو ورونو ته د دوی د مقدس دين په اړه د مطالعې ضمينه مساعدول.

٤. په تېر تاريخ کې د قربانيو مثالونه د نن زمانې ويده مسلمان امت ته ور په زړه کول .

٥. د اسلام په تاريخ کې د تېرو مسلمانانو د صبر واقعې هغه خلکو ته ور په يادول چې اوس هم په کومه نه کومه وجه د کفر له لوري نه ځوريږي .

٧. موجوده مسلماني جامعې ته موقع ورکول چې د خپلو تېرو مسلمانانو د ژوند، مېړانې، ځوانمردی، قربانی ... نه عبرت واخلي .

او بالآخره نوي ځوان تنکي نسل ته د اسلامي تاريخ د لويو کتابونو څخه لويې خبرې د وړو رسالو او کتابونو په شکل کې ددوی د اسانتيا لپاره وړاندې کول .

دا پورتنی او څه نوري داسي نکتې دي چې مونږ ددې سلسلې رواني ساتلو ته هڅوي او ان شاء الله ترڅو مو چې وس وي دا لړی به مونږ همداسې روانه ساتو الله الحمد داده ستاسي تر لاسونو پورې ددې مبارکې لړی څلورمه کړی هم در ورسېده که ژوند بقاء وکوله ډېر زر به يې پنځمه کړی هم در ورسيږي او دا لږ ځکه وځنډېده چې ددېنه وړاندې په داسي وخت کې چې د يو سپک فلم په واسطه د رسول الله ﷺ اهانت وشو دهغه اهانت په ځواب کې مونږ يوه خاصه رساله چاپ کړه اميد دی چې تاسي به کتلې وي او پدې کړی کې هم مونږ د رسول الله ﷺ او دهغه د صحابه وو په غزواتو باندې د دريم کتاب په تعقيب باندې خبرې کوو اميد دی چې ستاسي د خوښې وړ به و ګرځي او که کوم ملګري دې لړی ته د لا زياتو ښه کولو لپاره په ذهن کې مشورې لري او يا خدمت کول غواړي زمونږ غېږه ورته خلاصه ده او که ددې کتاب او يا دې لړی په اړه ستاسي څه ډول اعتراض، سوال، نيوکه، نکته، نظريه او يا مشوره وي نو ددې سلسلې چلونکي به يې له ستاسي نه د کور وداني په ويلو سره په ورين تندي واوري او په راتلونکو کتابونو کې به يې په ياد لري . مننه

د زمزم خپرندويه ټولني اداره

E-mail: zamzam_publication@yahoo.com



د بدر تر غزا وروسته

لکه ددېنه په وړاندي کتاب (دريمه برخه) کي چي تېر شول د بدر غزا هغه لمړی واقعه وه چي مسلمانان او کفار په مسلح ډول سره مخامخ شول او داسي يوه جګړه وه چي د مسلمانانو او کفارو په مينځ کي يې فيصله وکوله او مسلمانانو ته ښکاره کاميابي نصيب شوه او د کفارو له لوري نه چي څوک ژوندي و تښتېدل ځان ورته د ښه قسمت مالک ښکاره کېدو دي ښکاره فتح د هغه کسانو په زړه باندي ډېر بد تاثير کړی وو چي د مسلمانانو کاميابي يې نشوای زغملی دا که هغه مشرکان وو چي د بدر د غزا نه په ژوندي تښتېدلو بريالي شوي وو او که هغه يهود وو چي په مدينه منوره کي په ښکاره سره د رسول الله ﷺ په تعهد کي بند وو لکن په زړه يې ورته ډېر بد کرځول او د همدي دوو ډلو په اړه الله تعالی فرمايي :

سورة مائدة آية ٨٢

﴿ لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْۖ

ترجمه : بېشکه ته به پيدا کړي په دښمني کي له مسلمانو سره ډېر سخت يهود او هغه کسان چي مشرکان دي .

او يوه بله ډله داسي هم وه چي په ښکاره سره په اسلام کي داخل شوي وو لکن په زړونو کي يې

تر هغه کيني نه اوس هم کمه کينه نه وه کومه چې د همدې دوو ډلو په زړونو کې وه او دا ډله هغه کسان وو چې صرف ددې لپاره يې په ښکاره سره اسلام قبول کړی وو چې دوی ته ښکاره شوې وه چې عزت اوس په اسلام کې دی هغه عبد الله بن ابی او دهغه ملګري وو او دمدينې په شاو خوا کې يوه بله ډله کوچيان هم اوسېدل چې دهغوی په اسلام او کفر باندې کار نه وو هغوی صرف د چور او غلا خلک وو او چېرته به چې کمزوري خلک ورته ښکاره شول نو د موقع نه به يې فايده پورته کوله او غلا به يې کوله او مالونه به يې چور کول هغوی هم پدې ډارېدل که چېرته په مدينه منوره کې يو مستحکم دولت او نظام مېنځ ته راشي نو ددوی دا فعاليتونه به هم ودرول شي هغوی ددې فکر په بنياد د مسلمانانو دښمني په زړونو کې ګرځوله نو ددې امله د بدر د غزا نه وروسته اسلامي نظام ته خطرونه تر مخکې نه لا نور هم زيات شول او د هرې خوا نه خطر محسوس کېدو رسول الله ﷺ چې يو رښتونی قائد وو ددې ټولو خطرونو احساس ورته کېدو او حالات يې په ځيرکتيا سره څارل چې ډېر زر ددې وخت راغلو چې د بني سُليم غزا واقع شوه .

غزوة بني سُليم



کله چې رسول الله ﷺ د بدر نه بېرته مدينې منورې ته لاړو صرف اوه شپې يې تېرې کړې چې خبر ورته را ورسېدو چې د بني سليم او بني غطفان خلکو د ا فکر کړی دی چې مسلمانان د بدر په جنګ باندې ستومانه شوي دي او د جګړې توان پکې نه ليدل کيږي نو ددې امله په مسلمانانو باندې دحملې کولو په نيت باندې له خپلو ځايونو څخه را وتلي دي نو څرنګه چې مسلمانان د بدر په جنګ کې کمزور شوي او ستړي شوي نه وو بلکه د الله تعالی د لارې د جهاد لپاره له مخکې نه نور هم پياوړي شوي وو نو د رسول الله ﷺ په يوه اواز سره دوه سوه کسان جنګ ته تيار شول حضرت سباعَ

بن عرفطة الغفاري ❽ په يوه قول عبد الله بن ام مكتوم ❽ يې په مدينه منوره كې د خليفه په توګه پرېښود او سپين بيرغ يې حضرت علي رضى الله تعالى عنه ته وركړو او ددوى د ځايونو لور ته ور روان شول مشري يې پخپله حضرت رسول الله ﷺ كوله تردې چې د الكدر علاقې ته ورسېدل او دا هغه علاقه وه چې كفار تردې ځاى پورې را رسېدلي وو (په نقشه كې په نښه كړل شوى دى) د مدينې منورې جنوب شرقي لورې ته واقع دي هغوى چې ددېنه خبر شول چې رسول الله ﷺ د خپلو زړورو مجاهدينو سره را ورسېدو نو له هغه ځاى نه يې پښې سپكې كړې او په تېښته و تښتېدل پنځه سوه اوښان ترينه په هغه ځاى كې پاتې شول او مسلمانانو ته دغنيمت په ډول په لاس ورغلل رسول الله ﷺ پنځمه برخه ترې بيت المال ته وركړه او پاتې يې په دوى باندې تقسيم كړل او هر مجاهد ته دوه دوه اوښان ورسېدل ، رسول الله ﷺ د خپل عادت مطابق هلته د دريو ورځو لپاره پاتې شو ترڅو دښمن ته ثابته كړي چې كه د مخامخ كېدو توان په ځان كېويني نو دوى ورته ناست او په را ګرځېدو كې يې هېڅ بيړه نشته په كدر كې د دريو ورځو د قيام نه وروسته بېرته مدينې منورې ته را ستانه شول .

غزوة بني قينقاع (د بني قينقاع محاصره)

د احد غر
مجتمع الاسيال
جبل سلع
الحرة الشرقية
(واقم)
مسجد نبوي
الحرة الغربية
(الوبرة)
بنو قينقاع
وادي مهزوز
وادي بطحان
بنو قريظة
وادي مذينب
وادي العقيق
وادي رانوناء
بنو النضير
Map by
M Nasir Zobin

په مدينه منوره کې د يهودو درې قبيلې وې چې رسول الله ﷺ دهغوی سره د امن تعهد ليکلی وو چې دوی به د مسلمانانو د عزتونو او د ځانونو ساتنه کوي او دوی به هم د مسلمانانو څخه په امن وي :

١. بني قريظة
٢. بني النضير
٣. بني قينقاع

او ترڅو پورې چې ددوی له لورې نه تعهد مات شوی نه وو نو مسلمانانو يې پوره پوره ساتنه وکوله بالآخره د بني قينقاع چې د مدينې په

هغه ځای کې هستېده چې په نقشه کې ښکاره کړل شوی دی د لوري نه تعهد داسې مات شو چې بني قينقاع خپل يو بازار درلود او دا خلک اکثر زرګران وو د مسلمانانو يوه ښځه ددوی بازار ته ورغله څه شی يې خرڅول چې زرګر دکاندار ترې وغوښتل چې مخ دې ښکاره کړي څرنګه چې دا بې تميزه غوښتنه وه نو ښځې ونه منله او يو يهودي په فريب سره لاړو د مسلماني زنانه شا ته او دهغې تکری يې په کوم شي پورې پداسې طريقه سره وتړلو چې دا پرې پوه نه شوه نو چې په همدې بې خبري کې هغه پا څېده نو تکری يې ترې و غورځېدو او مخ يې ښکاره شو او يهودي ورته په زوره زوره خندل مسلماني ښځې چيغه کړه او مرسته يې وغوښته په بازار کې يو مسلمان ور توپ کړل او د يهودي دکاندار سر يې ترې پرې کړو نور يهود را ټول شول او مسلمان يې شهيد کړو مسلمانان پدې غصه شول او چې له مخکې نه ددوی د شرارت او شيطانت نه تنګ شوي وو جنګ ته تيار شول او رسول الله ﷺ چې له هېچا سره هم تر هغه وخته پورې جنګ ته نه تيارېدو ترڅو به يې چې هغوی ته د اسلام لوري ته دعوت نه وو ورکړی نو ورغلو او دوی يې په خپل بازار کې را ټول کړل او د اسلام لوري ته يې دعوت ورکړو او ورته يې وويل :

د الله تعالى له عذاب نه و ډار شئ او تاسې ته معلومه ده چې زه پيغمبر يم او زما ټولې نښې ستاسې په کتابونو کې موجودې دي اسلام قبول

کړئ او کنه نو الله تعالی به دربانديي داسي عذاب مسلط کړي لکه په بدر کي يي چي په قريشو باندي مسلط کړو دوی ورته وويل : محمده که تا د خپل قوم جنګياليو ته په بدر کي ماتي ورکړه د هغي وجه دا وه چي هغوی بي تعليمه د جنګي تکتيکونو څخه نا خبره او د جنګ سره نا بلده خلک وو که ته چيرته زمونږ سره په جنګ کي مخامخ شي نو مونږ به درته وښيو چي سړي څنګه وي .

الله تعالی ددوی په اړه نازل کړل :

سورة آل عمران آية ١٢-١٣

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ سَتُغۡلَبُونَ وَتُحۡشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَۚ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿١٢﴾ قَدۡ كَانَ لَكُمۡ ءَايَةٞ فِي فِئَتَيۡنِ ٱلۡتَقَتَاۖ فِئَةٞ تُقَٰتِلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَأُخۡرَىٰ كَافِرَةٞ يَرَوۡنَهُم مِّثۡلَيۡهِمۡ رَأۡيَ ٱلۡعَيۡنِۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصۡرِهِۦ مَن يَشَآءُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴿١٣﴾

ترجمه : ووايه هغه کسانو ته چي کافران دي تاسي به مغلوب کړل شئ او تول به کړل شئ دوزخ ته او هغه ډير بد د ورګرځيدلو ځای دی د تاسي لپاره په هغه دوه ډلو کي نښه د عبرت وه چي سره مخامخ شوي يوي ډلي د الله په لاره کي جنګ

کولو او بله ډله یې کافره وه هغوی ته د مسلمانانو ډله د خپل ځان دوه چنده ښکاره کېده چاته یې چې خوښه شي الله ① په خپله مرسته سره د هغه تائید کوي بېشکه پدې کې د عقل د خاوندانو لپاره عبرت دی

چې کله یې د اسلام دعوت ته هم پدې ډول باندې ځواب وویلو نو د هجرت د دوهم کال د شوال په میاشت کې د شنبې په ورځ مسلمانان غازیان د دوی سره جنګ ته ور ووتل او د مسلمانانو سپین بیرغ د حضرت حمزة ❽ په لاس کې وو او رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې حضرت ابو لبابة بشیر بن عبد المنذر ❽ د خپل خلیفه په توګه پرېښی وو چې کله د بني قینقاع یهود د مسلمانانو د ور وتلو نه خبر شول نو په بدر کې د مسلمانانو جنګېدل او سرښندنه د دوی نه هېره نه وه نو د دوی په زړونو کې ویره ننوتله او د مسلمانانو تر رعب لاندې راغلل او ددې په ځای چې دوی ځان ته خپله خبره وریاده کړې وای چې رسول الله ﷺ ته یې ویل (که ته له مونږ سره په جنګ کې مخامخ شې نو مونږ به درته وښیو چې سړي څنګه وي) او اوس جنګ ته را وړاندې شوي وای دوی لاړل په خپلو کورونو ننوتل او د رسول الله ﷺ د مجاهدو ملګرو سره یې د مخامخ کېدلو نه ډډه وکړه مسلمانانو ددوی محاصره تر ۱۵ ورځو پورې اوږده کړه بالآخره دوی را ووتل او د رسول الله ﷺ

نه يې وغوښتل چې ددوی سره د صلح وکوي هغه صلح داسې وشوه چې دوی به خپل ټول مالونه او اسلحه مسلمانانو ته پرېږدي دا به ددوی لپاره غنيمت وي او مسلمانان به ددوی د سر پناه ورکوي او دوی به پرېږدي چې خالي لاس ووزي رسول الله ﷺ پدې صلح ددوی سره رضا شو او پدې غزا کې الله تعالی مسلمانانو ته ډېر غنيمت په لاس ورکړو او رسول الله ﷺ حضرت محمد بن مسلمة رضی الله تعالی عنه د غنيمتونو د ټولولو مسئول مقرر کړو او دوی چې د سر امان ورته ورکړل شو د مدينې منورې نه ووتل او شام لورې ته ولاړل



غزوة السويق

دا غزوه هغه وخت واقع شوه کله چې په مکه کې خلک ټول په غم کې اوسېدل له يوې خوا نه يې ټول مشهور او د مخې خلک په بدر کې د مړيو په ډول پرېښې وو او له بله پلوه يې د ټولو عربو قبيلو په مينځ کې سترګې شکته شوې وې هغه کبر چې ددوی سره به وو او هغه فخر چې دوی به کولو اوس نه وو پاتې شوی د شرم نه به پورته څنګه کوري چې ټول خلک پدې خبر دي چې ۳۱۳ کسان د صرف ۲ آسونو سره راغلي وو او د دوی لوی لښکر ته يې ماتې ورکړه نو په همداسې ژوند کې ابو سفيان قسم وخوړو ترڅو به زه د خپل جنابت نه غسل نه کوم ترڅو چې د محمد سره جنګېدلی نه وم د همدې قسم نه د ځان خلاصولو لپاره يې له ځان سره د قريشو دوه سوه کسان ملګري کړل او مدينې منورې ته روان شو مدينې منورې ته چې راغلو بني النضير (ديهودو قبيلې) ته ورغلو او په هغوی کې يې د حيی بن اخطب (د بني النضير سردار) دروازه ور وټکوله هغه ورته دروازه خلاصه نه کړه او دده يې هېڅ مېلمستيا ونه کوله بيا راغلل د سلام بن مشکم کور ته هغه دده ښه استقبال وکولو او د مسلمانانو په اړه يې معلومات هم ورکړل د شپې را ووتل د مدينې په شاوخوا کې يې چاپه واچوله او يو انصاري او يو دهغه ملګری يې شهيدان کړل او د غلو په څېر يې


بېرته په تېښته مخه کړه رسول الله ﷺ چې ددې قصې نه خبر شو نو دخپلو صحابه رضی الله تعالی عنهم سره په دوی پسې را ووتلو دوی چې په تېزه سره تښتېدل نو په لارو به يې خپل خوراکونه ددې امله غورځول چې دوی د منډې لپاره خپل ځانونه سپکول غوښتل او په هغه طعامونو کې غټه برخه السويق (ستوان ، د غنمو د اوړو نه جوړ شوی يو طعام دی) وو نو ځکه دې غزوې ته دا نوم ورکړل شو .

مسلمانان په دوی پسې تر قرقرة الکدر پورې لاړل چې ددېنه د مخکنی غزا په نقشه کې ښکاره کړل شوی وو بالآخره ابو سفيان له دوی څخه په تېښته خلاص شو او را گير يې نشو کړلی دوی بېرته مدينې منورې ته را ستانه شول .



غزوة ذي امر

(د امر په راء باندې شد) دا د اوبو نوم دی او هغه اوبه چې چېرته وې هغه ځای ته اوس امر وايي .



دېته غزوه غطفان هم ويل کيږي دا هغه غزوه وه چې رسول الله ﷺ پکې د زياتو غازيانو مشري کوله د هجرت په دريم کال کې واقع شوې ده او هغه وخت مينځ ته راغله کله چې رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې د دُعْثُور په نوم يو سړي چې د غِطفان د قبيلې څخه دی د بني محارب او بني ثعلبة د قبيلو څخه يې څه کسان په ذي امر کې (چې د بني غطفان د قبيلې اړوند ځای دی) را ټول کړي غواړي چې د مدينې منورې اطرافو ته راشي او له

مسلمانانو سره جنګ وکوي رسول الله ﷺ خپلو صحابه وو ته اواز کړو چې را ټول شول د ٤٥٠ صحابه وو سره د ذي امر ځای په نوم يې حرکت وکولو او په مدينه منوره کې يې حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه د خپل خليفه په توګه پرېښودو په لاره کې د هماغه طرفونو څخه يو کس دوی وليدو چې حباب او د يو قول له مخې جبار نوم يې وو دهغه سره دوی خبرې وکولې او هغه ورته ډېرې خبرې وکولې يوه دا چې که هغوی خبر شول چې تاسې د هغوی په لوري ور روان یاست نو هغوی به لتاسې نه غرونو ته وتښتې او لتاسې سره به جنګ ته مخامخ نه شي او دا يې هم ورته وويل چې زه لتاسې سره ځم نو رسول الله ﷺ ورته د اسلام په اړه خبرې وکولې نو ده اسلام قبول کړو او رسول الله ﷺ دی له حضرت بلال ❽ سره ملګری کړو او د اسلامي لښکر لار ښود شو رسول الله ﷺ لاړو په کوم ځای کې چې دوی را ټول شوي وو دلته اوبه وې چې ذي امر يې ورته ويل هغه ځای ته ورسېدو هغوی چې د مجاهدينو د لښکر نه خبر شوي وو ټول تښتېدلي وو رسول الله ﷺ همدلته ځان ورسولو د څو شپو لپاره هلته پاتې شو چې خلکو ته د اسلام شان او قوت ښکاره کړي او په امن سره مدينې منورې ته را ستون شو د سفر موده يې ١١ ورځو ته ورسېده ، پدې غزوة کې يو باران وشو چې ټول مجاهدين يې لانده کړل او رسول الله ﷺ خپلې جامې مبارکې بدلې کړې هغه يې لمر ته

واچولي او خپله تر يوه ونه لاندې څملاستو ستړکي يې پټې شوې وې چې يو كافر دعثور ابن الحارث ورته په پټه پټه راغلو او دده ﷺ سر ته ودريدو او رسول الله ﷺ ته يې ويل نن به تا لما څخه څوک ساتي؟ رسول الله ﷺ ورته وويل الله .. ددې اواز د آوريدو سره په هغه كس باندې ويره راغله او توره يې له لاسه پريوتله رسول الله ﷺ توره را پورته كړه ده ته يې ويل تا به اوس لما څخه څوک ساتي ؟ ده ورته وويل څوک هم داسې نشته چې ما لتا څخه خلاص كړي نو رسول الله ﷺ هغه معاف كړو او خوشې يې كړو هغه سم د لاسه وويل زه ددې گواهي وركوم چې نشته لا ئق د عبادت مگر يو الله دى محمد د الله رسول دى بيا لاړو خپل قوم ته او اسلام ته يې دعوت شروع كړو او خلک يې اسلام ته را بلل پدې اړه وحی راغله .

سورة مائدة آية ۱۱

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَن يَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ

ترجمه : ای هغه كسانو چې تاسې ايمان راوړی دی درياد كړئ د الله هغه نعمت چې كله يو قوم اراده وكوله چې تاسې ته خپل لاسونه در اوږده كړي بيا يې دهغوی لاسونه لتاسې نه ونيول د الله نه وډار

شئ او بايد خاص په الله ① باندي مسلمانان توكل وكوي

د كعب بن اشرف وژل

كعب بن اشرف د مديني منوري نه لاړو مكي مكرمي ته مشركينو ته يي خبري كولي او هغوى يي د رسول الله ﷺ جنګ ته را پاروول د ابو سفيان سره يي خبري كولي ابو سفيان ورته ويل ته ووايه زمونږ ښه دين دى او كه هغه دين ښه دى كوم چي محمد راوړى دى؟ كب بن اشرف رذيل ورته ويل نه ستاسي دينورباندي غوره دى .

د كعب بن اشرف ددي خبرو په آړه آيت نازل شو:

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنْ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا هَؤُلَاءِ أَهْدَى مِنْ الَّذِينَ آمَنُوا سَبِيلًا

ترجمه :ته نه ګوري هغه كسانو ته چي د كتاب نه څه برخه وركړل شويده دوى ايمان راوړى دى په جبت او طاغوت باندي هغه كسانو ته چي كافران دي وايي دا خلک له هغه كسانو څخه چي مومنان دي ډير په سمه لار دي .

په مکه کې يې تر خپلې وسې پورې کوښښ وکاوه چې قريش د رسول الله ﷺ جنګ ته را وپاروي څه شعرونه يې وويل چې د کفارو زړونه يې د انتقام اخستلو ته را وپارول دده ددې کارونو او نورو شيطانتونو څخه مسلمان زيات په تنګ شول تردې چې رسول الله ﷺ را پورته شو او خپلو غازيانو ته يې وويل د کعب بن اشرف کار به زما لپاره څوک وکوي؟ ده الله او دهغه رسول ته ضرر رسولی دی

حضرت محمد بن مسلمة ❽ وفرمايل : ته دا غواړې چې مړ يې کړو؟ رسول الله ﷺ ورته وويل : هو ! حضرت مسلمة ❽ وويل بيا ماته اجازه راکړه که زه ستا په اړه هغه ته څه وايم ... رسول الله ﷺ ورته و فرمايل هو تاته اجازه ده .

هغه له ځان سره په مشوره کې څو کسان ملګري کړل يو يې ابو نائله چې د کعب رضاعي ورور وو دا يې هم ملګری وو هغه يې ور ولېږلو د کعب بن اشرف سره په پټ ځای کې مخامخ شو ورته يې وويل دا کس (محمدﷺ) راغلو له مونږ نه هرشی غواړي ، له مونږ نه صدقې او خيراتونه غواړي له مونږ سره خپله هېڅ نشته او اوس په خپله خبره کې ګير راغلي يو غيرت راته ولاړ دی په شا تري نشو تلی او په کور کې مې هېڅ وس نشته تاته راغلی يم که څه قرض راکړې او زه يوازې نه يم څه نور کسان هم راسره دي مونږ ټول

غواړو چې ورو ورو ځان په څه چل تري ګوښه کړو .

کعب بن اشرف ورته وويل صحيح ده دربه يې کړم لکن ماته په ګانه کې څه کېږدئ ... حضرت ابو نائله ❽ ورته وويل له مونږ سره چې څه شی نشته څه به درته ګانه کړو؟ کعب بن اشرف رذيل ورته وويل خپلې ښځې راته په ګانه کړئ ..

حضرت ابو نائله ❽ ورته وويل مونږ خپلې ښځې تاسې ته څنګه ګانه کړو په ټولو عربو کې تاسې ښکلی شکل لرئ زمونږ ښځې چې تاسې ويني په فتنه کې به واقع شي .

کعب ورته وويل نو بيا خپل زامن راته ګانه کړئ .

حضرت ابو نائله ❽ ورته وويل که زامن تاسې ته په ګرو کې کېږدو نو دا چې لوی شي نو خلک به ورته ښکنځل کوي او پيغور به ورکوي چې ته وړوکی وې نو پلار دې ګانه کړی وې دا خو زمونږ لپاره شرم دی خو مونږ به سلاح تاته ګرو کړو ده وويل صحيح ده بس را يې وړئ او کله چې راځئ نو راشئ ابو نائله ❽ راغلو خپلو ملګرو ته يې وويل چې وعده مې ترې واخيسته دوی راغلل رسول الله ☸ ته يې قصه وکوله رسول الله ☸ پخپلو مبارکو پښو باندې هم له د وی سره را ووتلو تر بقيع پورې ورسره راغلو بيا يې هلته

ورته دعا وکوله ورته یې وویل ځئ لاړ شئ د الله په برکت او مرسته سره ... دوی روان شول د سپوږمي ښکلې شپه وه دوی راغلل یو حضرت محمد بن مسلمة وو بل ابو نائله وو بل حضرت عباد بن بشر وو، بل حارث بن اوس وو .. رضوان الله علیهم اجمعین چې دده ځای ته را ورسېدل هغه د صحن د ننه را وغوښتل .. دی چې راوتلو ښځې یې پسې غږ کړو پدي وخت کې ته چېرته ځې؟ ده وویل چې محمد بن مسلمة دی او بل مې ورور ابو نائله دی ښځې یې وویل چې زه داسې اواز آورم لکه وینې چې ترینه توئیږي (خطرناک اواز دی) ده بیا ورته وویل چې نه یو محمد بن مسلمة او بل مې رضاعي ورور دی .


دی چې را ووتلو دوی ورسره مجلس شروع کړو چې لږ زړه ونیسي ابو نائله ورته ویل څه عجیب بوی درنه ځي ما په ژوند کې داسې ښکلی بوی نه دی لیدلی دیو قول له مخې چې ده ورته وویل چې زما داسې ښځه ده چې هغه د عربو د عال نسب نه ده دا هغې را باندې وهلي دي بیا ابو نائله د یوقول له مخې محمد بن مسلمة رضی الله تعالی عنهما ورته وویل چې زه ستا سر بوی کړم لاس پکې ووهم چې دا ښه بوی زما په لاس پوري شي ده ورته وویل هو ! چې کله یې لاس دده ویښتو ته ور ورسېدل نو یې په دواړو لاسونو باندې تینګ ونیولو او خپلو ملګرو ته یې ویل : ووژنئ د الله دښمن ملګرو یې وربانديې د وارونو تور تم جوړ کړو د هېڅ ښوریدلو وخت یې ورنه کړو سر یې تري

پري کړو او له ځان سره يې واخيست رسول الله ﷺ په مانځه ولاړ وو دوی چې نيږدې بقيع ته ورسيدل نو يې تکبيرونه ويل رسول الله ﷺ چې پدې وخت کې په مانځه کې وو ددوی تکبيرونه يې واوريدل هغه هم تکبير وويلو هغه پوه شو چې کار يې په کاميابی سره کړی دی د رسول الله ﷺ دربار ته چې ورسيدو هغه ﷺ ورته وويل مخونه کامياب شول .. دوی ورته وويل او ستا مخ هم يا رسول الله .

او دهغه سر يې ورته په مخه کې وغورځولو کله يې چې وليدو د الله تعالی شکر يې اداء کړو .



غزوة بحران



دا غزوة د هجرت په دريم كال په ربيع الثاني د يو قول له مخې په ربيع الاول مياشت كې هغه وخت واقع شوه كله چې رسول الله ﷺ د قريشو په لټون كې بحران نومي ځاى ته د درى سوو مجاهدينو سره په داسې حالت كې ورسېدو چې حضرت عبد الله ابن ام مكتوم ❽ يې د خپل خليفه په ځاى په مدينه منوره كې پرېښى وو تر بحران پورې ورسېدل او هلته يې شپې وكولې د جنګ سره مخامخ نه شول بېرته په امن سره مدينې منورې ته را ستانه شول .

سرية زيد بن حارثة ❽

دا سرية رسول الله ﷺ د هجرت په ۳ کال د جمادي الثاني په مياشت کې هغه وخت ولېږله کله چې د قريشو د يوې قافلې په اړه مسلمانانو ته خبر را ورسېدو دا قافله هغه وخت شام ته روانه وه چې اوړی راغلی وو او قريشو فکر کاوه که چېرته د محمد ﷺ د لاسه مونږ په اوړي کې د شام د تجارت سفر ونه کوو دا خو به مونږ په خپل کور کېنو او خپل مالونه به وخورو زمونږ ژوند خو پدې جوړ دی چې په ژمي کې يو سفر د حبشي خوا ته وکوو او په اوړي کې د شام خوا ته ... دوی ددې مشکل د حل لپاره يو له بل سره خبرې کولې او قافله د صفوان تر مشري لاندې تياره وه چې شام ته لاړه شي اسود بن عبد المطلب صفوان ته وويل چې دا لنډه لاره تاسې پرېږدئ او د عراق لاره خپله کړه دا لاره شه ده لکن اوږده ده د مدينې منورې په شرق کې تيرېږي لکن له مدينې څخه ډېره لرې ده محمد ﷺ نشي کولی ستا مخه ونيسي رايه شه وه لکن قريش پدې لاره نه وو خبر او بالکل ورباندې نا بلد وو نو ځکه اسود بن عبد المطلب صفوان ته وويل چې فرات بن حيان له ځان سره د راه بلد په صفت بوزه هغه به درته لاره ښيي .

د همدې مشورې نه وروسته د قريشو قافله د شام په سفر د صفوان بن امية په مشري کې روانه

شوه ددي قافلي د روانېدلو سره سم د قافلي خبرونه مديني منورې ته ورسېدل پدې وخت کې سليط بن النعمان چې پټ مسلمان شوی وو د مکې د کفارو سره د شرابو د څښلو په يو مجلس کې ناست وو (شراب تردې دمه لا حرام شوي نه وو) پدې مجلس کې نعيم بن مسعود الاشجعي حاضر وو هغه سليط بن النعمان ته د قافلې په اړه او دهغې د لارې په اړه ټوله قصه وکوله .

سليط بن النعمان په منډه منډه مديني منورې ته ځان ورسولو او د قافلي په اړه يې ټول معلومات رسول الله ﷺ ته وړاندې کړل رسول الله ﷺ بغير ددېنه چې ځنډ پکې وکوي په ډېر عاجل ډول سره سل کسان مجاهدين تيار کړل او په سر يې ورته زيد بن حارثة الکلبي مقرر کړو او دوی ته يې وويل څومره زر چې کېدای شي تاسې به لاړشئ او دا لاره به ونيسئ هغوی هم د بازانو په څېر لاړل او قافله يې په داسې وخت کې ګير کړه چې د قَرْده په نوم اوبو سره يې دمه کړې وه هغه کسان چې د قافلي سره راغلي وو صفوان او دهغه ملګري د دتېښتې نه بيغير يې نور هېڅ هم ونشوای کولی هغوی و تښتېدل او په قافله کې موجود مال ټول مسلمانانو ته پاتې شو د قافلي د لارې ښودونکی د يو قول له مخې دوه نور کسان ژوندي ونيول شول بيا فرات بن حيان د رسول الله ﷺ په لاس باندې په اسلام مشرف شو .

دي حادثې د قريشو د ملا تير د بدر د واقعې نه بد مات کړو اوس دوی پوه شول چې د دوی په

وړاندي صرف دوه لاري دي يا خو دا چې د يو داسې جنګ تياري وکوي چې د دوی له نظره د مسلمانانو نوم پکې ختم کړي او د اسلام نيالګی له بيخ نه وباسي او يا خو دا چې تر خپل غرور او کبر تېر شي او د مسلمانانو سره د صلح لاره خپله کړي همدا وجه وه چې د احد د جنګ تياري يې شروع کړو .



غزوة احد

د غزوة احد واقعه زه کوښښ کوم پداسي ډول يې ستاسې په وړاندې کېږدم چې تاسې يې که په غور سره ولولئ نو تاسې به فکر وکوئ لکه تاسې چې پدې واقعه کې پخپله حاضر وئ کېداى شي د رسول الله ﷺ او د صحابه وو په سخت حالت باندې به ستاسې زړه نرم شي او که ددې هرڅه لوستلو سره بيا هم ستاسې زړه نرم نشي نو بيا بايد پدې ژړا درشي چې زړه دې ډېر سخت دى .



موقعيت
د احد د غره سره واقع شوه چې دمديني منورې نه تقريباً درى كيلو متره لرې واقع دى

تاريخ :
غزوة احد د هجرت په دريم كال د شوال په مينځ كې واقع شوه چې د مارچ ٦٢٥ سره سمون خوري د ورځې په اړه اختلاف دى لكن مشهوره يې داده چې د شنبې په ورځ واقع شوه .

د اُحُد نه وړاندې د رسول الله ﷺ خوب ليدل

د غزوة احد نه وړاندې رسول الله ﷺ خپلو صحابه وو ته وويل چې خوب مې ليدو توره مې په لاس كې وه چې ومې شورولـه هغه په مينځ كې ماته شوه چې بيا مې وشورولـه نو هغه جوړه شوه . (د مسلمانانو حال همداسې وو د جنګ په مينځ كې هغوى د څه شكست سره مخامخ شول) رسول الله ﷺ پخپله صحابه وو ته ددې خوب تعبير داسې وكولو چې په صحابه وو كې به ځينې شهيدان شي او څه نا څه ماتې به وخوري .

د غزوة احد سببونه

ددې غزوې د واقع کېدلو لپاره يو لوی سبب لکه مخکې چې تېر شو دا وو چې د بدر نه وروسته د مکې قريش د خلکو په وړاندې ډېر غورځېدلي وو وېره او هيبت يې د خلکو له زړونو څخه وتلي وو هرچا به ويل چې ۳۱۳ کسانو مسلمانو په خالي لاس ۱۰۰۰ په ښه ډول مسلح کسانو ته ماتې ورکړه ددېنه وروسته چې غزوة سويق هم واقع شوه هغه داسې وه لکه څوک چې غلا کوي او ابو سفيان د خپلو کسانو سره پداسې توګه و تښتېدو چې خپل د لاس شيان يې په لارو باندې غورځول ددېنه مخکې تاسې ولوستل چې سرية زيد بن حارثة واقع شوه چې د زيد بن حارثه په مشري کې ۱۰۰ صحابه ﷺ لاړل او د قريشو په قافله يې حمله وکوله صفوان بن امية او دهغه سره ملګري د قافلې ساتونکي صرف پدې قادر شول چې و تښتي نور يې هېڅ هم ونشوای کولی نو اوس د مکې کفارو غوښتل چې دا ځل به خپل پوره کوښښ وکوي او د مسلمانانو سره به داسې جنګ وکوي چې هغوی ته پکې ماته ورکړي ددې امله يې چې څومره وس وو دومره کسان يې را ټول کړل او ښه مجهز را ووتل او همدارنګه يو څه ښځې يې هم ورسره را رواني کړې هغوی به ددوی سره وې چې په سر کې يې هند بنت عتبة (د ابو سفيان مېرمن) وه په بدر کې ددې پلار ، ورور، تره وژل شوي وو ددې ښځو کار دا وو چې ځوانان په جنګ ور وهڅوي او که هغوی په شا ځي دوی به ورته د غيرت خبرې کوي او دوی به په جنګ ور تيزوي.

بل کفارو غوښتل چې د مسلمانانو سره داسې جنګ وکوي چې مشران يې داسې پکې شهيدان کړي لکه د دوی مشران چې څنګه په بدر کې مړه شول او پدې سره به د اسلام ترقي ختمه شي او که اسلام ترقي وکوي نو پدې کې دوی خپل خطر محسوس کولو .

د کفارو تياري

د مکې کفارو فيصله وکوله چې د ابو سفيان په قافله کې (کومه چې په امن سره مکې ته ورسېده او بيا د بدر غزوة واقع شوه) څومره مال دی او د هغې ګټه ده دا به نه تقسيم کوي بلکه پدې سره به راتلونکي جنګ ته تيارى وکوي او د مسلمانانو سره به فيصله کونکى جنګ وکوي درى زره جنګيالي يې را ټول کړل پدې کې د مکې خپل خلک هم وو او د شاوخوا قبائلو نه هم خلک پکې شريک وو د بني کنانة او تهامة خلک هم وو په دوی کې دوه سوه د آسونو سپاره جنګيالي وو اوه سوه پکې زغره وال وو او لکه مخکې چې تېر شول ددي کسانو سره ښځې هم رواني وې ترڅو د ماتې په وخت کې د جنګياليو حوصلې لوړې کړې او هغوی ته د غيرت خبرې وکوي د امام ابن اسحاق د قول له مخې آته کساني وې ، د امام واقدي د قول له مخې ١٤ کساني وې او د امام ابن سعد له نظره ١٥ وې خو په سر کې يې بالاتفاق د ابو سفيان مېرمن هند بنت عتبة وه .

د مکې د کفارو حرکت

د تولې تياري د پوره کېدلو نه وروسته د مکې کفار په پوره جذبه او فخر سره د مدينې منورې لورې ته روان شول .

رسول الله ﷺ ته معلومات رسېدل

څرنګه چې حضرت عباس بن عبد المطلب په مکه کې وو او په پټه سره مسلمان وو د کفارو هر حرکت يې څارلو کله چې دوی له مکې نه ووتل نو حضرت عباس رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته خط وليکلو چې د لښکر په اړه په ټولو معلوماتو باندې مشتمل وو د حضرت عباس رضي الله عنه استازی پداسې عجله سره تر رسول الله ﷺ پورې ورسېدو چې د مکې نه تر مدينې منورې پورې مسافه يې په دريو ورځو کې لنډه کړه رسول الله ﷺ پدې وخت کې په مسجد قباء کې وو چې د حضرت عباس رضي الله عنه ليک ورته ورسېدو او حضرت ابي ابن کعب دا ليک حضرت رسول الله ﷺ ته ولوست رسول الله ﷺ چې کله ليک واورېدو نو دوی ته يې امر وکولو چې دا ليک دې په راز کې وساتل شي او پخپله تيز مدينې منورې ته راغلو او د مهاجرينو او انصارو د مشرانو سره يې خبرې تبادله کړې .

په مدينه منوره کې حالات بدلېدل

ددې ليک نه وروسته په عاجله توګه په مدينه منوره کې حالات يو څه بدل شول هرچا به له ځان سره سلاح ګرځوله حتى چې د مانځه په حالت کې به هم له صحابه وو سره سلاح وه.

د رسول الله ﷺ د حفاظت لپاره د صحابه وو يوه ډله مقرره شوه چې هروخت به يې دده ﷺ ساتنه کوله او د شپې به يې دده ﷺ په کور باندې له سلاح سره پيره کوله دا کسان سعد بن معاذ، وأسيد بن حضير، وسعد بن عبادة وو.

له کومه ځايه به چې مدينې ته خلک را ننوتل په هغه ځايونو کې هم کسان مقرر شول چې پيره وکوي.

د ګزمې ګروپونه مقرر شول چې هغوی د مدينې منورې نه بهر په نمبر سره ګزمه کوله ترڅو دشمن په بې خبرۍ کې حمله و نه کوي.

د مکې لښکر د مديني ساحې ته را رسېدل

د مکې د کفارو لښکر د ابو سفيان په مشرى کې په هغه عمومي غربي لاره باندې روان شو کومه چې په عام ډول استعمالېده کله چې د ابواء ځاى ته ورسېدل هند بنت عتبة (د ابو سفيان مېرمن) و غوښتل چې د رسول الله ﷺ د مور بي بي قبر باید ړنګ کړو بیا د لښکر مشرانو ورته وویل چې دا څه ښه کار نه دى او ددې کار نه یې منع کړه او ورته یې وویل که دا کار مو وکولو نو دا یوه نوې دروازه خلاصول دي او نتیجې به یې خرابې وي .

مکې لښکر مدینې منورې ته نېږدې شو په وادي عقیق باندې روان شول دهغې نه تاو شول او د اُحد د غره خواته یې ځان ورسولو او د جُمعې په ورځ یې هلته دېره واچوله .

د وتلو نه وړاندې مشوره کول

د مکې د لښکر نه هروخت تازه خبرونه مسلمانانو ته را رسېدل حتى چې ددې خبر ورته را ورسېدو چې هغوى د احد د غره سره دېره واچوله نو رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره شورى جوړه کړه ددوى سره یې مشوره کوله چې څه کوو د دوى مخې ته ورځو چې د مدینې نه بهر ورسره و

جنګېږو او که دوی پرېږدو چې مديني منورې ته راشي او په مدينه کې د ننه ورسره و جنګېږو؟ (د رسول الله ﷺ خپله رايه دا وه چې په مدينه کې پاتې شو) د منافقينو د مشر عبد الله بن ابی بن سلول رايه هم دا وه چې بايد مونږ په مدينه کې پاتې شو او هغوی پرېږدو چې مديني ته راشي دلته به ورسره و جنګېږو دده دا رايه ددې امله نه وه چې په نظامي لحاظ دا يوه ښه رايه وه بلکه دده دا رايه پدې خوښه وه چې که جنګ په کوڅو کې شي نو په اسانه سره زه د جنګ نه خپل ځان پداسې ډول پټولی شم چې څوک به را باندې پوه نه شي ... انصارو صحابه وو ؓ وفرمايل مونږ نه خوښوو چې د مديني په لارو کې د جنګ وکوو مونږ د جاهليت په زمانه کې دا نه خوښول چې په لارو کې له چا سره جنګ وکوو د اسلام په حالت کې يې هم بايد خوښ نه کړو رسول الله ﷺ لاړو و زغره يې واغوسته صحابهوو ؓ په خپل مينځ کې يو بل ملامت کول شروع کړل ځينو ويل چې رسول الله ﷺ تاسي ته يو کار خوښ کړو او تاسي بل خوښ کړو بيا يې حضرت حمزة ﷺ ته ويل چې ورشه رسول الله ﷺ ته ووايه چې زمونږ خوښه ستا تر خوښې پورې ده (څه چې ستا خوښه وي همداسې به کوو) حضرت حمزة ؓ چې رسول الله ﷺ ته د اخبره وکوله نو هغه ﷺ وفرمايل پيغمبر چې يو ځل زغره واغوندي بيا يې تر هغه وخته نه وباسي چې ضرورت يې ختم شوی نه وي .. حضرت

حمزة ❽ يې ځکه په رسول الله ﷺ پسې ور ولېږلو چې حضرت حمزة ❽ دهغه صحابه وو په سر کې وو چې غوښتل يې د کفارو مخې ته جنګ ته ورځو.
بالآخره رسول الله ﷺ خپله رايه د صحابه وو د رايې لپاره پرېښوده او فيصله پدې وشوه چې ورځو د مدينې منورې نه بهر د کفارو سره جنګ کوو او هغوی ته خپله زړورتيا او شجاعت ور ښکاره کوو.

د علم تاريخ د کتابونو له مخې هغه کسان چې د بدر د غزا څخه پاتې وو دهغوی ډېر شوق وو چې جنګ ته ولاړ شي او د دښمن سره په ميدان کې مخامخ شي هغوی په رسول الله ﷺ پسې ټينګ شول او ورته ويل يې : ای رسول الله ﷺ مونږ ددې ورځې انتظار کاوه چې مونږ له خپل دښمن سره مخامخ شو خير دی مونږ ور وباسه چې هلته ورسره و جنګيږو هغوی به په مونږ باندې دا ګمان نه کوي چې مونږ دهغوی نه وډار شوو او په کورونو کې پاتې شوو .
او هغه کسان چې غوښتل يې په مدينه کې پاتې شي نو دهغوی مطلب دا وو چې په مدينه کې به د ديوالونو څخه کار واخلي او دوی به ځان په مدينه کې ښه ټينګ کړي او هروخت چې داسې جنګ واقع شي نو تعرض کونکې ډله ډېر نقصان وينې .

د مسلمانانو لښکر

کله چې رسول الله ﷺ د وتلو تينګه اراده وکوله نو يو يې لوى بيرغ را پورته کړو او درى واړه وو :
يو وړوکى د مهاجرينو مجاهدينو وو د حضرت مصعب بن عمير ؓ په لاس کې وو او دهغه د شهادت نه وروسته حضرت علي ؓ را پورته کړو .
بل د اوس د مجاهدينو وو د حضرت اسيد بن حضير ؓ په لاس کې وو .
بل د خزرج د مجاهدينو وو د حضرت حبا ب بن منذر ؓ په لاس کې وو .
د ټولو مجاهدينو شمېره زرو کسانو ته رسېدله په دوى کې صرف دوه د آسونو سپاره وو سل زغره وال وو رسول الله ﷺ پدي وخت کې دوه زغري آغوستې وې .

خپل لښکر معاينه کول

کله چې مدني لښکر د ابادي نه لږ ووتلو الشيخان نومي ځاى ته ورسېدو رسول الله ﷺ دخپل لښکر معاينه وکوله او هغه کسان چې په لښکر کې راوتلي وو او کشران وو هغوى د لښکر نه وويستل شول او هغوى ته وويل شول چې تاسې اوس پدي جنګ کې شرکت نشئ کولئ او تردي فيصله لاندي عبدالله

بن عمر، اسامه بن زيد، اسيد بن ظهير، زيد بن ثابت ، زيد بن ارقم، عرابه بن اوس ، ابو سعيد بن حارثه انصاري، سعد بن حبه د اسلامي لښکر نه پاتې کړل شول په دوی کې ځينې کشران وو او ځينې يې اوس ځوانان شوي وو لکن د جنګ سره نا بلد وو حضرت رافع بند خديج 8 اګر که د کم عمر خاوند وو لکن د غشي په وېشتلو کې نوميالی وو نو ځکه رسول الله ﷺ ورته اجازه ورکړه چې په جنګ کې شرکت وکوي حضرت سمرة بند جندب چې وکتل رافع ته اجازه ورکړل شوېده نو رسول الله ﷺ ته يې وويل زه د رافع نه زورور يم که هغه ته د تلو اجازه ورکول کيږي نو ما ته دي هم راکړل شي او که هغه ماته په غېږه راشي نو زه يې را خملولی شم د مهربان قائد رسول الله ﷺ په حضور کې تنکي ګلونه حضرت رافع بند خديج او حضرت سمرة بند جندب په غېږه سره ورغلل او حضرت سمرة وربانديي بريالی شو او رسول الله ﷺ په غزا کې ورته د شرکت اجازه ورکړه .

د مدينې منورې او احد په مينځ کې شپه

خرنګه چې د ورځې ناوخته رسول الله ﷺ او مسلمانانو له مدينې منورې نه حرکت وکولو نو په لاره کې وربانديي ماښام شو نو همدلته يې د

ماښام مونځ وکولو او د شپې همدلته پاتې شول د لښکر د حفاظت لپاره ٥٠ کسان په پیره مقرر شول مشري یې د کعب بن اشرف قاتل مجاهد محمد بن مسلمة ﷺ ته ور په غاړه شوه او حضرت ذکوان بن عبد قیس ﷺ ته د رسول الله ﷺ ساتنه ور په غاړه شوه .

د منافقینو را ګرځېدل

رسول الله ﷺ د سحر مونځ په داسې وخت کې وکولو چې رڼا را خپره شوې وه پدې وخت کې کفارو ته دومره نیږدې وو چې یو بل سره ښکاره کېدل او د مانځه نه وروسته چې نوره هم رڼا شوه عبدالله بن ابی ابن سلول منافق د دریو سوو کسانو منافقینو سره په شا شو او ویل یې چې مونږ جنګ ته نه ځو او دلیل یې دا جوړ کړو چې د راوتلو په وخت کې زما رایه دا وه چې باید جنګ ته د جنګیالو مخې ته را ونه وزو بلکه په مدینه کې پاتې شو رسول الله ﷺ د هلکانو خبره ومنله او زما خبره یې ونه منله نو بیا مونږ د څه لپاره خپل ځانونه وژنو؟ پدې وخت کې عبد الله بن عمرو بن حرام په ده پسې ورغلو ورته ویل یې چې دا اوس د شا ته تلو وخت نه دی اوس مونږ د اخپل پیغمبر پداسې وخت کې ولې پرېږدو چې دده ﷺ دښمنان تیار په ده پسې راغلي دي منافقینو ویل : که چېرته مونږ پوهیدلی چې

خامخا جنګ کيږي مونږ لتاسي سره تلو لکن مونږ فکر نه کوو چې جنګ دې واقع شي نو په داسي حال کې چې هلته د مکې د کفارو لښکر ښکاره کيږي چې تيار راغلي دی او جنګ ته اماده دی پداسې وخت کې چې دوی دا خبرې وکولې نو صحابه وو ﷺ ورته ويل ځی الله مو ورک کړه (ابعدکم الله) ① دې نبي زمونږ لپاره بس کړي ستاسي له ځايه همدې خبرو ته په قرآني آيتونو کې اشاره هم شوې ده الله تعالی فرمايي :
سورة آل عمران آية ١٦٧

وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ ادْفَعُوا قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالاً لاتَّبَعْنَاكُمْ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلإِيمَانِ يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ

ترجمه : او ددې لپاره چې منافقان معلوم شي دوی ته وويل شي راځئ د الله① په لاره کې جهاد وکوئ او کنه نو حد اقل د خپل حريم نه دفاع وکوئ دوی وايي چې که مونږ پوهېدلی چې جنګ کيږي مونږ (خو مونږ ته معلومه ده چې جنګ نه کيږي) پدې وخت دوی کفر ته له اسلام نه نيږدې دي په خولو باندې داسې څه وايي چې د دوی په زړونو کې نه دي الله ① په هغه څه باندې ښه پوه دی چې دوی يې پټوي .

نېږدي وه چې بنو سلمه د خزرج له ډلې او بنو حارثه د اوس له ډلې نه هم د منافقينو سره د جنګ نه د وروسته کېدو خبره منلې واى دوى منافقين نه وو لكن كله يې چې وليدل ۳۰۰ كسان اوس د جنګ نه مخ اړوي مدينې ته ځي نو د دوى هم زړه وشو لكن بېرته يې الله تعالى په زړونو كې استقامت ور واچولو او د رسول الله ﷺ سره يې ملګرې پرې نه ښوده .

په هر صورت د ۱۰۰۰ كسانو نه چې ۳۰۰ كسان جدا شي نو د يوه لښكر لپاره لويه ضربه وه او كه د مسلمانانو په زړونو كې الله ① استقامت اچولى وو او پرې كمزور نه شول لكن د كفارو حوصله خو ورسره لوړه شوه

د مسلمانانو پاتې لښكر د احد په لور

رسول الله ﷺ د مسلمانانو پاتې لښكر چې اوه سوه كسان شول له ځان سره ملګرى كړو د احد په طرف لاړو رسول الله ﷺ غوښتل چې د احد طرف ته ولاړ شي لكن د كفارو لښكر ددوى او د اُحُد د غره په مينځ كې واقع وو نو يې صحابه وو ته وويل داسې څوک شته چې مونږ په كومه لاره باندې د احد د غره لور ته ورسوي حضرت خيثمة ❸ ورته وويل زه كولى شم هغه ته چې ښه لاره معلومه وه نو

په يوه لنډه لاره چې د بني حارثه په فصلونو کې تللې وه لښکر د أُحد په طرف روان کړو او د مشرکينو لښکر يې غرب طرف ته پرېښودو پدې وخت کې د مسلمانانو لښکر د مربع بن قيظي تر باغ تېرېدلو دا په سترګو ړوند منافق وو په ښکاره سره يې اسلام اعلان کړی وو هغه چې پوه شو چې لښکر دده تر باغ تيريږي او د پښو اوازونه يې واورېدل نو يې د مسلمانانو غازيانو مخونو ته خاورې ور شيندلې او ويل يې: که ته د الله پيغمبر يې نو بيا تاته نه ده روا چې ته زما باغ ته را ننوزې .. صحابه وو ؓ اجازه وغوښته چې ددې ګستاخي په بدل کې هغه ووژني لکن رسول الله ﷺ ورته ويل مه يې وژنئ دا په زړه او سترګو دواړو باندې ړوند دی.

پدې لاره باندې رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره د احد د غره لمن ته ورسېدو.

د دفاع انتظام کول

رسول الله ﷺ د پنځوسو کسانو غيشو ويشتونکو يوه ډله بېله کړه او د هغوی مشري يې حضرت عبد الله بن جبير انصاري ؓ ته ور په غاړه کړه او هغوی ته يې هدايت وکولو ورته يې وويل تاسې د جبل الرماة په آخري برخه کې کېنئ که څوک په مونږ باندې له شا نه حمله کوي نو تاسې يې مه را پرېږدئ که مونږ کامياب شو او که ماتې

وخورو تاسي به په هېڅ صورت کې خپل ځای نه پرېږدئ رسول الله ﷺ چې په هرڅه باندې پوه او مهربان قائد وو صحابه وو ته يې په سپينو ټکو کې وضاحت وکولو ورته يې وويل که چېرته مونږ وژل کېږو او يا مونږ غنيمتونه ټولوو بيا به هم تاسي تر هغه وخته پورې دلته پاتې کېږئ ترڅو چې مونږ نه وی را غوښتي .

رسول الله ﷺ پدې پنځوسو کسانو باندې د شا له طرف نه مسلمانان له خطر نه محفوظ کړل په فوځ کې ترتيب شروع شو حضرت حمزة ؓ ته د هغه کسانو مشري ور په غاړه شوه چې زغره وال نه وو د ښي طرف په جنګياليو (ميمنه) باندې حضرت منذر بن عمرو مقرر شو د چپ طرف په جنګياليو (ميسره) باندې حضرت زبير بن عوام ؓ مقرر کړل شو او په اول صف کې هغه کسان و درول شول چې په شجاعت کې يې نوم درلود هغه چې کفار يې ويني د جنګ نه وړاندې لړزه پرې راشي .

پدې ټولو ترتيباتو کې د رسول الله ﷺ جنګي مهارت په ډېر عجيب ډول ښکاره کيږي سره ددې چې د دښمن نه دی ﷺ ميدان ته وروسته راغلو بيا يې هم خپل ځان ته ځای داسې برابر کړو چې خپل ښی او چپ طرف يې په غرونو سره خوندي کړل او شا طرف ته يې ٥٠ کسان تکړه غشي ويشتونکي مقرر کړل او د مجاهدينو په اولو صفونو کې يې هغه کسان مقرر کړل چې خلک يې له مخامخ کېدلو نه ډاريدل او کوم ځای چې رسول الله ﷺ خپل مجاهدين

وربانـدي دېره کړل لوړ وو نو حکمت پکي دا وو چي که خدای مه کړه ماتې (شکست) وي نو بيا هم مجاهدين چي غره ته وخيږي دښمن ددوی په شا پسي نشي ورتلی او که کاميابي وي مخ په ښکته په تښتېدلي دښمن پسي ښه منډه کيږي .

د کفارو لښکر

د مکې د کفارو د لښکر عمومي مشر ابو سفيان وو د ميمنه مشري يې خالد بن وليد ته سپارل شوې وه او د ميسره مشري يې دعکرمه بن ابو جهل په لاس کې وه د آسونو دسته د صفوان بن امية په لاس کې وه د غيشو ويشتونکو په ډله باندي عبدالله بن ربيعة مقرر کړل شو اود قريشو بيرغ به هر وخت د عبد الدار د کورنۍ په لاس کې وو او چي احد ته هم روانېدل نو ابو سفيان ورته وويل چي گورئ په بدر کې هم زمونږ بيرغ زمکي ته رسېدلی وو (د بدر په جنگ کې د کفارو عمومي بيرغ د نصر بن حارث سره وو او هغه ژوندی نيول شوی وو) که چېرته تاسې ددي بيرغ ساتنه نشئ کولی نو سپين سپين مونږ ته وواياست په تاسې باندي به هېڅوک ملامتي نه وايي لکن بيا هم دوی وويل چي مونږ به ددي بيرغ د ساتني لپاره هغه قرباني ورکوو چي نوم يې په کتابونو، اثارو او شعرونو کې پاتې شي نو اوس هم د کفارو د لښکر جنډه د بني عبد الدار سره وه .

د مكي لښكر سره چې د ښځو كومه ډله راغلې وه
هغوی صرف خپلو جنګياليو ته د غيرت خبرې كولې
او هغوی يې نه پرېښودل چې د جنګ نه يا بې زړه
شي او يا و تښتي هغوی به ورته په خپلو
شعرونو كې ويل .
ويها بني عبد الدار
وګورئ ای د عبد الدار د كورنی خلكو (جنډه د
دوی سره وه)
ويها حماة الادبار
وګورئ ای د شا طرف ساتونكو
ضرباً بكل بتار
په هر ډول توره باندې وار كوئ .
دا خبرې دوی د بيرغ پورته كونكو ته كولې او
عامو جنګياليو ته يې ويل :
نحن بنات طارق
نمشي على النمارق
ان تقبلوا نعانق
او تدبروا تفارق
فراق غير وامق
ترجمه : مونږ د ستوريو لورانې يو
مونږ په نازسره په نرمو فرشو باندې ګرځو
كه تاسې مخكې لاړشئ مونږ به تاسې ته غاړې
دركوو
كه وروسته شئ بيا به تاسې له مونږ نه بېلېږئ
داسې بېلتون چې بيا به نه يوځای كېږو .

تر جنګ وړاندې نصيحت

رسول الله ﷺ خپلو ځوانانو ته وويل ترڅو چې تاسې ته امر نه وي شوى تاسې به جنګ نه شروع كوئ پدې غزا كې درسول الله ﷺ شعار امت امت وو كله چې دا تاسې ته وويل شي نو بيا به جنګ شروع كړئ رسول الله ﷺ په خپلو خبرو كې ځوانان په جهاد ور تېز كړل د صبر او استقامت خبرې يې ورته وكولې او په اطمنان سره يې ورته خبرې كولې د جنت او شهادت په اړه يې خبرې وكولې او بيا يې خپله توره را وويسته ويل يې ددې حق به څوك پوره كړي؟

د هرچا دا شوق وو چې درسول الله ﷺ توره په لاس كې واخلي په دوى كې حضرت ابو دجانة ﷺ را وړاندې شو پوښتنه يې وكوله ددې حق څه دى يا رسول الله ﷺ ؟ رسول الله ﷺ ورته وويل چې تردې پورې جنګ پرې وشي ترڅو چې كږه شوې نه وي ده ❽ ورته وويل زه به يې واخلم يا رسول الله ﷺ بيا رسول الله ﷺ خپله توره حضرت ابي دجانة ❽ ته وركړه دهغې تورې په لاستې پورې سره توټه وه ابو دجانة ❽ هغه توټه له تورې نه راخلاصه كړه او په سر باندې يې وتړله ، حضرت ابي دجانة به چې د جنګ په وخت كې سره توټه په خپل سر وتړله نو هرڅوك پوهېدل چې دى به اوس تباهي جوړوي ددې تورې په غوښتونكو كې يو حضرت زبير د رسول الله ﷺ د عمه زوى هم وو هغه فرمايي ما فكر وكاوه چې د رسول الله ﷺ سره زما

د نېږدي خپلولي سره يې توره ماته رانه کړه زه به نن ګورم چې ابو دجانة ددې تورې حق څنګه اداء کوي نو مې څارلو چې پدې وخت کې حضرت ابو دجانة ❽ دهغه زمري په څېر ميدان ته را ودانګل چې ښکار يې ليدلی وي او په ژبه يې دا شعرونه وو .

أنا الذي عاهدني خليلي

ونحن بالسفح لدى النخيل

ألاّ أقوم الدهر في الكيول

أضرب بسيف الله والرسول

ترجمه: زه هغه کس يم چې د خپل ملګري (رسول الله ﷺ) سره مې د خورماوو د باغ سره وعده کړېده چې زه به د صفونو شاته نه پاتې کېږم او جنګېږم به او چلوم د الله او دهغه د رسول توره .

اوپه جنګ باندې را ګډ شو هېڅ يې مخه نشوای نيولی او په کافر به يې چې سترګې لګېدلې نو دهغه آخري لحظه به را رسېدلې وه.

يو وخت کې ما يو مشرک وليدو چې هغه په ميدان کې په زخمي مسلمانانو پسې ګرځېدلو او هغوی به يې په شهادت رسول ما چې په بل اړخ کې ليدل چې د ابو دجانة مخه به د کفارو نه داسې صفا کېده چې سارې نه درلود او حضرت ابو دجانة ❽ د رسول الله ﷺ توره لکه د اسماني تندر داسې چلوله چې د حال په ژبه يې چغې وهلې په چا چې ځان ګران وي د ابو دجانة د مخې نه دې لرې کيږي ... حضرت زبير ❽ فرمايي ما دعا کوله چې الله ①

دی دا مشرک چې په زخميانو مسلمانانو پسې ګرځې د ابو دجانة سره مخامخ کړي دی ❽ فرمايي ما دعا له خولې نه پوره نه وه ويستلې چې قبوله شوه لکه د غيبي باز ابو دجانة دده خوا ته ور ورسېدو اواز يې پرې وکولو هغه سم د مخ اړولو سره په ابو دجانة ❽ باندې وار وکولو او ابو دجانة چې دهغه وار څنګه دفاع وکوله زه يې حيران پاتې کړم ورته مې کتل چې ابو دجانة ❽ خپل تندر وار په هغه کافر باندې ورنازل کړو او له دنيا نه يې رخصت کړو يو څوک وو چې په خپلو چيغو سره يې کفار را پارول او جنګ ته يې هڅول ما وليد چې ابو دجانة په هغه پسې لکه د باز داسې ور ترپ کړل چې توره يې ورته پورته کړه دهغه کس نه چيغه ووتله چې ابو دجانة وکتله چې هغه سړی نه وو هغه د ابو سفيان ميرمن هند بنت عتبة وه نو يې ونه غوښتل چې د رسول الله ﷺ مبارکه توره د يوې ښځې په وينه باندې ککړه کړي او خپل لاس يې ترې ونيولو وار يې پرې ونه کولو زه پوه شوم چې ابو دجانة ❽ په ښه توګه د رسول الله ﷺ د تورې حق اداء کړو .

د جنګ شروع

صفونه چې سره مخامخ شول نو ابو سفيان د خپلو صفونو څخه راووتلو او د مسلمانانو لوري ته يې ورچغه کړه ای د يثرب خلکو محمد زمونږ د تره

زوی دی دهغه سره جنګ کول زمونږ کورنی معامله ده تاسي ځان پکې مه را غورځوئ دهغه سره مونږ مخامخ کېدو ته پرېږدئ ده پدې سره غوښتل چې د انصارو په دماغو کې ور واچوي چې د محمد ﷺ او دمکې د کفارو کورنی جنګ دی لکن صحابه ﷺ لکه د غره داسي ورته ولاړ وو د بلې خوا چې هند او د کفارو نورو ښځو مخکې تېر شوي اشعار د دريا سره ويل دې د مکې د جنګيالیو احساسات را وپارول د کفارو د لښکر عمومي بيرغ د طلحة بن ابي طلحة عبدوي په لاس کې وو د مسخرې په ډول يې مسلمانانو ته ور چغه کړه (داسي څوک شته چې ما ډېر زر دوزخ ته ولېږي او يا زما د لاسه جنت ته لاړشي؟) د الرحيق المختوم د قول له مخې طلحة په اوښ سپور وو چې ميدان ته راغلو دده دې خبرې په ځواب کې حضرت زبير ❽ ور وړاندې شو هغه يې له اوښ نه را وغورځاوه او د يو وار سره يې ختم کړو رسول الله ﷺ چې دده دې واقعې په کتلو باندې ډېر زيات خوشحال شو فرمايل يې : د هر نبي يو حواري وي او زما حواري حضرت زبير ❽ دی .

د طلحه د مړه کېدو سره سم يې ورور عثمان بن ابي طلحة را منده کړه او بيرغ يې پورته کړو او ويې ويل

ان على اهل اللواء حقاً
ان تخضب الصعده او تندقا
د بيرغ په پورته کونکي باندې حق دی

دهغه نيزه دې رنګينه او يا ماته شي.
د جنګ لحظان په سختېدو شول حضرت حمزة ❽ د عثمان بن ابي طلحة په طرف مخ کړو او داسې وار يې پرې وکولو چې د اوږې نه يې تر ګېډې پورې توره پکې ننوتله او ووژل شو بيا ابو سعد بني ابي طلحة را منده کړه او د کفارو بيرغ يې پورته کړو حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ وربانديې د غيشي وار وکولو او په غاړه کې ولګېدو ژبه يې بهر ته را ووتله او مړ شو وروسې د کفارو جنډه د اولني کس زوی مسافح بن طلحة بن ابي طلحه را پورته کړه دهغه مقابلې ته عاصم بن ثابت ❽ ور وړاندې شو او هغه يې قتل کړو بيا دده ورور کلاب بن طلحة بيرغ را پورته کړو هغه د حضرت زبير ❽ په نيزه باندې ووژل شو تردې ځايه پورې که مونږ وګورو نو د عبد الدار کورنۍ د خپل اخري وس پورې خپلې وظيفې ته وفاداري وښوده چې د يوه کوره يې وربانديې شپږ قربانيان ورکړل ددی کورنۍ د ختمېدلو نه وروسته د بني عبد الدار نه يو بل کس ارطاه بن شرحبيل د کفارو بيرغ پورته کړو د حضرت علي ❽ له لاسه ووژل شو د يوه قول له مخې ارطاه د حضرت حمزة ❽ په لاس ووژل شو وروسې هغه کس چې د کفارو بيرغ يې پورته کړو شريح بن قارظ وو هغه د قزمان په لاس ووژل شو او د عبد الدار دوه نور ځوانان چې د کفارو د بيرغ ساتنه يې کوله ابو زيد او شرحبيل دا هم د قزمان په لاس

ووژل شول (قزمان څوک وو؟ قصه يې را روانه ده .)

د کفارو بيرغ زمکې ته ورسېدو

د کفارو بيرغ پورته کونکي لس کسان ووژل شول ددېنه وروسته د کفارو بيرغ زمکې ته ورسېدو د بني عبد الدار يو غلام وو صواب چې خپل مالکان يې په داسي شرمېدلي حال کې ټول مړه وليدل نو په جذباتو کې راغلو او را ټوپ يې کړل د کفارو بيرغ يې پورته کړو دده دا جذبه ددې امله عجيبه وه چې دی غلام وو او اوس يې وليدل چې مالکان يې هم ټول ختم شول نو ددېنه وروسته به دی ازاد وو لکن ده بيا هم د خپلو مالکانو سره وفا وکوله او دهغوی په قدم پسي روان شو ده تر هغه وخته پورې جنډه پورته کړې وه چې دواړه لاسونه يې پرې کړل شول بيا يې هم په سر او د نور ځان په مرسته بيرغ زمکې ته نه پرېښودو چې د مسلمانانو وار پرې ورغلو سر يې ترې قلم کړل شو او بيرغ په زمکه و غورځېدو خلک وربانديې ختل او بيا داسي څوان پيدا نشو چې دکفارو جنډه را پورته کړي .

د حضرت حمزة ❽ شهادت

حضرت اسد الله و اسد رسوله حمزة ❽ په شهادت ورسول شو وحشي چې د جبير بن مطعم غلام وو دهغه تره په بدر کې وژل شوی وو کله چې د احد د جنګ خبره وشوه نو ده ته يې خپل مالک وويل که د زما د تره په بدل کې د رسول الله ﷺ تره حمزة په شهادت ورسولو نو ته به ازاد شي وحشي دا شرط قبول کړو او د جنګياليو سره روان شو دا په نيزه باندې په نښه ويشتلو کې تکړه وو کله چې جنګ ګرم شو دده له بل چا سره کار نه وو صرف په حضرت حمزة ❽ پسې ګرځېدو چې پيدا يې کړو هغه په جنګ باندې مصروف وو ده ورته انتظار وکاوه چې هغه ورته را نېږدې شو په نيزه باندې يې وويشتو او شهيد يې کړو وحشي څرنګه چې غلام وو او د خپلې ازادي لپاره يې دا کار کړی وو نور يې د جنګ سره څه کار نه وو او بېرته د جنګ له ميدان څخه ووتلو د الله ① او دهغه د رسول ﷺ زمری شهيد شو لکن تردې وخته پورې يې هم تر خپلې برخې نه زيات کار کړی وو الله ① يې دې په جنت کې درجې لوړې کړي او زمونږ له لوري دې ورته اجر ورکړي.

حضرت حمزة ❽ په بدر کې د هند بنت عتبة پلار وژلی وو هغه راغله او د حضرت حمزة ❽ ګېډه مبارکه يې وشکوله او زړه يې ترې را وويستو خوله يې پرې ولګوله او دده ❽ مبارک نه يې غوږونه او پوزه هم پرې کړل رسول الله ﷺ چې کله

خپل تره په داسې حالت کې وليدو ډېر زيات ورته خفه شو ويل کيږي چې وحشي کله مسلمان هم شو نو بيا به رسول الله ﷺ ورته ويل چې زما مخې ته ډېر مه راځه ځکه تره مې (حضرت حمزة 8) په ما باندې ډېر زيات ګران وو .

په جبل الرماة باندې د مېشتو کسانو فائده

خالد بن وليد د خپل ډلګي سره چې ټول په اسونو سپاره وو درې ځله د شا له خوا په مسلمانانو باندې د راتلو کوښښ وکولو لکن هغه پنځوسو کسانو په پوره مېړانه د هغوی مقابله وکوله او هغوی يې په خپل مقصد کې ناکام کړل .

د کفارو تېښته شروع کول

آخر هغه وخت راغلو چې د کفارو لښکر د جنګ نه مخ واړولو او ماتې يې له هغه ماتې کمه نه وه چې په بدر کې يې خوړلې وه ټولو جنګياليو په تېښته سره منډه کړه او هغه ښځې چې دوی يې پر جنګ ور تېزول هغوی هم منډه کړه په صحيح بخاري کې د حضرت براء بن عازب نه روايت دی چې ښځو خپلې پښې له پايڅو را لوڅې کړې وې او منډې يې وهلې چې د هغوی پانزيبونه ښکاره کېدل مسلمانانو د مکې د لښکر په کسانو پسې منډې

وهلې او له بله پلوه يې ددوی نه پاتې مالونه او غنيمتونه هم را ټولول

په جبل الرماة کې د ناستو کسانو خپل ځای پرېښودل

په جبل الرماة باندې مقررو خلکو چې وليدل کفار په تېښته کې دي او د غنيمتونو د ټولولو وخت دی نو هغوی د رسول الله ﷺ هغه خبره هېره کړه چې رسول الله ﷺ ورته ويلي وو تاسې به په هېڅ صورت خپل ځای نه پرېږدئ او دوی چيغې کړې غنيمت غنيمت او د ميدان خوا ته را روان شول په هغه ځای کې ددوی مشر عبد الله بن جبير ورته په چغو چغو وويل : ای د الله بندګانو مه ځئ د رسول الله ﷺ خبره په ياد کړئ هغه فرمايل تاسې به په هېڅ حالت کې دا ځای نه پرېږدئ دوی ورته وويل اوس خو زمونږ ملګرو ميدان وګټلو د جنګ ميدان خو اوس خالي شو اوس صرف د غنيمتونو د ټولولو وخت دی ددې خبرې سره څلوېښت کسان د ميدان په لور روان شول او حضرت عبد الله بن جبير د ۹ نورو صحابه ؓ سره په هماغه ځای کې پاتې شول خالد بن وليد چې د همدې صحنې په انتظار وو د جبل الرماة له شا نه يې په مسلمانانو حمله وکوله راتلونکې نقشه لږ مطالعه کړئ .



هغه لاره چې په کومه باندې خالد بن ولید په مسلمانانو حمله وکوله

د حضرت عبد الله بن جبیر ❽ سره چې صرف نه کسان نور وو نو دا لس کسان یې همدلته په شهادت ورسول الله تعالی یې په جنتونو کې مرتبې لوړې کړي .

او د میدان خوا ته چې راغلل نو د مسلمانانو چې مخه یې ټوله د جنګ د میدان خوا ته وه په بې فکری کې د خالد بن ولید کسانو وربانديې حمله وکوله او سخت حالت را مینځ ته شو لکه مخکې چې تېر شول د کفارو د لسو کسانو د وژل کېدلو نه وروسته بیا چا د کفارو بیرغ را پورته نه شوای کړی اوس د کفارو د بني حارث قبیلې یوې ښځې عمره بنت علقحه را منډه کړه او د کفارو بیرغ یې له زمکې نه را پورته کړو او ویې ښورولو کفارو چې شا ته وکتل فکر یې وکولو

چې تر اوسه خو لا د تېښتې وخت نه دی نو یې بېرته مخ را واړولو او حمله یې شروع کړه له مخې نه د تښتېدلیو کفارو حملې او له شا نه د خالد بن ولید د کسانو ګذارونو مسلمانان حیران کړل چې کومې خوا ته مخ واړوي کله چې په جنګ کې د جنګ د قائد خبره په زمکه و غورځیږي اکثر یې دا نتیجه وي او بیا چې قائد پیغمبر هم وي نو پدې وخت کې د قائد ﷺ سره دوه لارې وې یا خو خپل ځان پټ کړي او کفارو ته دده ځای معلوم نه شي او یا خو خپل ځان ښکاره کړي چې د مسلمانانو حوصله لوړه شي رسول الله ﷺ خپل شجاعت ښکاره کړو او اواز یې وکولو ای د الله ① بندګانو زما خواته راشي ! دا اواز لکه چې مسلمانانو واورېدو همداسې کافرانو هم واورېدو نو ټولو همغه خوا ته د جنګ مخه کړه چېرته چې رسول الله ﷺ وو پدې وخت کې جنګ بل شکل اختیار کړو کفارو هغه ځای محاصره کول غوښل چېرته چې رسول الله ﷺ وو او مسلمانان صرف د دفاع په حالت کې وو او کفار یې نه پرېښودل چې هغه ځای ته ورسیږي چېرته چې رسول الله ﷺ دی دواړه ډلې ډېرې سختې سره ګډې شوې حتی چې د حضرت حذیفه بن یمان ❽ پلار یمان د مسلمانانو په لاس باندې شهید شو حضرت حذیفه ورته چغې وهلې لکن ترڅو چې هغوی په خبره پوهېدل هغه شهید شوی وو

د رسول الله ﷺ ځای ته د کفارو نیزدیکت

د رسول الله ﷺ ځای ته کفار ډېر زيات ور نږدې شول اوه کسان چې د رسول الله ﷺ ساتنه يې کوله په شهادت ورسېدل حضرت ابو دجانة ؓ راغلو په رسول الله ﷺ باندې ټيټ ولاړ وو او دهغه ساتنه يې کوله او خپل ځان يې هغه ﷺ ته سپر کړی وو په داسې حالت کې چې غيشې يې په شا باندې لګېدل لکن بيا هم الله تعالی په داسې حالت کې چې وينې يې زمکې ته رسېدلې دده پښې ټينګې کړې وې .

صحابه چې په جنګ ډېر زيات ګرم شول رسول الله ﷺ يوازې پاتې شو اواز به يې کولو ای فلانيه زما خوا ت راشه ای فلانيه زما خوا ته راشه زه رسول الله ﷺ يم کفار راغلل تردې چې عتبه بن ابي وقاص په رسول الله ﷺ باندې د تيږې وار وکولو تيږه د رسول الله ﷺ مخ مبارک ته ور ورسېده او پدې سره يې د ښي طرف شکته خواته رباعي غاښ هم شهيد شو عبد الله بن شهاب بل کافر وو د رسول الله ﷺ په مخ باندې وار وکولو ابن قميئة الليثي الکناني چې کله حضرت مصعب ابن عمير د رسول الله ﷺ ساتندوی شهيد کړو (په شکل او صورت کې رسول الله

ﷺ ته ډېر ورته وو) ده فکر وکاوه چې رسول الله ﷺ مې شهيد کړو نو يې منډه کړه او چغه يې کړه قتلت محمدا (ما محمد مړ کړو)

د رسول الله ﷺ د شهادت اوازه

پدې وخت کې يو اواز پورته شو چې ويل يې محمد قتل شو ... دې اواز د مسلمانانو زړونه ډېر مات کړل دا اواز چا وکولو ؟ دا اواز شيطان کړی وو حضرت عبد الله بن زبير ❽ فرمايي ما ددې اواز کونکی وليدو دوه لوېشتې کس وو ما ورته وويل ته څوک يې؟ ده راته وويل ازب يم ما ورته وويل چې ازب څه شی دی؟ ده راته وويل د پېريانو له ډلې .

ابي ابن خلف الجمحي رسول الله ﷺ ته را مخه کړې وه قسم يې کړی وو چې رسول الله ﷺ به وژني رسول الله ﷺ ته را روان وو چې صحابه ؓ وو ورته وويل مونږ به يې مخه ونيسو ده ﷺ ورته ويل نه دا ماته را پرېږدئ رسول الله ﷺ نيزه ور خوشې کړه هغه صرف په معمولي توګه باندې ور باندې و ګرول شو او دهغه نه به يې چيغې وهلې چې بېرته مکې ته ستانه شول په لارو کې يې ډېر زيات فرياد کولو خلکو ورته ويل ته ولې دومره فرياد کوې د خلکو لاسونه او پښې پرې دي دومره فرياد نه کوي لکه ته يې چې کوې ده ويل زه د پيغمبر

په وار لګېدلی یم په ما چې کوم تکلیف دی دا په بل چا باندې نشته یوه ورځ وروسته په لاره کې مړ شو .

د مسلمانانو زړونه له جنګ نه ماتېدل

د مسلمانانو زړونه هغه وخت د جنګ نه مات شول چې د رسول الله ﷺ د شهادت اواز خپور شو حضرت انس بن النضر ؓ په یو څو کسانو باندې تېرېدو چې دهغوی زړونه مات وو او لاسونه یې له جنګ نه نیولي ولاړ وو ده ؓ تري پوښتنه وکوله چې ولې داسې ولاړ یاست ؟ دوی ورته ویل رسول الله ﷺ شهید شو ده ورته وویل نو بیا تاسې دهغه نه وروسته ژوند څه کوئ راځي په هغه څه باندې تاسې هم شهیدان شي په کوم شي چې هغه ﷺ شهید شو ددې خبرې سره یې بېرته جنګ ته مخه کړه او د حضرت انس بن النضر ؓ بدن مبارک د زخمونو له امله داسې شوی وو چې نه پېژندل کېدو صرف خور یې د ګوتو له سرونو څخه و پېژندلو .

حضرت ثابت بن رحداح ؓ په لوړ اواز سره چغه کړه ویل یې : ای مسلمانانو! که محمد لاړو د خپل رب خوا ته نو الله تعالی ژوندی دی هغه نه مړ کیږي پاڅېږئ د الله لپاره جنګ وکوئ ددې اواز آورېدو سره د انصارو یو ټولګی یو ځای شول او

په شریکه یې د خالد بن ولید په کسانو باندې حمله وکوله سره ددې چې دا کسان خو ټول شهیدان شول لکن د خالد بن ولید په کسانو کې یې هم سستي را وسلته دهغوی د مقاومت حوصله یې څه نا څه ماته کړه

د رسول الله ﷺ د حفاظت لپاره ۹ کسان صحابه ولاړ وو ددوی لوی مقصد دا وو چې په هر قیمت باندې رسول الله ﷺ وساتي او که ددې مقصد په لاره کې ددوی سرونه او ځانونه ځي نو دوی ورته په هر صورت تیار وو کله چې د خالد بن ولید کسانو د رسول الله ﷺ په ځای باندې خپلې حملې ور تیزې کړې نو په اول سر کې یې همدې ۹ کسانو مقابله وکوله او په دوی کې اوه کسان یوه په بل پسې شهیدان شول صرف حضرت طلحة بن عبید الله او سعد بن ابي وقاص پاتې شول د رسول الله ﷺ په ژوند کې ډېره نازکه لحظه پدې وه چې یوې خواته د خالد بن ولید ۲۰۰ جنګیالي او بلې خوا ته د رسول الله ﷺ سره صرف ۹ کسان وو او په هغوی کې اوس صرف ۲ کسان پاتې وو .

سره ددې چې د جنګ دا لحظې په مسلمانانو باندې ډېرې سختې وې لکن بیا هم مسلمانانو خپل استقامت ښکاره کړو او چاته چې الله شهادت لیکلی وو هغوی شهیدان شول او څوک چې ژوندي پاتې شول تر خپل آخري وس پورې وجنګېدل په داسې وخت کې چې د کفارو د غیشو مخه ټوله د رسول الله ﷺ لوري

ته وه صحابه وو خپل ځانونه د غيشو په مخونو کې درولي وو د هر يو صحابي قصه عجيبه ده د هر يو شهيد ياد په کار دی چې په سرو زرو باندې وليکل شي .

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايي ماته ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه فرمايل د احد په ورځ خلک ټول له رسول الله ☸ نه خپاره شول زما يو دم د رسول الله ☸ لوري ته ور فام شو چې ورته ومې کتل صرف يو کس د رسول الله ☸ په مخ کې جنګېدو او دده څخه يې دفاع کوله ما له ځان سره وويل دا به ابو طلحة ❽ وي زما د مور او پلار ستا نه قربان شي ابو طلحة ❽ پدې وخت کې ابو عبيدة بن الجراح ماته داسې منډه را اخستې وه لکه مارغه چې را روان وي او تر ما پورې را ورسېدو مونږ دواړو په منډه د رسول الله ☸ خواته ورغلو ومو کتل حضرت طلحة ❽ د رسول الله ☸ په وړاندې شهيد پروت وو .

حضرت ابو بکر صديق ❽ فرمايي د رسول الله ☸ مخ مبارک زخمي شو او د وسپنې وړې وړې ټوټې د رسول الله ☸ په مخ مبارک کې پاتې وې ما هغه ترينه را وېستل غوښتل پدې وخت کې ابو عبيدة ابن الجراح ❽ راغلو ويل يې د الله لپاره ابو

بکر دا خدمت ماته پرېږدئ بيا زه ترې وروسته شوم حضرت ابو عبيدة ابن الجراح 8 هغه د وسپنې ټوټې په خپلو غاښونو سره نيولې او د رسول الله ﷺ له مخ مبارک نه يې را ويستلې .

د خپل ورور د قتل کوښښ کول

هغه کس چې د رسول الله ﷺ غاښ يې شهيد کړو عتبه بن ابي وقاص د حضرت سعد بن ابي وقاص سکه ورور وو دده په زړه کې دا ارمان وو چې دده نه د رسول الله ﷺ انتقام په خپله واخلي لکن دا ارمان يې پوره نه شو کله چې حضرت حاطب بن ابي بلتعة د رسول الله ﷺ په مخ باندې وينه وليده هرڅه يې پرېښودل او په عتبه پسې يې په داسې حالت کې ورمنډه کړه چې داسې ښکاره کېدو لکه د احتياط په نوم چې دی کوم شی بالکل نه پېژني سره ددې چې عتبه په آس هم سپور وو لکن حضرت حاطب پسې ور ورسېدو او دهغه په وژلو باندې بريالی شو .

د جګړې پای

بالآخره د جنګ آخري لمحې را ورسېدلې او دواړه ډلې يو له بل نه بېلې شوې او جګړه پای ته ورسېده ابو سفيان غوښتل چې نور د جنګ له ځای نه روان شي په زوره يې د مسلمانانو لښکر ته ور چغه کړه ويل يې په قوم کې محمد شته؟ په قوم کې ابو قحافه شته؟ په قوم کې عمر شته؟

رسول الله ﷺ ويل خواب مه وركوئ بيا يې خپل قوم ته په خوشحالئ كې وويل چې دا ټول وژل شوي دي څكه دوى خواب نه راكوي پدې وخت كې حضرت عمر ؓ خپل ځان ټينګ نه شواى كړى ورته چغه يې كړه دخدا دشمنه درواغ دي وويل دا ټول ژوندي دي .
بيا هغه وويل په ياد يې لرئ دا ورځ ستاسې د بدر د ورځې په بدل كې شوه رسول الله ﷺ ورته وويل خواب يې وركړئ حضرت عمر ؓ پخپله يا په بل قول د رسول الله ﷺ له خولې ورته وويل : هېڅكله هم برابر نه دي ستاسې مړه په اور كې دي او زمونږ شهيدان په جنت كې هغه وويل : زمونږ سره عزى شته او ستاسې عزى نشته رسول الله ﷺ وويل خواب وركړئ صحابه ؓ وويل څه ورته وو ايو؟ رسول الله ﷺ ورته وويل ورته وو اياست : زمونږ مولا شته ستاسې مولا نشته .

كله چې د مكې لښكر روانېدو نو يې مسلمانانو ته وويل چې په راتلونكې كال كې به په بدر كې بيا سره مخامخ كېږو مسلمانانو ورته وويل صحيح ده د راتلونكې كال لپاره بيا د بدر په مقام باندې د جنګ وعده وشوه او كفار روان شول د مكې لورې ته يې مخه كړه .

د شهيدانو لټون

رسول الله ﷺ صحابه وو ته وويل څوک به ماته حال راوړي چې سعد بن الربيع په څه حال کې دی شهيد شوی دی او که ژوندی دی که ژوندی وي زما سلام ورته ووایاست او پوښتنه یې وکوئ چې څنګه دی؟ حضرت محمد بن مسلمة ؓ د يو قول له مخې زيد بن ثابت ؓ وويل زه به يې احوال درته راوړم هغه لاړو او سعد بن الربيع يې په داسي حالت کې پيدا کړو چې زخمي وو لکن تراوسه پوري ژوندی وو ورته يې وويل رسول الله ﷺ درته سلام ويل او پوښتنه يې دي کوله چې څنګه يې؟ هغه ورته وويل زما د لوري نه ورته سلام ووايه او ورته ووايه چې ماته د جنت بوی را رسيږي او تول قوم ته زما له لوري نه سلام ووايه او ورته ووايه چې د الله ﷻ په وړاندې به بيا ستاسي هيڅ عذر نه وي که تاسي ژوندي وئ او رسول الله ﷺ څه تکليف وليدو .

رسول الله ﷺ راغلو خپل تره حضرت حمزة ؓ يې په ميدان کې پيدا کړو چې ګيډه يې څيرل شوي وه او پوزه او غوږونه هم تر ينه پري شوي وو رسول الله ﷺ وويل تردې نه سخت وخت ما نه دی ليدلی لکه مخکې چې تېر شول رسول الله ﷺ دهغه په ليدلو باندې ډير زيات خفه شو بيا يې ويل : جبريل ؑ

ماته راغلو راته يې وويل د حمزة ⑧ نوم د اوو اسمانونو څخه پورته ليکل شوی دی (حمزة بن عبد المطلب اسد الله و اسد رسوله)
په خور صفية بنت عبد المطلب باندې ډېر زيات گران وو د شهادت په وخت کې يې هغه راغله غوښتل يې چې ويې گوري رسول الله ﷺ صحابه وو ته وويل چې مه يې ورښکاره کوئ رسول الله ﷺ هم ورته وويل څه ته لاړه شه هغه مه گوره لکن دې وويل ولې؟ زه خبره شوې يم چې زما د ورور شکل خراب کړل شوی دی او دا د الله لپاره شوی دی زه به صبر وکوم چې کله يې وليد دعا يې ورته وکوله بښنه يې ورته وغوښته بېرته تري روانه شوه بيا امر وشو چې دفن يې کړئ .

حضرت عمرو بن جموح ⑧

حضرت عمرو بن جموح ⑧ په پښه باندې گوډ وو کله يې چې د جهاد اواز واورېدو نو ده ويل زه هم څم څلور زامن يې وو هغوی ورته وويل پلاره مونږ بس يو چې لاړ شو ته الله ① له جهاد نه معاف کړی يې ته پاتې شه هغه رسول الله ﷺ ته راغلو ورته ويل يې زه جهاد ته تلل غواړم لکن زما زامن ما نه پرېږدي .. رسول الله ﷺ ورته وويل الله تعالى ته له جهاد نه معاف کړی يې ده وويل زه غواړم چې پدې گوډه پښه په جنت کې و گرځم رسول الله ﷺ يې زامنو ته وويل مه يې منع کوئ

کېدای شي الله تعالی ورته شهادت نصيب کړي په احد کې يې شرکت وکولو او شهادت يې نصيب شو رسول الله ﷺ چې هغه وليدو په ميدان کښې شهيد پروت وو ورته يې وکتل او ويې فرمايل لکه زه چې ده ته گورم او دده پښه جوړه ده او دی گرځي .



نسيبه بنت كعب ام عمارة المازنية (رض)

هغه ښځه وه چې په احد کې يې د مسلمانانو زخميانو د خدمت لپاره شرکت کړی وو لکن کله چې د رسول الله ﷺ د سر خطر زيات شو هغې مبارکې هغه لوښي وغورځولو چې په کوم سره يې زخميانو ته اوبه ورکولې او توره يې را واخيسته او په څوانمردي سره يې د رسول الله ﷺ نه دفاع شروع کړه رسول الله ﷺ فرمايي : ما داسې څه نه وو ليدلي کوم مې چې په احد کې د ام عماره نه وليدل ما به چې ښي طرف ته وکتل ام عمارة به مې وليده چې لما به يې دفاع کوله او چې به مې چپ طرف ته وکتل نو ام عماره به مې وليده چې لما به يې دفاع کوله .

د جنګ په حالت کې رسول الله ﷺ ورته وويل دومره خوک کولی شي لکه ته چې کوې ای ام عماره لما څخه وغواړه څه غواړې؟ دې ورته وويل په جنت کې ستا ملګرتيا .. ده ﷺ ورته وويل تاسې ټول په جنت کې زما ملګري ياست .

حضرت ام عمارة رضی الله تعالی عنها دهغه کس سره په جنګ کې مخامخ شوه څوک چې رسول الله ﷺ ته ډېر نېږدې راغلي وو او رسول الله ﷺ يې زخمي کړی هم وو او اواز يې هم کړی وو چې ما محمد قتل کړو دا عمر بن القئيمه وو په هغه باندې يې درې هلاکونکي ګذارونه وکول لکن دهغه د ښه قسمته

هغه دوه غبرګې زغرې آغوستې وې ددې ګذار وربانده اثر ونه کولو بيا هغه لعين په دې رضى الله تعالى عنها باندې ګذار وکولو او زخمي يې کړه پدې وخت کې په هغه باندې د بلې خوا نه حمله وشوه دهغه مخه نورو کسانو ته شوه او د ام عمارة رضى الله تعالى عنها مخه هم د نورو جنګياليو خوا ته واوښته .

د شهيدانو تدفين

ځينو مسلمانانو غوښتل چې خپل شهيدان يوسي او په مدينه منوره کې يې دفن کړي او ځينو روان کړي هم وو لکن رسول الله ﷺ امر وکولو چې دوى همدلته دفن کوو چېرته چې شهيدان شوي دي بيا په هغه کسانو پسې هم اواز وشو او بېرته را وګرځول شول .

بې سارې قرباني او غيرت

رسول الله ﷺ امر وکولو دوه دوه شهيدان به يې په يوه ټوټه کې تاوول او د خپلو وينو سره به يې خښول پوښتنه به يې کوله چې د چا قران ډېر ياد وو؟ چې کوم يو به ورته په نښه کېدو هغه به يې مخکې کېښودلو بيا يې شهيدانو ته ويل د قيامت په ورځ به زه په تاسې باندې ګواه يم او څوک چې د الله په لاره کې زخمي کيږي د قيامت په ورځ به په داسې حالت کې را پورته کيږي چې له زخمونو به يې ويني څاخي .

د بني دينار قبيلې يوه ښځه وه چې وروره پلار او خاوند يې درې واړه په احد کې شهيدان شوي وو کله چې چا ورته د دريو واړو کسانو د شهادت خبر ورکړو دې پوښتنه وکوله چې رسول الله ﷺ څنګه دی؟ خلکو ورته وويل چې هغه لله الحمد بالکل ښه دی دې مبارکې رضی الله تعالی عنها وويل ماته يې را وښيئ چې زه ورته و ګورم .. چا ورته اشاره وکوله چې وئې ليدو ورته ويل يې ستا نه بغيرهر غم وړوکی دی (الله ① د ستا غم نه را ويني) .

قزمان

سره ددې چې قزمان ډېر په غيرت سره جنګېدو کله چې د رسول الله ﷺ په وړاندې هغه ياد شو چې داسې په مېړانه سره جنګ کوي (د يو قول له مخې قزمان آته کسان د دريو بيرغ پورته کونکو په شمول وژلي وو) نو رسو ل الله ﷺ د معجزې په ډول وويل : هغه دوزخي دی .
يو څه وخت وروسته هغه زخمي شو او مسلمانانو د نورو زخميانو سره محفوظ ځای ته را نقل کړو څرنګه چې ده په جنګ کې ښه څوانمردي ښکاره کړې وه نو مسلمانان به ورته را تلل او دده دحال پوښتنه به يې کوله کله چې مسلمانان ورته راغلل نو يو ويل : د جنګ په ميدان کې قزمان

ښه کار وکولو او اوس به د جنت لايق وي ده دا خبره واوريده ويل يې : ماته د جنت ضرورت نشته دا خو زه صرف د قومي ورور ګلوي په خاطر جنګېدم که زما سره د خپل قوم د عزت فکر نه واى زه به د جنګ نه ډېر لرې پاتې شوى وم.
اوس معلومه شوه چې هغه د عقيدې نه مسلمان نه بلکه منافق وو اوس خلکو ته د رسول الله ﷺ خبره ور په زړه شوه چې هغه ﷺ فرمايلي وو : هغه دوزخي دى يو څه وخت وروسته يې د زخمونو درد ته صبر ونشو او ځان يې پخپله حلال کړو او خودکشي يې وکوله .

حضرت حنظله بن ابي عامر ؓ

د حضرت حنظله بن ابي عامر ؓ د واده لمړى شپه وه په سحر کې اواز شو چې غزا ته تلل دي په سحر وختي کې ووتلو هغه هم په احد کې شهيد شو څرنګه چې په هغه باندې د جنابت غسل پاتې وو نو رسول الله ﷺ ورته غسل ورکول غوښتل لکن ملائکو وويل دده غسل به مونږ ورکړو بيا همداسې وشول او ددې امله ده ؓ ته غسيل الملائکه هم ويل کيږي .

حضرت خيثمة ❽

حضرت خيثمة ❽ هغه کس وو چې د بدر په وخت کې يې د وتلو په اړه د خپل زوی سره قرعه اندازي کړې وه زوی يې تري کټلې وه هغه بدر ته تللی او هلته شهيد شوی وو (قصه يې ددې کتاب نه په وړاندې کتاب کې تېره شوېده) د احد نه وړاندې يې خوب ليدو چې زوی يې ورته ويل : لما سره چې الله وعده کړې وه هغه هر شی ما ته را ورسېدل را څه راشه په جنت کې زمونږ ملګری شه .. رسول الله ☸ ته راغلو ويل يې زه غواړم چې د خپل زوی سره د جنت ملګری شم اوس مې عمر هم زيات شوی دی ای رسول الله ☸ ماته دعا وکوه چې شهادت مې نصيب شي په غزوة احد کې يې په پوره مېړانه سره شرکت وکولو الله ① يې شهادت نصيب کړو الله ① يې دې مرتبې لوړې کړي .

حضرت عبد الله بن جحش ❽

حضرت عبد الله بن جحش ❽ د احد نه په يوه ورځ وړاندې ويل : اى الله زه په تا باندې قسم كوم چې زه به سبا د دښمن سره مخامخ كېږم هغوى به ما وژني او زما ګېډه به څېرې كوي زما پوزه او غوږونه به غوڅوي د قيامت په ورځ به زه لتا سره په همداسې حالت كې مخامخ كېږم ته به رانه پوښتنه كوې دا ولې؟ زه به درته وايم ستا په لاره كې ... د احد په غزا كې شهيد شو او كفارو پوزه او غوږونه ترې پرې كړي وو او ګېډه يې څيرلې وه .

الاصيرم

الاصيرم هغه كس وو چې د احد په غزوة كې په اسلام مشرف شو او په جنګ ور ګډ شو چا ته دده په اړه معلومات نه وو د بني اشهل قبيلې خلك راغلل او د جنګ په ميدان كې يې خپل شهيدان كتل دى په زخمي حالت كې پروت وو چا ويل : دا خو اصيرم دى ... دا خو له مونږ نه په داسې حالت كې پاتې شو چې د اسلام نه يې انكار كولو دلته څه كوې؟ چا ترې پوښتنه وكوله ده وويل په الله ①او دهغه په رسول ❁ باندې مې ايمان راوړو او توره مې راواخيسته تردې چې زخمي شوم ... په همدې وخت كې يې ساه وركړه او شهيد شو

رسول الله ﷺ ته چې دده په اړه خبره وشوه هغه ﷺ وفرمايل : هغه جنتي دى .

مخيرق

مخيرق يهودي وو نورو يهودو ته يې وويل : د رسول الله ﷺ مرسته په تاسي لازمه ده تاسي دهغه مرسته نه كوئ؟ دوى ورته وويل نن د هفتې ورځ ده (يهود د هفتې په ورځ له جنګ نه منع وو) ده ورته وويل هفته نشته لاړو خپله توره يې را واخيسته او په احد كې تر خپل آخري تنفس پورې و جنګېدو رسول الله ﷺ يې په اړه وويل په ټولو يهودو كې غوره هم دى دى .



د احد شهيدان

د احد په غزوة کې ۷۰ کسان صحابه شهيدان شول چې نومونه يې د خپل کتاب لپاره تبرک گنم او ستاسي فام ورته را اړم .

حمزة بن عبد المطلب ❽

حنظله بن أبي عامر ❽

مصعب بن عمير ❽

عبد الله بن عمرو بن حرام ❽

عمرو بن الجموح ❽

خارجة بن زيد ❽

سعد بن ربيع ❽

النعمان بن مالك ❽

عبدة بن الحسحاس ❽

مالك بن سنان ❽

شماس بن عثمان المخزومي ❽

سهل بن قيس ❽

عمرو بن معاذ ❽

عبد الله بن جبير بن النعمان ❽

عمرو بن معاذ بن النعمان ❽

الحارث بن أنس بن رافع ❽

عمارة بن زياد بن السكن ❽

سلمة بن ثابت بن وقش ❽

عمرو بن ثابت بن وقش ❽

رفاعة ابن وقش ❽

اليمان أبو حذيفة بن اليمان رضي الله عنهما په خطا کې د مسلمانانو په وار باندي شهيد کړل شو

صيفي بن قيظي ❽

الحباب بن قيظي ❽

عباد بن سهل ❽

عبد الأشهل إياس بن أوس بن عتيك بن عبد الأعلم ابن زعوراء بن جشم ❽

عبيد بن التيهان ❽

أبو سفيان بن الحارث بن قيس بن زيد بن ضبيعة ❽

أنيس بن قتادة ❽

خيثمة أبو سعد ❽

عبد الله بن سلمة ❽

سبيق بن حاطب بن الحارث بن هيشة ❽

أوس بن أرقم بن زيد بن قيس بن النعمان بن ثعلبة بن كعب ❽

مالك بن سنان بن الأبجر أبو أبي سعيد الخدري ❽

سعد بن سويد بن قيس بن عامر بن عمار بن الأبجر ❽

عتبة بن ربيع بن رافع بن معاوية بن عبيد بن ثعلبة ❽

ثعلبة بن سعد بن مالك بن خالد بن نميلة ❽

حارثة بن عمرو ❽

نفث بن فروة بن البدي ❽

عبد الله بن ثعلبة ❽

قيس بن ثعلبة ❽

طريف الجهيني ❽

ضمرة الجهيني ❽

نوفل بن عبد الله ❽

العباس بن عبادة بن نضلة ❽

النعمان بن مالك بن ثعلبة بن غنم ❽

مجذر بن ذياد ❽

عنترة مولى بني سلمة ❽

رفاعة بن عمرو ❽

خلاد بن عمرو بن الجموح ❽

المعلى بن لوذان بن حارثة بن رستم بن ثعلبة ❽

ذكوان بن عبد قيس ❽

عمرو بن قيس ❽

قيس بن عمرو بن قيس ❽

سليط بن عمرو ❽

عامر بن مخلد ❽

أبو أسيرة بن الحارث بن علقمة بن عمرو ابن مالك ❽

عمرو بن مطرف بن علقمة بن عمرو ❽

أوس بن حرام ❽

أنس بن النضر بن ضمضم ❽

قيس بن مخلد 8

كيسان مولى بني النجار 8

سليم بن الحارث 8

النعمان بن عمرو 8

وهب بن قابوس 8

الحارث بن عقبة بن قابوس ابن أخ وهب بن قابوس 8

عبد الله بن جحش 8

سعد مولى حاطب 8

شماس بن عثمان بن الشريد 8

عبد الله ابن الهبيت 8

عبد الرحمن بن الهبيت 8

امام ابن قيم رحمه الله د احد غزا مونږ ته لاندې لارښونې کوي .

- کله چې جهاد ته ملا وتړل شي بيا تري وروسته کېدل نه دي په کار .
- مسلمانانو ته چې کفار اخطار ورکړي په مسلمانانو باندې ضروري نه ده چې خامخا دې مخې ته ور وزي بلکه دوی ته مناسبه ښکاره کېده دوی پاتې کېدلی شي چې هغه ورپسې راشي او دوی به ورسره په خپلو لارو او کوڅو کې و جنګيږي .
- اسلامي امير به هغه کسان چې کشران وي او د جنګ پوره استعداد پکې نه وي له خپل لښکر


نه تولوي او هغوی ته به اجازه نه ورکوي چې په جنګ کې شرکت وکوي .

- که مسلمانې ښځې د مجاهدينو علاج او د زخميانو د تداوي لپاره ځي نو تلی شي .
- ځان ته د شهادت سوال کول روا دي دا داسې نه دي لکه څوک چې د ځان لپاره مرګ غواړي هغه منع دی حضرت عبد الله بن جحش ❽ د ځان لپاره د شهادت دعا کوله .
- څوک چې خپل ځان پخپله ووژني هغه د اهل النار څخې دی لکه قزمان چې خپل ځان پخپله قتل کړو.
- شهيد ته به غسل او کفن نه ورکول کيږي بلکه د خپلو وينو سره به دفن کيږي .
- د شهيد په اړه سنت طريقه داده چې په هغه ځای کې دفن کړل شي چېرته چې شهيد شوی وي .
- هغه کسان چې الله تعالی جهاد ته له وتلو نه معاف کړي وي او معذور وي د مثال په توګه ګوډ وي، ړوند وي يا بل عذر وي پرې خو که بيا هم وتل غواړي نو وتلی شي لکه حضرت عمرو بن الجموح سره ددې چې ګوډ وو رسول الله ☸ ورته د وتلو اجازه کړې وه .
- کله چې د حذيفه ❽ والد صاحب په خطا سره د مسلمانانو له لاسه شهيد کړل شو بيا رسول الله ☸ يې د بيت المال نه ديت ورکول و غوښتل لکن حضرت حذيفة ❽ وويل زما د پلار ديت دې ټولو مسلمانانو ته صدقه وي او وا يې نه

خيسته نو ددېنه معلوميږي که په جهاد کې څوک په خطا سره ووژل شي نو امام به دهغه ديت له بيت المال څخه ورکوي .



غزوة حمراء الاسد



د غزوة اُحد په سبا باندې د يکشنبې په ورځ کله چې رسول الله ﷺ د سحر مونځ وکولو د مهاجرينو او انصارو مشران پکې شامل وو بلال ته يې وويل اواز وکوه چې رسول الله ﷺ مو غواړي راځئ په دښمن پسې ورځو او صرف هغه کسان به له مونږ سره ځي چې پرون له مونږ سره په جهاد کې شامل شوي وو پداسې حال کې چې د احد له واقعې نه څوک هم مکمل جوړ نه وو راغلي حتی چې رسول الله ﷺ هم سخت زخمي شوی وو تنکی غاښ يې مات وو، په مخ مبارک کې يې زخم وو ، سر يې متاثر شوی وو لکن بيا هم د ټولو زخمونو سره سره صحابه ډير په زړورتيا سره بيا جنګ ته تيار شول حضرت

سعد بن معاذ ❽ خپل کور ته لاړو د کور خلکو ته يې ويل رسول الله ☸ امر کړی دی په دشمن پسې ورځو حضرت سعيد بن حضير ❽ چې اوه ځايه سخت زخمي وو او ناست وو په زخمونو يې څه مرهم پټۍ پورې کوله چې دا خبره يې واورېده يو دم يې را ټوپ کړل خپله سلاح يې واخيسته ويل يې د الله ① او د رسول الله ☸ خبره آورو او منو يې په منډه راغلو تر رسول الله ☸ پورې يې ځان را ورسولو صحابه ټول په زخمي حالت کې را ټول شول حضرت طفيل بن نعمان ١٣ ځايه سخت زخمي شوی وو خپل ځان يې د زخمونو په دوا باندې مصروف نه کړو او د رسول الله ☸ مخې ته حاضر شو حضرت خراش بن صمة ❽ لس ځايه سخت زخمي وو، په حضرت کعب بن مالک ❽ باندې هم تر لسو زيات زخمونه وو، قطبة بن عامر بن حديدة ٩ ځايه سخت زخمي وو، لکن د هر څه سره ټول را ووتل د رسول الله ☸ په خدمت کې حاضر شول رسول الله ☸ چې ددوی نه صف جوړ کړو او ورته کتل يې چې ټول زخميان وو نو يې په ډېره مينه ورته و فرمايل (يا الله په دوی باندې رحم وکړه)

امام واقدي رحمه الله فرمايي عتبة بن جبير ❽ د خپل قوم د کسانو په اړه ماته خبرې کولې ويل يې عبد الله بن سهل او رافع بن سهل بن عبد الاشهل له أُحد نه پداسې حالت کې را کرځېدلي

وو چې زيات زخمونه يې په ځان وو او په عبد الله باندې تر رافع نه زخمونه زيات وو کله چې سحر شو او حضرت سعد بن معاذ ورته راغلو ويل يې رسول الله ☸ مو غواړي او وايي چې په دشمن پسې ورځو دوی په خپل مينځ کې وويل اوس به څه کوو که د رسول الله ☸ سره جنګ ته ولاړ نشو دا خو ښه نه ده او له مونږ سره سپرلي هم نشته چې وربانديې سپاره شو او اوس نه پوهېږو څه وکوو؟ عبد الله ❽ وويل څه چې رسول الله ☸ ته ورشو حضرت رافع ❽ وويل زه خو تلی نه شم خو په همدې حالت کې دواړه را ووتل په تکليف سره را روان وو په لاره کې په رافع ❽ باندې کمزوري راتله او په وس کې يې نه وه چې په خپلو پښو باندې لاړ شي عبد الله ❽ چې خپله هم ډېر زيات زخمي وو هغه يې په ځان را تکيه کړو په دې ډول د رسول الله ☸ په خدمت کې حاضر شول لکن نا وخته وه رسول الله ☸ ترې پوښتنه وکوله چې ولې در باندې نا وخته شوه؟ دوی ورته وويل دواړه زخميان وو او سپرلي راسره نه وه په تکليف راغلو رسول الله ☸ ورته د خير دعا وکوله .

حضرت جابر بن عبد الله ❽ فرمايي زه رسول الله ☸ ته راغلم ورته ومې ويل ای د الله رسوله ☸ ما پرون هم غوښتل چې لتا سره ولاړ شم لکن پلار مې راته وويل چې ته پاتې شه په کور کې د خورانې

دي ددوى ساتنه وكوه مناسبه نه ده چې ته هم لاړشې او زه هم لاړ شم او ستا خوراني دلته يوازې په كور كې پرېږدو زه ددې امله پاتې شوم او الله تعالى مې پلار ته شهادت نصيب كړو خير دى ما پرېږده چې لتا سره اوس لاړ شم نو رسول الله ﷺ راته د تللو اجازه راكړه پدې ورځ باندې صرف زه داسې وم چې پرون نه وم ورسره تللى او اوس ورسره وتلى وم ډېرو نورو كسانو ترې وغوښتل چې دوى ته اجازه وركړي چې له اسلامي لښكر سره لاړ شي او هغوى په پرونى ورځ په جهاد كې نه وو شريک شوي هغوى ته اجازه ور نه كړل شوه رسول الله ﷺ بيرغ و غوښتلو هغه چې راوړل شو پرون چې سره تاو شوى وو تر اوسه پورې چا بېرته نه وو خلاص كړى هغه يې حضرت علي د يو قول له مخې حضرت ابو بكر صديق رضى الله تعالى عنهما ته وركړو .

رسول الله ﷺ جومات ته ننوتلو دوه ركعته مونځ يې وكولو خلک له شاوخوا نه را ټول شول د رسول الله ﷺ د روانېدلو انتظار يې كولو رسول الله ﷺ چې را ووتلو په جنګي لباس باندې پوښلى وو صرف دوه سترګې يې ښكاره كېدلې خپل آس يې د جومات دروازې ته را وغوښتلو او رسول الله ﷺ له مجاهدينو سره روان شو چې حمراء الاسد ته ورسېدل نو هلته يې مركز جوړ كړو او له ځان سره يې اضافي اوښان بولي وو د دوشنبې او سه شنبې په ورځ يې حلال كړل د ورځې به رسول الله ﷺ

امر وکولو چې لرګي را ټول کړئ او د شپې به يې صحابه وو ﷺ ته امر وکولو چې هرڅوک ځان ته اور بل کړئ صحابه وو ﷺ به تر ۵۰۰ ځايونو څخه زيات اور بلولو او د لرې ځای نه به ښکاره کېدلو حکمت پکې دا وو چې ددې اورونو او د مسلمانانو د مرکز نوم تر ډېرو ځايونو پورې لاړو او د دښمن حوصله وربانديې ښه کمزورې شوه .

رسول الله ﷺ ته يو کس مَعْبَدْ الخُزاعِي چې نوی په اسلام مشرف شوی وو راغلو رسول الله ﷺ هغه ته وويل ته خپل اسلام مه ښکاره کوه او په همدې حالت کې ورشه هغوی ته د مسلمانانو د جذباتو او د تر اوسه پورې جنګ ته د شوق په اړه خبرې وکوه .. ابو سفيان هم خپل لښکر و درولو او هغوی هم مشوره کوله چې بېرته مدينې ته را وګرځي خبرې يې کولې چې ددې جنګ نه مونږ ته څه په لاس راغلل نه خو مو محمد ﷺ قتل کړو او نه څه بل غټ کار وشو دوی پدې خبرو کې وو چې معبد الخزاعي يې وليدو چې راغلو دوی وويل صبر وکړئ چې دا څه وايي چې را نېږدې شو پوښتنه يې ترې وکوله وايه معبد څه حال وو؟ هغه ورته وويل محمد ﷺ او ملګري يې تاسې ته داسې ګرم دي لکه اور هغه کسان چې پرون د رسول الله ﷺ سره جنګ ته نه وو تللي نن په لوی تعداد کې ورسره را ټول شوي دي او دوی تعهد کړی دی ترڅو چې لتاسې سره مخامخ نشي بېرته نه ګرځي او لتاسې سره جنګ

کولو ته ډېر ليوال دي .. ابو سفيان ورته په ډېره حيرانتيا سره وويل دا ته څه وايې؟
د معبد نه وړاندې صفوان ورته ويل چې ګورئ مسلمانان مو په قهر کړل کېداى شي دا ځل په مدينه کې هغه کسان را ټول کړي چې د شنبې په ورځ جنګ ته نه وو راغلي په همدې ډول باندې راځئ چې مکې ته لاړو شو پدې کې مو خير دى او که بېرته مدينې منورې ته ستانه شوو بيا مو خير نشته رسول الله ﷺ ته چې دده دا خبره ورسېده ويې فرمايل : سره ددې چې صفوان څه د ښې رايې خاوند او هوښيار کس نه وو لکن دوى ته يې ښه لاره وښوده که دوى بېرته را ګرځېدلى واى نو ددوى لپاره خير نه وو .

نو کفارو چې دا خبرې واورېدې مدينې منورې ته د بېرته ګرځېدو رايه يې له زړه نه ووتله پدې وخت کې د ابو سفيان سره څه کسان مخامخ شول چې هغوى د مدينې په لورې روان وو هغوى ته يې وويل زه تاسې ته يو پيغام درکړم تاسې يې محمد ته رسولى شئ؟ هغوى ورته وويل هو ! ده ورته وويل کله مو چې محمد ﷺ وليدو زمونږ د لښکر په اړه ورته ووايې چې سره ټول شوي دي او بيرته مدينې خوا ته را ګرځېدل غواړي .
ابو سفيان د مکې په طرف لاړو رسول الله ﷺ ته چې هغه کسان را ورسېدل نو يې رسول الله ﷺ ته د هغه خبره وکوله رسول الله ﷺ بالکل وارخطا نه شو او

نه وډار شو صرف دومره يې وويل حسبنا الله و نعم الوکيل پدې اړه بيا قراني آيتونه نازل شول :
سورة آل عمران آية ۱۷۲-۱۷۳

ٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعۡدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡقَرۡحُۚ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ مِنۡهُمۡ وَٱتَّقَوۡاْ أَجۡرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٢﴾ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنًا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾

ترجمه : هغه کسان چې د الله ① او د هغه د رسول ☸ دعوت يې وروسته ددې ومنلو چې په دوی باندې زخمونه وو د هغه کسانو لپاره چې نيکي کوي لوی اجر دی دا هغه کسان دي چې دوی ته چا وويل چې خلک درته را ټول شوي دي تاسې ترېنه وډار شئ د دوی ايمان نور هم زياتيږي او دوی وايي الله تعالی زمونږ لپاره بس دی او هغه ډېر ښه وکيل دی .

هغه نوي مسلمان کس معبد الخزاعي ❽ رسول الله ☸ ته رښتونی خبر را ولېږلو او ورته يې وويل چې هغوی د ډېرې وېرې او خوف سره مکې ته روان شول بيا رسول الله ☸ هم مدينې ته را ستون شو ...

که مونږ فکر وکوو چې د شنبې په ورځ په اُحد کې تقريباً ټول شريک صحابه ﷺ زخميان شوي وو او ځينې يې ډېر سخت زخميان وو حتی چې معالج حضرت علي ؓ ته وويل زه ستا د زخمونو سره څه وکوم ته بايد له سر نه تر پښو پورې ټول وتړل شې بدن مبارک يې ټول زخمي زخمي وو رسول الله ﷺ پخپله هم زخمي وو پداسې حالت کې په سحر وختي د يکشنبې په ورځ بيا وتل اګر که مصلحت نه ښکاره کېدو لکن وروسته ښکاره شوه چې د رسول الله ﷺ پدې راوتلو کې ډېر عظيم حکمت وو او همدې راوتلو کفار دېته مجبور کړل چې مکې ته لاړ شي که دا نه وای هغوی اراده کړې وه چې بېرته مدينې ته لاړ شي او په مدينه منوره باندې حمله وکوي بېشکه چې رسول الله ﷺ په هرڅه پوه او مهربان قائد وو .



سرية ابي سَلَمة بن عبد الاسد المخزومي

د هجرت څلورم کال د محرم مياشت
د اُحد د واقعې نه وروسته مسلمانانو ته خبر راغلو چې طلحة او سلمة چې د خويلد زامن وو هغوى په خپل قوم بني اسد بن خزيمة کې ګرځي او د مسلمانانو په خلاف باندې جنګ ته خلک را پاروي ددې خبر له را رسېدلو سره سم رسول الله ﷺ د وخت نه په استفادي سره بغير له څنډه ۱۵۰ کسان غازيان را ټول کړل او حضرت ابو سَلَمة ؓ چې په احد کې سخت زخمي شوى هم وو ددوى په سر مقرر کړو او دوى يې په بني اسد بن خزيمة پسې ور ولېږل هغوى لکه د بازانو داسې په بني اسد باندې دهغوى په ځاى کې پداسې حالت کې حمله وکوله چې هغوى بې خبره وو چې کله يې د مجاهدينو د راتلو خبر واورېدو هغوى ټول و تښتېدل او د مسلمانانو غازيانو سره يې د جنګ توان په ځا ن کې و نه ليدو او هغه کړې اراده يې هم له زړه نه ووتله مسلمانان په خير او سلامتيا سره بغير د جنګ نه مدينې منورې ته را ستانه شول حضرت ابو سَلَمة ؓ د هغه زخم نه تکليف وو چې په احد کې ورته رسېدلى وو تکليف يې سخت شو او د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو .

د عبد الله بن انیس 8 لېږل

د هجرت څلورم کال د محرم میاشت

رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې خالد بن سفیان الهذلي چې په عرنة نومي ځای کې اوسېدو د رسول الله ﷺ په خلاف تحریک چلوي او خلک را پاروي چې د رسول الله ﷺ جنګ ته یې تیار کړي رسول الله ﷺ حضرت عبد الله بن انیس 8 ورپسې ور ولېږلو چې قتل یې کړي حضرت عبد الله بن انیس 8 رسول الله ﷺ ته وویل چې نښې یې راته ووایه رسول الله ﷺ د هغه نښې ورته وویلې یوه نښه یې ورته وویله کله چې ته ورسره مخامخ شې نو ته به د هغه تر تاثیر لاندې راشې ده 8 رسول الله ﷺ ته وویل یا رسول الله ﷺ زه د چا تر تاثیر لاندې نه راځم رسول الله ﷺ ورته وویل هو لکن دا به ستا او د هغه په مینځ کې نښه وي دی ورغلو هغه پوره لښکر د رسول الله ﷺ د جنګ لپاره تیار کړی وو د ډېرو کسانو په مینځ کې وو چې څنګه یې ولیدو و یې پېژندلو او داسي یې تر تاثیر لاندې شو چې خولې یې وکولې سفیان پوښتنه وکوله چې څوک یې؟ ده ورته وویل د بني خزاعة د قبیلې یو کس یم ما آوریدلي چې ته د محمد دجنګ لپاره خلک ټولوي ما وې چې زه به دې هم ملګري وکوم ده وویل هو زه خو خلک ورته را ټولوم هغه

پياده روان وو دى هم ورسره روان شو خبري يې ورسره وکولې په هغه باندې دده خبري ښې ولګېدې دوى روان وو تردې چې هغه ځاى ته ورسېدل چېرته چې هغه اوسېدو ملګري يې ترې بېل شول دى يې مېلمه شو يو څه وخت ورووسته چې خلک ويده شول هغه پرې حمله وکوله او قتل يې کړو سر يې له ځان سره واخيستو او وتښتېدو په غره کې په يوه غار کې ننوت عنکبوت (تار کشه ، غنه) راغله د سوروي په خوله باندې يې تارونه واچول د خالد بن سفيان کسان پسې ډېر زيات وګرځېدل لکن پيدا يې نه کړو ده به د شپې ټوله شپه منزل کولو او د ورځې به پټېدو تردې چې د ١٨ ورځو نه ورووسته بېرته مدينې منورې ته ورسېدو رسول الله ﷺ پدې وخت کې په جومات کې وو چې دى يې وليدو رسول الله ﷺ ډېر زيات خوشحال شو ورته يې وويل مخ کامياب شو (ته کامياب شوې) ده ورته وويل ستا مخ کامياب شو اى رسول الله ﷺ بيا يې دهغه سر ورته په مخه کې کېښود او ټوله قصه يې ورته وکوله بيا يې خپله همسا مبارکه ورته ورکړه او ورته يې وويل دا به په آخرت کې زما او ستا په مينځ کې نښه وي دى 8 چې کله وفات کېدو نو وصيت يې وکولو چې دا به لما سره په کفن کې ايږدئ .

يوم الرجيع (بعث الرجيع)

د هجرت په څلورم کال د صفر په مياشت کې د عضل او القارة قبائلو نه رسول ﷺ ته کسان راغلل ورته ويل يې چې د اسلام په اړه خبرونه مونږ ته را رسېدلي دي او مونږ پوه شوي يو چې دېته زمونږ ضرورت دی زمونږ خلک اسلام راوړلو ته تيار دي که تاسې څوک له مونږ سره ولېږئ چې هلته زمونږ خلکو ته اسلام ور وښيي نو دا به غوره وي رسول ﷺ د مبارکو صحابه وو يوه د لسو کسانو ډله ور سره ولېږله چې مرثد ابن أبی مرثد ′ خالد ابن بکير ′ عاصم ابن ثابت ′ خبيب ابن عدی ′ زيد ابن الدثنه ′ عبد الله ابن طارق رضي الله عنهم پکې شامل وو او حضرت عاصم ابن ثابت رضي الله عنه يې په دوی باندې امير مقرر کړو.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه په روايت سره امام بخاري رحمه الله روايت کوي چې کله دوی يو ځای ته ورسېدل چې د مکې او عسفان په مينځ کې وو دا خبر د هذيل قبيلې يو کلي ته ورسېدو چې بنو لحيان يې ورته ويل هغوی پدې محدودو کسانو پسې د سلو کسانو په تعداد کې را ووتل او په دوی پسې روان شول په يو ځای کې چې دوی هغه خورما خوړلې وې چې دوی له ځان سره د مدينې منورې نه وړې وې کفار چې هغه ځای ته ورسېدل د خورما زړي (خستکې) يې وليدې ويې ويل دا

خورماوي د يثرب دي بالآخره يې هغوی پيدا او محاصره کړل کفارو ورته وويل مونږ ته بيغير د جنګ نه تسيليم شئ مونږ لتاسي سره وعده کوو چې تاسي به نه وژنو حضرت عاصم ❽ ورته وويل زه خو کله هم کافر ته نه تسليم کيږم اللهم اخبر عنا نبيک (ای الله خپل نبي دي زمونږ له حال نه خبر کړه) جنګ يې ورسره وکولو حضرت عاصم ❽ د اوو کسانو صحابه وو ﷺ سره په شهادت ورسيدو حضرت خبيب بن عدي ، حضرت زيد او يو بل کس ﷺ ژوندي پاتې شول دوی ته يې بيا وويل تاسي تسليم شئ تاسي معاف ياست مونږ به تاسي نه وژنو کله چې دوی ورته راغلل نو د خپلو غيشو نه يې تارونه خلاص کړل او دا صحابه ❽ يې وربانديې وتړل هغه دريم کس صحابي ❽ چې د دوی سره وو هغه ❽ وفرمايل دا اول خيانت دی چې تاسي يې کوئ او د دوی سره د تللو نه يې انکار وکولو هغوی ډير کش کړو لکن بيا يې هم وس ونه رسيدلو چې له ځان سره يې بوزي بالآخره يې شهيد کړو .

حضرت خبيب او حضرت زيد رضی الله تعالی عنهما يې مکې ته بوتلل او د مکې په کفارو يې ددي لپاره خرڅ کړل چې هغوی به يې شهيدان کړي او خپله غصه به پري سړه کړي او حضرت خبيب ❽ د حارث اولادي واخيستو او په بدر کې الحارث بن عامر بن نوفل د حضرت خبيب ❽ په لاس وژل شوی وو

دوی حضرت خبيب ❽ له ځان سره بندي وساتلو او دهغه د وژلو لپاره يې تياری وکولو يوه ورځ يې د حارث د لور نه پاکي وغوښته په کار يې وه هغه وايي چې ما ورته پاکي ورکړه او لږ هغه خواته زما ماشوم زوی پروت وو دی دهغه خوا ته ورغلو تردې چې هغه يې را پورته کړو او په خپل زنګون يې کېنولو ما چې هغه وليدو چې زما زوی ورسره دی پداسې حال کې چې هغه زمونږ په کور کې بندي دی او هسې هم د بد مرګ انتظار کوي زه سخته وډاره شوم او هغه چې زما شکل ته وکتل پوه شو چې زه څومره وډاره شوم هغه راته وويل ته پدې وډاره شوې چې زه به دی قتل کړم ؟ نه زه دی نه قتلوم مه ډارېږه .

د حضرت خبيب بن عدي ❽ اعدام

حضرت سعيد بن عامر ❽ فرمايي زه حاضر وم چې د مکې کفارو د خبيب بن عدي ❽ اعدام کولو هغه يې راوستلو او دهغه د بدن څخه به يې غوښې شکولې او هغه يې په دار خېژولو او ډول ډول تکليف يې ورکولو چا ورڅخه پوښتنه وکوله چې ته دا خوښوې چې محمد د ستا په ځای قتل شي او ته دې په امن وې؟ ده ورته وويل والله زه دا هم نه خوښوم چې د هغه په پښه کې ازغی لاړ شي او زه دې په اهل کې وم (ماته خپل شهادت منظور دی لکن د رسول الله ☸ په پښه کې يو ازغی تلل نه)

حضرت مارية د حجير بن ابو اهاب ازاده كړل شوي وينزه وروسته ددې چې مسلمانه شوه ويل يې خبيب زما په كور كې بندي ساتل شوى وو يوه ورځ ما پټ ور وكتل داسې وخت وو چې په مكه كې هيڅ ډول مېوه نه پيدا كېده دده سره د انګورو داسې وږى وو لكه د انسان سر او ده تربنه خوراك كولو .

بالآخره يې را وويستلو چې په دار يې وځړوي په حرم كې يې د تنعيم سره لرګى ورته درولى وو چې كله يې راوستلو ده ورته وويل كه تاسې ماته اجازه راكړئ دوه ركعته مونځ وكوم؟ دوى اجازه وركړه مونځ يې وكولو او بيا يې ورته وويل كه زه نه ډاريدلى چې تاسې به ګمان وكوئ چې زه د مرګ نه ډاريږم نو ما خپل مونځ اوږدول غوښتل (دا اول څل وو چې څوك د مرګ نه وړاندې مونځ كول غواړي)

بيا يې هغه په دار باندې وخېژولو ده وويل اى الله ﷺ مونږ ستا د رسول پيغام رسولى دى هغه زمونږ په حال خبر كړه بيا يې دعا وكوله ويل يې : اللهم أحصهم عددًا واقتلهم بددًا ولا تغادر منهم أحدًا بيا هغوى قتل كړو .

الله ﷺ د خبيب د شهادت په اړه رسول الله ﷺ ته خبر وركړو هغه ﷺ حضرت عمرو بن امية الضمري را ولېږلو چې د شپې يې د دار له لرګي نه را

ښکته کړي هغه د شپې پټ پټ راغلو چې د لرګي نه يې را ښکته کړو په زمکه يې واچولو لږ وروسته يې زمکې ته وکتل په زمکه باندې هېڅ شی نه وو او هغه مبارک ﷺ زمکې تېر کړی وو ددې امله ده ❽ ته بليع الارض هم ويل کيږي .

دا په تاريخ کې اول هغه کس وو چې د الله ① په لاره کې په دار و ځړول شو او اول هغه کس دی چې د خپل شهادت نه وړاندې يې مونځ وکولو .



بئر معونة

د هجرت په څلورم كال د صفر په مياشت كې بله د اسلامي تاريخ د ددر نه ډكه واقعه د بئر معونة واقعه وه دا هغه وخت مينځ ته راغله كله چې ابو براء عامر بن مالک بن جعفر چې په ملاعب الاسنة يې شهرت درلود رسول الله ﷺ ته مديني منورې ته راغلو رسول الله ﷺ ورته اسلام وړاندې كړو هغه اسلام قبول نه كړو او ډير سخت انكار يې هم تري ونه كولو بيا يې ورته وويل اى محمده ! ﷺ كه ته چېرته خپل ملګري د نجد علاقې ته را ولېږې هلته هغه خلک اسلام خواته را وبللي زما اميد دى هغوى به ستا خبره ومني رسول الله ﷺ ورته وويل د نجد له خلكو زه ډاريږم ابو براء د رسول الله ﷺ سره وعده وكوله چې دى به يې هلته ساتنه كوي رسول الله ﷺ دده په وعده باندې اعتماد وكولو او حضرت المنذر بن عمرو 8 يې د څلويښتو كسانو صحابه وو رضي الله عنهم سره ور ولېږلو جليل القدر صحابه رضي الله عنهم يې ورسره ملګري كړل دوى لاړل د بئر معونة ساحې ته ورسېدل هلته يې عامر بن الطفيل ته د رسول الله ﷺ د لورې نه خط ور ولېږلو چې اسلام ته يې را وبلل هغه بغير ددې چې د رسول الله ﷺ خط ته وګورې په استازي يې شروع وكوله او شهيد يې

کړو بيا يې د نورو صحابه وو ﷺ د وژلو لپاره بني عامر ته اواز وکولو هغوی ورته وويل چې زمونږ کس ابو براء دوی ته ويلي دي چې راشي ددي امله مونږ هغه کم نه راولو بيا يې د بني سليم څخه نوري قبيلې لکه عصية، رعلا، ذکوان القارة په دوی پسې را وغوښتلې هغوی يې ملاتړ وکولو ټول پسې راغلل تردي چې دا مظلوم صحابه ﷺ يې محاصره کړل دوی چې وليدل خپلو تورو ته يې لاس کړو جنګ يې ورسره شروع کړو ترڅو چې ټول شهيدان شول يوازې حضرت کعبؓ بنَ زيدِ بن النجار په داسې حالت کې پاتې شو چې دمه پکې چلېده بيا الله ① بېرته شفاء ورکړه بيا د خندق په غزوة کې په شهادت ورسېدو .


دوی چې دلته شهيدان شول عمرو بن امية الضمري او يو بل کس انصاري وو د بني عمرو بن عوف کورنۍ څخه دواړه پدې وخت کې په مرکز کې نه وو دوی ته چا ونه ويل چې دلته څه قصه شوېده بلکه دوی کارغان وليدل چې د دوی د مرکز په ځای باندې ګرځېدل دوی وويل دا مارغان د څه خبرې له امله دلته دومره ډېر تا ويږي دوی راغلل چې وګوري چې څه چل دی چې راغلل ويې ليدل چې صحابه ① په وينو کې لانده پراته دي هغه بل انصاري حضرت عمرو ته وويل څه کوو؟ ده ورته وويل لاړ به شو رسول الله ته به ددې واقعې په اړه خبر ورکړو هغه بل صحابي وويل چېرته چې منذر بن عمرو شهيد شوی دی زه ددې ځای څخه نه ځم نو يې ددې ځای له کفارو سره جنګ شروع

کړو هغه صحابي ؓ په شهادت ورسېدو او عمرو يې ژوندى ونيولو هغه يې عامر بن الطفيل ته ور وستلو هغه خوشي کړو دده په گمان چې دده په مور باندې د يوه غلام ازادول لازم شوي وو نو دهغه په بدل کې به دا خوشې کړم زما د مور غاړه به خلاصه شي .

رسول الله ﷺ ددې شهيدانو په شهادت باندې ډېر خفه شو او تر ډېره وخته پورې به يې د سحر په مانځه کې دعا قنوت ويله او ددې حادثې مجرمانو ته به يې پکې ښېرا کوله .



غزوة بني النضير



وخت : د هجرت څلورم کال د ربيع الاول مياشت چې د کال ٦٢٥ د اګست د مياشتې سره سمون خوري .

لکه چې ددې سلسلې په مخکنيو کتابونو کو تېره شوېده چې بني النضير د هغه يهودو قبيله وه کوم چې په مدينه منوره کې اوسېدل او په دوی کې مشهورې درې قبيلې وې بنو النضير، بنو قريظة او بنو قينقاع کله چې رسول الله ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکولو په ډېرو عاجلوکارونو کې چې رسول الله ﷺ ته له هجرت نه وروسته ور په غاړه وو يو دا وو چې ددې يهودو سره په يو ځای ژوند کولو کې حکمت عملي خپل کړي همدا لا مل وو

چې رسول الله ﷺ ددوی سره تړون لاسليک کړو او دهغه تړون مهمې مادې دا وې چې يهود او مسلمانان به د ښو ګاونډيانو په څېر په مدينه منوره کې ژوند کوي او که د بهر نه مديني منورې ته کوم خطر متوجه کيږي نو دوی به يې دواړه ډلې په شريکه سره مقابله او مخ نيوی کوي .

يهود به په خپل دين عمل کوي او مسلمانان به په خپل دين يو په بل به تيری نه کوي او نه به د يو بل په مذهبي کارونو کې لاس وهنه کيږي .

که په مدينه کې داسې څه پيدا کيږي چې دهغه نه فساد جوړيږي ددې مشکل حل به را وپستل کيږي او دهغه مشکل فيصله به رسول الله ﷺ کوي .

دا او څه نورې لويې مادې ددې تړون برخه وې دې تړون يهودو ته ښه فرصت په لاس ورکړو چې د اسلامي دولت تر سيورې لاندې دې په ارام او راحت کې خپل ژوند تر سره کوي د مسلمانانو له لوري به دوی ته هېڅ ډول تکليف نه وي .

لکن څرنګه چې تاريخ پرې ګواه دی چې يهود د خيانت نه بغير ژوند نشي کولی او تجاوز، خيانت او وعده ماتول د دوی له لويو صفاتو څخه دي دريو واړو د يهودو قبيلو يو په بل پسې د رسول الله ﷺ تعهد مات کړو او د تعهد د ماتېدلو سره رسول الله ﷺ هم دهغوی سره جنګ کولو ته تيار شو لکن دوی د جنګ خلک نه وو دوی د رسول الله ﷺ سره جنګ ته نه تياريدل دوی صرف دې ته تکړه وو چې

د مسلمانانو په مينځ کې مشکل پيدا کړي، له بل چا سره مرسته وکوي چې مسلمانانو ته ضرر ورسوي او داسې نور شيطانتونه وکوي لکن کله چې د احد په واقعه کې مسلمانانو څه شهيدان له لاسه ورکړل نو دوی را زړور شول او د منافقينو سره به يې پټې خبرې کولې د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو خلاف به يې په دسيسو جوړولو کې شرکت کاوه رسول الله ﷺ يوه ورځ د ديت په څه باره کې د بني النضير ځای ته له خپلو ملګرو سره لاړو هغوی ورسره خبرې وکولې او بيا يې ورته وويل تاسې دلته کينئ مونږ ستاسې کار کوو رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره د يو دېوال خوا ته کېناستو او يهودو يو له بل سره خبرې کول شروع کړل شيطان ددوی په زړه کې ور واچوله چې رسول الله ﷺ تيار ستاسې ځای ته راغلی دی يو څوک دې د ديوال سر ته وخيږي او له پاسه دې پرې درونه کانی را وغورځوي چې د رسول الله ﷺ په سر باندې ولګيږي هغه به پرې شهيد شي په دوی کې يو بد بخت عمرو بن جحاش را پورته شو ويل دا کار به زه وکوم په دوی کې يو کس وو سلام بن مشکم هغه ورته وويل چې ګورئ داسې مه کوئ هغه پيغمبر دی هغه ستاسې پدې مرداره اراده باندې خبريږي او دا خو زمونږ او دهغه په مينځ کې د صلح تړون ماتول دي لکن نورو خلکو يې خبره ونه منله او ددې مردار پلان عملي کولو ته يې ملا وتړله .

حضرت جبريل ؑ راغلو رسول الله ﷺ ته يې هغه څه وويل چې يهودو يې اراده کړيده هغه سم د لاسه را پاڅيدو او ترينه را روان شو صحابه وو ترې پوښتنه وکوله چې داسي يو دم را روان شوې مونږ پوه نه شوو چې ولې؟ ده ﷺ ورته وويل جبريل عليه السلام ماته وويل چې يهودو څه پلان جوړ کړو .

د امام ابي داود د روايت له مخي دوی له مخکې نه د رسول الله ﷺ د قتل لپاره دسيسه جوړه کړې وه بيا يې رسول الله ﷺ ته احوال ور وليږلو چې زمونږ درېش کسان علماء لتا سره خبره کول غواړي که هغوی تا دېته قانع کړل چې هغوی ايمان راوړي نو مونږ ټول به ايمان راوړ نو ته هم د دېرشو کسانو سره راشه په يو ځای به خبرې وکوو بيا ځينو پکې وويل چې دا پلان بدل کړئ ځکه که د رسول الله ﷺ سره دېرش کسان راشي نو تاسې د هغه سره څه هم نشي کولئ ځکه د رسول الله ﷺ داسي ملګري دي چې هر يو يې دده په ځای مرګ ته حاضريږي بيا يې ورته احوال را وليږلو چې که تاسې دېرش کسان راشئ او دېرش کسان زمونږ شي نو دا خو شپېته کسان شول بيا هم په سمه توګه په خبر نه سره پوهيږو داسې به وکوو چې تاسې هم درې کسان راشئ او مونږ به هم درې علماء در وليږو که هغه لتاسې سره د اسلام راوړلو ته رضاء شول مونږ به ټول ايمان راوړ

نو هلته يې بيا د رسول الله ﷺ د قتل د دسيسې عملي کول غوښتل .

رسول الله ﷺ چې راغلو محمد بن مسلمة ؓ يې ور ولېږلو ورته يې وويل چې زر د مدينې نه لاړ شئ زه تاسې ته لس ورځې مهلت درکوم دهغې نه وروسته مې که ستاسې کس په مدينه کې وليد سر يې ترې قلم کوم پدې وخت کې دوى د وتلو تيارى کولو چې د منافقينو مشر عبد الله بن ابى ابن سلول احوال ور ولېږلو چې مه وزئ په خپلو ځايونو کې ټينګ شئ زما سره ۲۰۰۰ کسان دي د ضرورت په وخت کې به يې زه در ولېږم هغوى به ستاسې له لوري نه تر مرګه پورې و جنګيږي پدې اړوند آيت نازل شو :

سورة الحشر آية ١١

لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ

ترجمه : که چېرته تاسې وويستل شوى نو مونږ هم درسره وزو او په تاسې باندې چې تېرى کيږي پدې کې به مونږ د هېچا اطاعت نه کوو بالکل او که لتاسې سره جنګ کيږي مونږ ستاسې مرسته کوو .

او د منافقينو مشر دوى ته پدې هم ډاډ ورکړو چې په مدينه کې نور يهود بني قريظة هم شته هغوى به ستاسې مرسته وکوي او د بني غطفان

قبيلې خلک ستاسې سره تعهد لري هغوى به هم ستاسې مرسته وكوي .
حيى بن اخطب پدې وخت کې د بني النضير د يهودو مشري كوله د منافقينو د مشر په خبرو ډاډه شو نو يې رسول الله ﷺ ته احوال ولېږلو چې مونږ له مدينې نه وتلو ته تيار نه يو او ته چې څه كولى شې هغه وكوه .
سره ددې چې د مسلمانانو لپاره دا وخت ډېر نازک وو د اُحُد واقعه هم اوس تېره شوې وه او نور هم مشكلات وو او بني النضير هم وړوكې قبيله نه وه زيات خلک يې درلودل او جنگي كسان يې زيات وو لكن ددې ټولو خبرو سربېره مسلمانان ددوى سره جنگ ته تيار وو كله چې د حيى بن اخطب ليک رسول الله ﷺ ته ورسېدو هغه الله اكبر وويل او صحابه وو رضي الله عنهم هم ورسره الله اكبر وويل حضرت عبد الله بن ام مكتوم رضي الله عنه يې په مدينه منوره كې دخپل خليفه په توگه پرېښود او بيرغ يې حضرت علي رضي الله عنه ته په لاس كې وركړو د بني النضير د يهودو په لور روان شول هغوى يې محاصره كړل .
بني النضير په خپلو قلا گانو كې پاتې شول او په چريكي ډول به يې په مسلمانانو باندې حملې كولې په غيشو او كانو به يې ويشتل پدې كار كې ددوى سره د دوى گڼو باغونو مرسته كوله او په هغه باغونو كې به دوى پټېدل نو رسول الله ﷺ ددې

مشكل د حل لپاره امر وكولو چې باغونو ته اور ور واچوئ ددې كار په اړه الله ① فرمايي :
سورة حشر آية ٥
مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللهِ
ترجمه : كه تاسې كومه ونه يا بوټى پرې كوى دا هم د الله په اجازه سره كوئ او كه يې پرېږدئ نو دا هم د الله ☸ په اجازه سره كوئ .

بني قريظة يهود تربنه په خپل ځاى كېناستل او د مسلمانانو په مقابل كې يې ددوى هېڅ مرسته ونه كوله ، د بني غطفان قبيلې خلكو چې له دوى سره تعهد درلود چې كه د دوى سره څوک جنګ كوي نو هغوى به هم ورسره جنګ كوي هغوى هم د مسلمانانو په مقابل كې ددوى مرسته كول خوښ نه كړل او د منافقينو مشر خو هسې هم منافق وو هغه ته د وعدې ماتول څه غټه خبره نه وه هغه هم صرف ددوى د نندارې په كتلو مصروف شو نه يې ورته څه خير ورسېدو او نه يې تربنه څه شر دفع كړاى شول ددې امله الله تعالى ددوى ددې حال په اړه فرمايي :
سورة حشر آية ١٦
كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ
ترجمه : د دوى مثال داسې دى لكه د شيطان اول انسان ته ووايي كافر شه كله چې هغه كافر شي بيا ورته ووايي زه لتا بيزار يم .

دوی محاصرې ته تر ډېره وخته پورې ټینګ نه شول محاصره یې صرف تر ٦ ورځو پورې او د یو قول له مخې تر ١٥ ورځو پورې اوږده شوه بیا فیصله وشوه چې دوی به مدینه منوره پرېږدي او د سلاح نه بیغیر به نور څه شی چې وړلی شي نو اجازه ورته شته دوی خپل کورونه ړنګول شروع کړل ورونه کړکی او لرګي یې ترېنه ویستل او وړل یې خپل ټول سامانونه او ښځې ماشومان یې له ځان سره په شپږ سوه اوښانو باندې بار کړل او روان شول څه یې خیبر او څه یې شام ته لاړل صرف دوه کسان پکې مسلمانان شول هغوی همدلته په مدینه منوره کې پاتې شول یو یامین بن عمرو او بل ابو سعد بن وهب رضی الله تعالی عنهما وو .

سلاح یې ټوله رسول الله ﷺ ته پاتې شوه پنځوس پکې زغرې وې پنځوس پکې وسپنیزې خولی وې او درې سوه څلویښت پکې توري وې .

په زمکه او کورونو یې هم رسول الله ﷺ ویش شروع کړو یو څه یې پکې مهاجرینو ته ورکړل چې په اول وخت کې یې ډېر د فقر په حالت کې هجرت کړی وو او حضرت ابو دجانة او سهل بن حنیف الانصاري ته یې ددې امله پکې زمکه ورکړه چې اګر که دوی د مدینې منورې خلک وو لکن دوی زیات غریبان وو .

غزوة نجد

لکه څرنګه چې تاسې ته هم معلومه ده چې رسول الله ﷺ ددې دين لپاره تر خپل آخري وس پورې کار کړی دی او دادې زه يې قدم په قدم لويې واقعې ستاسې مخې ته ايږدم تاسې ته ښکاره کيږي چې هغه ﷺ ارام بالکل نه دی کړی نو ځکه چې کله د بني النضير د کار نه فارغ شو او د بني النضير په واقعه کې رسول الله ﷺ د کوم جنګ سره مخامخ نه شو او پدې کې مسلمانانو ته يو څه نوې اسلحه هم په لاس ورغله نو رسول الله ﷺ د هغه باندې چيانو لپاره فارغ شو چې د احد نه وروسته يې څه صحابه او اسلام ته دعوت کونکي شهيدان کړل قصې يې تېرې شوې او هغوی اوس دومره زړور شول چې غوښتل يې په مدينه منوره باندې تېری وکوي رسول الله ﷺ ته خبرونه راغلل چې بني محارب، بني ثعلبة له بني عطفان څخه غواړي په مدينه باندې تېری وکوي مخکې ددې چې هغوی راشي رسول الله ﷺ د تياري په کولو باندې لاس پورې کړو او په دوی پسې ور ووتلو هغوی چې کله ددې نه خبر شول چې مسلمانانان په دوی پسې ور ووتل هغوی د ځان لپاره دا ښه وګڼله چې د مسلمانانو غازيانو سره مخامخ نه شي او غرونو ته و تښتېدل مسلمانان په امن سره بېرته مدينې منورې ته را ستانه شول د الرحيق المختوم مصنف دې غزوې ته غزوة نجد ويلي دي او

وايي په ځينې کتابونو کې دېته غزوة الرقاع ويل شوې ده او دا صحيح نه ده هغه بله غزوة وه چې په همدې ساحو باندې واقع شوې وه .



د بدر وروستنۍ غزوة

د هجرت څلورم کال د شعبان مياشت
دې غزا ته غزوة بدر الآخرة، بدر الصغرى، بدر الثانية او بدر الموعد ويل کيږي
کله چې د اُحُد په ورځ ابو سفيان له جنګ نه مخ واړولو او مکې لور ته روان شو نو يې مسلمانانو ته را چيغه کړه : د راتلونکي کال د پاره د وعدې ځاى بدر دى .
په راتلونکي کال کې چې کله د وعدې وخت راغلو ابو سفيان چې پدې پوه وو چې کله هم دوى د مسلمانانو په مخ کې کاميابي نه ده ګټلې او تېر کال چې په احد کې کاميابي د دوى وه هغه صرف د هغه کسانو د غلطي له امله وه چې په جبل الرماة باندې مقرر کړل شوي وو که چېرته هغوى خپل ځاى نه واى پرېښودلى نو دوى خو بيا هم داسې ماتې خوړلې وه چې تر بدر الکبرى نه لږ شرمونکې نه وه نو اوس يې جنګ ته وتل نه غوښتل نو يې نعيم بن سعود مديني منورې ته ولېږلو چې هلته خبرونه خپاره کړي چې قريش په ډېر لوى تعداد کې راوتلي دي او ډېر زيات مجهز دي ابو سفيان ورته وويل که چېرته هغوى را ووزي او زه ورنه شم نو بيا به مسلمانان په مونږ ډېر زيات را زړور شي او زه دا نه غواړم نو ته ورشه زمونږ په اړه هلته اوازې جوړې کړه نو چې هغوى و ډار شي او جنګ ته را ونه وزي نو زه به تاته د سهيل بن عمرو په لاس شل اوښان درکړم .

نعيم بن سعود مديني منورې ته را ورسېدو او ډنډورې يې جوړې کړې په مدينه کې موجوده يهودو او منافقينو يې مرسته وکوله او د ې خبرونو ډېر زيات تاثير وکولو لکن حضرت ابو بکر صديق 8 او حضرت عمر فاروق 8 راغلل رسول الله ☸ ته يې ويل چې مونږ د هغوی سره وعده کړېده او که مونږ ورنشو دا زمونږ بې زړه والی دی الله تعالی به خپل نبي او خپل دين ته عزت ورکوي ځی په خپله وعده باندې بدر ته ځو قسم په الله ① دا ښه خبره ده رسول الله ☸ چې د خپلو ملګرو نه دا خبرې واورېدې نو زيات خوشحال شو او اعلان يې وکولو چې بدر ته ځو او بيا يې وفرمايل: زما د قسم په هغه ذات وي چې زما نفس يې په لاس کې دی زه خو ورځم اګر که لما سره يو کس هم لاړ نه شي.

رسول الله ☸ په مدينه منوره باندې حضرت عبد الله بن عبد الله بن ابی بن سلول ☸ خپل نائب پرېښودو او له ځان سره يې ۱۵۰۰ مجاهدين ملګري کړل لس آسونه ورسره وو بيرغ يې حضرت علي 8 ته ورکړو او بدر ته ورسېدو په بدر کې آته ورځې پاتې شو د ابو سفيان د راتلو انتظار يې کاوه

ابو سفيان له مکې نه را ووتلو دری زره جنګيالي ورسره وو د يو قول له مخې دوه زره

پنځه سوه کسان ورسره وو لکن دده په زړه کې وو چې کاش دا جنګ ونشي او دده په راوتلو کې لوی مقصد دا وو چې دا خبرونه مسلمانانو ته ورشي او کېدای شي هغوی و ډار شي او جنګ ته را ونه وزي نو بيا به د وعدې د نه پوره کېدو ملامتي دهغوی پر غاړه وي لکن چې کله د رښتيا وخت راغلو زړه نا زړه يې ځان تيار کړو او بدر ته را روان شو بيا يې قريشو ته مخ ور واړولو او ورته يې وويل : ای قريشو ګورئ دا کال په مکه کې قحطي ده د لوړې کال دی مشکلات ډېر زيات دي د جنګ وخت نه دی زه نه غواړم چې دې جنګ ته لاړشم زه بېرته ګرځم تاسې هم وګرځئ .. ددې خبرې خو ټولو انتظار کاوه لکن غيرت نيولي را وتلي وو ټول بېرته و ګرځېدل .

الله ① مسلمانانو ته کاميابي په نصيب کړه او بغير د جنګ نه يې د فتح بيرغ پورته کړو الله تعالی ① يو ځل بيا مسلمانانو ته په ټولو خلکو په ټولو قبائلو باندې لوړ نوم ورکړو د مدينې په ماحول کې ډېرو کسانو ددې واقعې نه وروسته خپل سرونه د مسلمانانو په وړاندې ښکته کړل بيا به يې په مسلمانانو د حملو کولو جرئت نه کاوه .

غزوة دومة الجندل



رسول الله ﷺ چې د پوره فتح سره او بغير د جنګ نه د بدر الثانية نه را وګرځېدو د شپږو مياشتو لپاره په مدينه منوره کې پاتې شو ترد چې ور ته د هجرت په پنځم کال د ربيع الاول په مياشت کې خبر راغلو چې په د ومة الجندل کې څه کسان دي ډېر زيات دي او څوک چې په هغوی باندې تېرېږي د هغوی نه مال اخلي او په هغوی باندې ظلم کوي او په ورو ورو مدينې ته را نېږدې کېږي سم د لاسه يې په مدينه منوره باندې حضرت سباع بن عرفطة الغفاري مقرر کړو او پخپله له زرو کسانو صحابه وو ﷺ سره په دوی پسې ور ووتلو او د بني عُذرة نه يې يو کس د خپل دليل

(راه بلد، لاره ښودونكي) په صفت له ځان سره روان كړو چې دوى ته لاره ور وښيي د اسلامي غازيانو لښكر چې د دومة الجندل ځاى ته ورسېدو هغوى ټول تربړنه و تښتېدل او مسلمانانو ته يې د مخامخ كېدو توان په ځان كې ونه ليدو په ساحه كې يو كس پيدا كړل شو حضرت محمد بن مسلمة ۞ را ونيولو او رسول الله ﷺ ته يې راوستلو هغه وويل چې دلته ډېر زيات كسان وو كله چې خبر شول چې مسلمانان په مونږ پسې را ووتل ټول و تښتېدل رسول الله ﷺ ده ته اسلام ور وړاندې كړو هغه مسلمان شو پدې غزوة كې مسلمانانو ته ډېر غنيمت په لاس ورغلو كوم چې د دومة الجندل خلكو په داسې حالت كې پرېښى وو چې هغوى تښتېدلي وو .

رسول الله ﷺ څو ورځې هلته پاتې شو يوې بلې خواته يې له هغه ځاى نه د صحابه وو ﷺ ډلې ولېږلې لكن هېڅوك پيدا نه شول چې دوى ته په مخه ورشي او دا ځاى د مدينې منورې نه د ١٥ ورځو په مسافه كې پروت دى رسول الله ﷺ چې په خپل امت باندې مهربان نبي او په خپلو رعيت باندې مهربان امير وو پدې سفر سره يې هغه علاقه د دوى د شر نه خلاصه كړه او امن يې پكې راوستلو .

غزوة بني مصطلق (غزوة المريسع)



د هجرت په پنځم کال د شعبان په مياشت کې دا غزوة هغه وخت واقع شوه کله چې رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې د بني مصطلق مشر حارث بن ابي ضرار د خپل قوم او څه نورو قبائلو سره را وتلی دی او په مدينه منوره باندې حمله کول غواړي اوددې هدف لپاره يې څه آسونه او جنګي سامان هم اخستی دی او جنګ ته تيار شوي دي رسول الله ﷺ بريدة بن الحصيب الاسلمي ولېږلو چې د دوی په احوال باندې ځان پوه کړي هغه راغلو دوی يې وليدل او په څه بهانه يې د حارث بن ابي ضرار سره خبرې هم وکولې بېرته راغلو

رسول الله ﷺ ته يې قصه وکوله رسول الله ﷺ بغير ددېنه چې څنډ پکې وکوي صحابه ؓ را ټول کړل د اوه سوه کسانو مجاهدينو سره چې ډېرش کسان آسونو واله ورسره وو او منافقين هم ورسره وو پسې ور ووتل او حضرت زيد بن حارثه 8 يې په مدينه منوره باندې د خپل نائب په توګه پرېښودو .

حارث بن ابي ضرار ته خبر ورغلو چې رسول الله ﷺ په دوی پسې ور ووتلو ډېر سخت و ډار شو او هغه کسان چې د نورو قبيلو نه عرب د دوی سره را ټوله شوي وو ټول تري خپاره شول او ډېره وېره هغه وخت د دوی زړو نو ته ور ننوتله چې حارث يو خپل ډېر تکړه او اعتباري ملګری ددې لپاره ولېږلو چې د مسلمانانو احوال دوی ته ورووړي هغه جاسوس رسول الله ﷺ ونيولو نو يې د بني مصطلق د لښکر په اړه تري پوښتنې وکولې هغه د ځواب ورکولو نه انکار وکولو نو يې اسلام ورته وړاندې کړو او هغه ته يې د اسلام دعوت ورکړو د اسلام د قبلولو نه يې هم انکار وکولو رسو ل الله ﷺ امر وکولو چې قتل يې کړئ مسلمانانو هغه قتل کړو دا خبر چې کفارو ته ورسېدو نو ډېره زياته وېره يې په زړه ننوته .

د مسلمانانو لښکر چې المريسع نومي ځای ته ورسېدو (په پورتنی نقشه کې ښکاره کړل شوی دی) مسلمانانو مرکز جوړ کړو پدې سفر کې رسول الله ﷺ حضرت عائشه او حضرت ام سلمة رضی الله تعالی

عنهما هم له ځان سره بېولي وي هغوی يې په مرکز کې په خيمه کې پرېښودي او رسول الله ﷺ د ټولو مجاهدينو سره ځان د دښمن سره مخامخ کېدو ته تيار کړو دمهاجرينو بيرغ يې حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه ته ورکړو او د انصارو بيرغ يې حضرت سعد بن عبادة ته په لاس ورکړو رسول الله ﷺ د کفارو په مقابل کې خپل صف جوړ کړو بيا يې حضرت عمر رضي الله عنه ته وويل چې دې کفارو ته ووايه چې ټول دې لا اله الا الله ووايي (اسلام د قبول کړي) د دوی مالونه او ځانونه به په امن شي حضرت عمر رضي الله عنه هغوی د اسلام لوري ته را وغوښتل لکن هغوی د اسلام قبلولو نه انکار وکول نو د دواړو ډلو په مينځ کې د غيشو ويشتل شروع شول او تر لږ ساعت پورې يې يو بل په غيشو سره ويشتل بالآخره رسول الله ﷺ په يو ځل په هغوی باندې حمله وکوله لس کسان يې تري ووژل پاتې ټول يې ژوندي ونيول او د مسلمانانو له لوري نه صرف يو کس په شهادت ورسيدو .

مسلمانانو ته ۲۰۰۰ اوښان او ۵۰۰۰ مېږې د غنيمت په ډول په لاس ورغلل او د بني مصطلق دوه سوه ښځې هم د وينزو په ډول بنديانې شوې په دوی کې د دوی د سردار لور بره هم وه په تقسيم کې هغه حضرت حسان رضي الله عنه ته ورسېده هغه مکاتبه کړه (معلومې پيسې يې ترې وغوښتې چې دا راکړه ته به ازاده وې) هغه پيسې حضرت رسول الله ﷺ ورته اداء کړې چې دا ازاده شوه بيا

رسول الله ﷺ د هغې سره واده وکولو او نوم يې جويريه ورباندې کېښود نو دا چې د رسول الله ﷺ بي بي شوه صحابه وو ددې د قوم ټول بنديان خوشې کړل او د رسول الله ﷺ هدف ددې په واده کې دا وو چې رسول الله ﷺ به د دوی زوم شي دا به ددې په قوم کې د ډېرو خلکو د اسلام لامل وګرځي او دا هدف په رښتيا سره د رسول الله ﷺ د واده نه وروسته په ډېر ښه ډول لاس ته راغلو او ددې په قوم کې زيات خلک په اسلام مشرف شول .

لکه مخکې چې تېر شول پدې وتلو کې د رسول الله ﷺ سره منافقين هم پداسې تعداد وتلي وو چې ددېنه وړاندې کله دوی غزا ته په داسې اندازه نه وو وتلي وجه يې دا وه چې د غزا ځای نېږدې وو او بني مصطلق مالدار خلک وو دوی پوهېدل چې پدې کې به مونږ ته د غنيمت ښه برخه په لاس راشي .

کله چې بېرته مديني منورې ته راستانه کېدل په لاره کې مجاهدينو اوبه څښلې د حضرت عمر ؓ غلام جهجاه بن مسعود د انصارو د يو مجاهد حضرت سنان بن وبرة ؓ سره د ډېر بير بار له امله ټيله ووهله بيا يې يو بل سره ټېله کړل او وړوکی غوندې جنګ تري جوړ شو انصاري صحابي ؓ انصارو ته چيغه کړه او مهاجر مهاجرو ؓ ته نېږدې وو چې لوی جنګ تري جوړ شي رسول الله ﷺ خبر شو او دواړو ته يې وويل چې غلي شئ

خبره خلاصه شوه دواړو د رسول الله ﷺ اطاعت وکولو
.

لکن منافقين خو د شيطانت نه خالي نه وي ددې خبرې نه يې لويه خبره جوړه کړه او انصارو ته يې ويل چې دا مونږ پخپله هرڅه کړي دي مونږ د دوی سره مرسته کوو اوس دوی زمونږ په ځای کې له مونږ سره جنګ کوي تاسې دوی ته پيسې مه ورکوئ مرستې ورسره مه کوئ پخپله به د مدينې نه لاړ شي چې کله مدينې منورې ته ستانه شو نو : عزتمن خلک به ذليل له مدينې نه وباسي (مطلب يې د عزتمن نه د مدينې انصار او ځان وو او د ذليل نه مهاجرين وو نعوذ بالله رسول الله ﷺ هم په مهاجرينو کې راتلو)

زيد بن ارقم وړوکی هلک وو دا خبرې يې واورېدې او رسول الله ﷺ ته يې ورسولې حضرت عمر ❽ رسول الله ﷺ ته وويل اجازه راکړه چې ددې منافق سر پرې کړم بيا رسول الله ﷺ ورته وويل نه بيا به خلک وايي چې رسول الله ﷺ خپل ملګري وژني
...

عبد الله بن ابی بن سلول منافق خبر شو چې ماشوم زما خبرې رسول الله ﷺ ته رسولې دي راغلو رسول الله ﷺ ته يې قسم و خوړو چې دا خبرې ما نه دي کړې او هلک تاته دروواغ ويلي دي نورو خلکو هم وويل کېدای شي هلک په خبر پوه شوی نه وي کشر دی او يا يې اصلي خبره هېره شوې وي (ځکه منافق قسم خوړلو چې ما دا خبرې نه دي کړې)

پدې کې وحی راغله چې منافق عبد الله بن ابی بن سلول یې وشرمولو او د زید بن ارقم تصدیق یې وکولو .

سورة منافقون آیة ۷-۸

هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُواْ عَلَىٰ مَنۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّواْۗ وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَفۡقَهُونَ ۝٧ يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعۡنَآ إِلَى ٱلۡمَدِينَةِ لَيُخۡرِجَنَّ ٱلۡأَعَزُّ مِنۡهَا ٱلۡأَذَلَّۚ وَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ۝٨

ترجمه : دا منافقین هماغه کسان دي چې وايي د رسول الله ﷺ په ملګرو مصرف مه کوئ تردې چې دوی ددې ځای نه خپاره شي .. د الله ① سره د اسمانونو او زمکې خزانې دي لکن منافقین نه پوهیږي دوی وايي چې مونږ مدینې ته ستانه شو معزز خلک به ذلیل خلک تري وباسي .. عزت خو الله د هغه رسول او مومنانو لره دی منافقین نه پوهیږي .

چې دا آیتونه نازل شول نو بیا خلکو ورته وویل ورشه رسول الله ﷺ ته چې هغه درته بښنه وغواړي ده ورته وویل : تاسي ماته ویل چې ایمان راوړه ما راوړو، تاسي راته ویل چې د خپل مال زکات

ورکړه هغه مې هم ورکړو اوس صرف دا پاتې دي چې رسول الله ته سجده وکوم ...
دده ددې خبرې په اړه وحی راغله :
سورة منافقون آیة ٥

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ لَوَّوْاْ رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ۝٥

ترجمه : کله چې دوی ته وویل شي راشئ چې رسول الله ﷺ درته بښنه وغواړي دوی خپل سرونه تاو کړي انکار وکوي په داسې حال کې چې دوی کبر کوي .

د عبد الله بن ابی زوی جليل القدر صحابي وو کله چې هغه دده په دې خبر باندې خبر شو په مدينه منوره کې يې را ونيولو ورته يې وويل چې ووايه : زه ذليل يم او رسول الله ﷺ د عزت خاوند دی په زور يې دا اقرار وربانددې وکولو او توره په لاس ورته ولاړ وو وژلو يې او ورته ويل يې ترڅو چې رسول الله ﷺ اجازه ونه کوي ته مدينې ته نشې ننوتلی بيا رسول الله ﷺ ورته وويل پرې يې ږده ترڅو چې دی په مونږ کې وي مونږ به ورسره ښه رويه کوو .

په همدې غزوه کې منافقينو د افک (په عائشه رضی الله تعالی عنها باندې د تور لګولو) ډنډوره جوړه کړه چې قصه يې د تاريخ په کتابونو کې

مشهوره ده مونږ به يې هم په خپل ځای باندې ذکر وکوو .

غزوة خندق (غزوة الاحزاب)

رسول الله ﷺ كله چې د بني النضير يهود له مديني منورې نه پسې واخستل دهغوی سردار حيی بن اخطب مكې مكرمې ته لاړو او د رسول الله ﷺ جنګ ته يې خلك را وپارول او يوه لويه وعده يې ورسره دا وكوله چې اوس هم په مدينه منوره كې زما ٧٠٠ كسان جنګيالي شته په بني قريظة كې هغوی د رسول الله ﷺ سره تړون كړی دی لكن هغه زما خپل يهود دي زه درته هغوی دپته تيا روم چې د رسو الله ﷺ سره كړی تړن مات كړي.

ابو سفيان او نور د قريشو مشران دده سره و كرځېدل د عربو په ټولو قبائلو باندې را تاو شول او د رسول الله ﷺ جنګ ته يې لس زره كسان

جنګيالي برابر کړل مشري يې ابو سفيان بن حرب او عباس بن مرداس کوله پروګرام يې جوړ کړو او د هجرت په پنځم کال د شوال په مياشت کې د دوی په ګمان د اسلام د بيخ او بنياد وېستلو لپاره مدينې منورې ته را روان شول .

په تاريخ کې د غزوة خندق اهميت

کله چې د احد د غزا په آخر کې په راتلونکي کال کې بيا د لوی جنګ کولو وعده وشوه چې په بدر کې به سره مخامخ کيږو مسلمانان په معلومه نېټه معلوم ځای ته ورسېدل لکن کفار و ډار شول او له وتلو نه يې ډ ډه وکړه پدې سره د مسلمانانو شان په ټولو خلکو کې لوړ شو په مدينه منوره کې چې کوم منافقين وو هغوی خپل کفر لا نور هم تخته کړو او ځان يې داسې ښکاره کولو لکه دوی چې ښه کلک مسلمانان وي له بله پلوه په مدينه منوره کې د يهودو صرف يوه قبيله بني قريظة پاتې وه هغوی په ښکاره سره دهغه تړون پابند وو کوم يې چې د رسول الله ﷺ سره کړی وو لکن په زړونو کې د مسلمانانو په ترقي باندې ډېر زيات خفه کېدل او چې موقع په لاس ورغلې وای چې دوی په مسلمانانو څه داسې تېری کولای شوی چې دوی پکې کامياب کېدلای شوی نو مخ يې نه اړولو له بله پلوه قريش چې په وعده کړل شوي تاريخ باندې بدر ته جنګ ته ونه وتل هېڅ عذر يې نه درلود صرف ډارېدل نو پدې

اړه يې فکرونه کول چې دا خو مسلمانان له مونږ نه زورور شول ددېنه وروسته به زمونږ او د شام په مينځ کې د تجارت لاره بنده شي دا خوبه ژوند ډېر سخت کړي او که د اسلام ترقي همداسې روانه وه نو په راتلونکې کې زمونږ ژوند ته هم خير نشته ددې امله د مکې کفارو خپل ټول کوښښ په کار واچولو او د رسول الله ﷺ جنګ ته يې د ټولو عربو قبيلې را جمع کړې او دا په تاريخ کې ډېره عجيبه وه چې عرب دې ټول په يوه قومانده کوم جنګ ته جمع شي ددېنه وړاندې يو ځل عرب مخکې جمع شوي چې (يوم ذي قار) ورته وايي د فارسيانو سره د عربو جنګ وو او عربو ترې ګټلې وو نو په ټول تاريخ کې دا دوهم ځل وو چې ټول عرب په يوه قومانده جنګ ته حاضريږي پدې جنګ کې چې دوی د رسو الله ﷺ په خلاف لاسونه يو کړي دي د هرچا خپل مقاصد وو چا ته خپل تجارت په خطر کې ښکاره کېدو، د ځينو عربو ژوند صرف په لاره وهنه او غلا باندې وو هغوی پوهېدل چې د اسلام په ترقي کې د رزق دا لاره په دوی باندې بنديږي ځينو ته د اسلام او د دوی د زړې عقيدې خبره مطرح وه نيتونه د ټولو بدل بدل لکن مقصد يې يو وو چې اسلام ختمول وو پدې ټولېدنه کې لوی او مهم رول د يهودو وو لکن هغوی د خپل عادت مطابق جنګ ته هېڅ وخت نه حاضريږي صرف نور خلک را هڅوي چې جنګ وکوي په خندق کې يې هم د همدې خپل عادت مطابق عرب جنګ ته را وپارول او خپله يهود پکې ونه جنګېدل .

له کومه وخته چې اسلامي دولت جوړ شوی وو دا تر ټولو خطرناک خبر وو چې مدینې منورې ته ورسیږدو چې لس زره کسان په مدینه منوره باندې حمله کول غواړي او عرب به چې د کومې واقعې لپاره را جمع شول چې تعداد به یې زرو کسانو ته ورسیږدو نو دوی به فخر کاوه ویل به یې چې زر کسان کله هم د خپل عدد د کموالي له امله ماتې نه خوري لکن مسلمانانو ته چې کله دا خبر ورسیږدو دهغوی حوصله یې ماته نشوای کړلی الله ① پدې اړه فرمایي :

سورة احزاب آیة ۲۲

وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الأَحْزَابَ قَالُوا هَذَا مَا وَعَدَنَا اللهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلاَّ إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا

ترجمه : کله چې مومنانو د دوی په خلاف را ټول شوي جماعتونه ولیدل ویې وفرمایل دا هغه څه دي چې الله او دهغه رسول زمونږ سره وعده کړې وه بېشکه الله او دهغه رسول رښتیا ویلي دي او ایمان او تسلیم یې نور هم زیات شول .

الله ① رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو چې ټول کفار د اسلام د مقابلې لپاره را وزي او د مسلمانانو سره یې د مرستې وعده وکوله له بله پلوه منافقین چې خبر شول نو یې وویل دا څنګه کېدای شي رسول الله ﷺ به د ټولو عربو سره پدې لږو کسانو څنګه جنګیږي؟ الله تعالی و فرمایل :

سورة احزاب آیة ۱۲


وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ مَا وَعَدَنَا اللهُ وَرَسُولُهُ إِلاَّ غُرُورًا

ترجمه : درياد کړه هغه وخت چې هغه کسان چې منافقين دي ويل يې الله او دهغه رسول زمونږ سره صرف د دوکې وعده کړې .

منافقينو فيصله وکوله چې دوی به د رسول الله ﷺ سره د جنګ خبره نه مني او نه به ورسره همکاري کوي او تاريخ ګواه دی چې منافقين هروخت په سخته کې اسلام پرېږدي .

مسلمانان پدې يقين وو چې الله ① به زمونږ مرسته کوي او پدې پوهېدل چې کله مونږ پدې واقعه کې هم بريالي شو نو بيا به داسلام خلاف په عربو کې څوک هم نشي کولی ددې امله مسلمانان ورته خوشحال وو .

هغه وخت راغلو چې نورې خبرې ختمې شوې او د رښتيا وخت شو د قصې د شروع نه وړاندې به د جګړې په دواړو طرفونو باندې نظر واچوو .



اوله ډله

د مسلمانانو ډله وه مشري يې رسول الله ﷺ پخپله کوله مهاجرين او انصار مجاهدين پوره په زړورتيا سره د جهاد ميدان ته وتلي وو شمېره يې ۳۰۰۰ مجاهدينو ته رسېدله .

دوهمه ډله

د کفارو ډله وه د قريشو کفار وو، د بني کنانة خلک وو، د بني غطفان خلک وو ، اهل تهامة پکې شامل وو او بنو النضير يهودو يې د مرستې وعده کړېوه مشري يې ابو سفيان بن حرب ، عيينة بن حصن الفزازي، حارث بن عوف ، مسعر بن رخيلة کوله هرڅوک د خپلې قبيلې مشر وو د دوی شمېره ۱۰۰۰۰ لس زره کسانو ته رسېده .

کله چې رسول الله ﷺ د ټولو خبرونو څخه خبر شو نو د صحابه ﷺ سره يې مشوره وکوله چې څه وکوو؟ څنګه به دفاع کوو؟ حضرت سلمان فارسي ﷺ پکې رايه وړاندې کړه چې د مدينې منورې نه به ګرد خندق وباسو او د هغې سره به مجاهدين کيني نو دښمن ته به سخته شي چې تر هغه خندق را تير شي رسول الله ﷺ او صحابه ﷺ دا رايه خوښه کړو او سم د لاسه يې د خندق په کيندلو شروع وکوله او په ۱۵ ورځو کې يې د خندق ويستل پوره کړل د خندق ځای په پورتنۍ نقشه کې په نښه شوی دی .

د هجرت په پنځم كال د شوال په مياشت كې كفار مديني منورې ته را ورسېدل صحابه ﷺ هم په ۳۰۰۰ تعداد كې را ټول شول او په مختلفو نكتو كې يې د خندق د ساتنې لپاره كسان كېنول او د ګزمې ګروپونه يې هم مقرر كړل او ټول پدې پوه وو چې مهم كار د خندق ساتنه كول دي چې دښمن بايد ترېنه په هېڅ قيمت هم را تېر نه شي .

كفارو كوښښ شروع كړو چې په هر قېمت وي بايد له خندق نه تېر شو لكن د مسلمانانو له غيشو سره به په داسې ډول مخامخ شول چې د مخكې تللو حوصله به يې له لاسه وركړه او ځينې يې تر ډېر كوښښ وروسته له خندق نه په تېرېدلو باندې كامياب هم شول لكه يو ځل چې يوه ډله خلك په سر كې يې مشهور جنګي پهلوان عمرو بن عبدود وو عكرمة بن ابو جهل ، ضرار بن الخطاب او نور كسان ورسره وو را تېر شول د مسلمانانو سره يې جنګ شو حضرت علي ❽ ور ورړاندې شو د كفارو د پهلوان نه يې سر ډېر په اسانه سره پرې كړو او مردار يې كړو څومره كسان چې نور ورسره راغلي وو د تېښتې لاره يې خپله كړه يو ځل حضرت اسيد بن حضير ❽ د خالد بن وليد د آسونو له ډلې سره مخامخ شو مقابله يې وكوله كفارو ته يې ماتې وركړه .


غزوه اوږده شوه مختلفې حادثې مېنځ ته راغلې يو ځل چې دوى سر په سر حملې كولې او

مسلمانانو يې دفاع کوله د مازيگر د مانځه وخت له مسلمانانو نه تېر شو او دومره وخت پيدا نه شو چې مسلمانان پکې مونځ وکوي د بخاري شريف د حديث له مخې رسول الله ﷺ و فرمايل : الله ① د ددوی کورنه او قبرونه له اور نه ډک کړي مونږ يې د مازيگر مانځه ته پرې نه ښودلو د مسند امام احمد د روايت له مخې يوه ورځ د مسلمانانو څخه د ماسپښين ، مازيگر او ماښام مونځونه ټول قضاء شول بيا يې د ماسخوتن سره په يو ځای وکول اودا غزه يوه هفته دوې نه وه بلکه پوره مياشت روانه وه او صرف په مسلمانانو نه بلکه په دوی باندې هم ډېره سخته وه الله تعالی فرمايي :

سورة النساء آية ١٠٤

إِنْ تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ

ترجمه : که تاسې دردېږئ نو دوی هم داسې دردېږي لکه تاسې چې دردېږئ .



د مسلمانانو سره د بني قريظة د يهودو خيانت

كفارو چې هرڅه كوښښ وكولو تر خندق را تېر نه شول د بني النضير د يهودو مشر حيى بن اخطب چې پدې وخت كې د كفارو لوى همكار وو د مشكل د حل كولو يوه بله لاره پيدا كړه هغه دا چې تاسې په نقشه كې وينئ چې خندق د مديني په يو طرف كې دى او بني قريظه په بل طرف د مديني منورې په جنوب الشرق لوري كې واقع دي ده فكر وكاوه كه هغوى مشركينو ته لاره وركړي چې مديني منورې ته ننوزي نو بس مدينه ختمه شوه ددې مردار نيت سره حيى بن اخطب لاړو د بني قريظة د مشر كعب بن اسد سره يې وكتل ورته يې وويل چې گوره زه تاته د ډېر لوى اميد سره راغلى يم او لما سره نن د مكې او د ټولو عربو مشران دي او دوى لما سره راغلي دي ترڅو چې دوى محمد ﷺ او هغه كسان چې له ده سره دي ختم نه كړي بېرته نه ځي .

كعب ورته وويل چې ته ماته په ډېر بد څه باندې امر كوې د محمد ﷺ نه تر اوسه پورې ما صرف وفا ليدلې ده او دهغه نه مې ټول عمر رښتيا ليدلي هغه په هېڅ خبره كې له مونږ سره خيانت نه دى كړى زه ورسره دا خيانت نه شم كولى حيى بن اخطب تشويق كولو آخر يې هغه رضا كړو چې كه تاته هرڅه در پېښيږي زه د ټولو عربو په

نمائندګي لتا سره وعده کوم چې مونږ به لتا سره درېږو او هغه يې هم دېته رضا کړو چې ترڅو به مونږ نه کينو ترڅو مو چې محمد ﷺ او د هغه ملګري ختم کړي نه وي .

او په تړون کې د مشرکينو ته صرف لاره ورکول نه وو بلکه له هغوى سره به مرسته هم کوي او دوى فکر کاوه چې که مونږ مشرکينو ته لاره ورکړو چې ننوزي او لس زره جنګيالي مدينې ته ننوزي نو بيا ددې ګمان هم نه کيږي چې په مدينه کې دې څوک ژوندي پاتې شي نو بيا ډار له څه نه دی ؟

رسول الله ﷺ چې په يهودو يې اعتماد نه درلود له مخکې نه په هغوى باندې کسان مقرر کړي وو چې هغوى به څاري ددې امله چې په کوم وخت کې دا تړون وشو رسول الله ﷺ ته خبر را ورسېدو چې هغوى خيانت ته ملا وتړله ددې لپاره چې دا خبره سمه معلومه کړي رسول الله ﷺ يوه ډله صحابه ؓ چې سعد بن معاذ ، سعد بن عبادة ، عبد الله بن رواحة او څه نور کسان پکې شامل وو ولېږل او دوى ته يې وويل چې ددې قضيې څېړنه وکوئ که چېرته هغه څه چې ماته را رسېدلي دي رښتيا وي (هغوى خيانت ته ملا تړلي وي) نو ما به په اشارو کې پوه کړئ او که چېرته هغوى د مسلمانانو سره په کړي تړون ولاړ وي نو بيا خبره ښکاره کړئ او په جهر سره وواياست .

هغوی لاړل د یهودو د مشرانو سره یې خبرې وکولې هغوی د رسول الله ﷺ په شان کې ګستاخي وکوله او ښکنځل یې وکول او ویل یې رسول الله څوک دی؟ زمونږ او د محمد په مینځ کې هېڅ ډول تړون نشته او نه مو څه تعهد کړی دی .

صحابه ؓ چې رسول الله ﷺ ته راغلل ورته یې وویل عضل و قارة (یعني داسې خیانت کول غواړي لکه د عضل او قارة خلکو چې د هغه صحابه وو ؓ سره وکولو چې ورغلي وو قصه یې مخکې تېره شوه) رسول الله ﷺ ددې خبرې په آورېدلو باندې سخت خفه شو سر یې په خپل څادر کې پټ کړو او تر ډېره وخته پورې یې فکر کاوه چې څه به کیږي بیا یې یودم سر را پورته کړو ویل یې : الله اکبر زیری قبول کړی ای مسلمانانو د الله په فتح او نصرت باندې .

د بني قریظة وو د خیانت خبر خپریدل

هرڅو چې مسلمانانو کوښښ کاوه چې د بني قریظة د خیانت خبر باید پټ وساتي لکن هغه پټ پاتې نه شو د الله تعالی حکمت پدې کې وو چې دا خبر باید خپور شي او هرڅوک وربانډې خبرې وکوي او

د مسلمانانو او منافقينو صفونه يو له بل نه بېل شي .

د صلح لار لټول

رسول الله ﷺ د صلح په اړه فکر وکولو چې د څه کسانو سره خبرې وشي او هغوی د کفارو له صفونو څخه بهر شي ددې لپاره يې د غطفان قبيلې له مشرانو سره په داسې توګه خبرې وکولې چې صحابه پکې نه وو يا خو ددې امله چې حالات دېته نه وو برابر چې رسول الله ﷺ د صحابه وو سره خبرې کړې وای او را ټول کړي يې وای او يا خو ددې امله چې دا خبرې ډېرې خاصې وې او په داسې سويه وې چې صرف د هغوی مشران عيينة بن حصن او حارث بن عوف او دمسلمانانو مهربان قائد ﷺ پکې شريکان وو هغوی د رسول الله ﷺ نه غوښتنه وکوله چې ټول کال به مونږ ته د مدينې منورې د خورما څخه دريمه برخه را کوئ مونږ د کفارو له صف نه خپل کسان وباسو رسول الله ﷺ دا خبره رد نه کړه او ويې ويل چې زه به د خپلو کسانو سره پرې مشوره وکوم په تادي سره يې د حضرت سعد بن معاذ د اوس او سعد بن عبادة د خزرج د مشرانو سره پرې مشوره شروع کړه پدې وخت کې يوه مياشت تېره شوې وه چې مدينه لا په محاصره کې وه رسول الله ﷺ د انصارو د مشرانو سره دا مشوره ځکه ضرور و ګڼله چې دا کجورې خو ددوی

ملک دی رسول الله ﷺ پخپله سره ددي چې د اسلام دولت بادشاه دی لکن بیا یې هم ددوی د مال په اړه فیصله نه کول غوښتل حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته و فرمایل دا چې مونږ به هغوی ته دا کجوري ورکوو دا ستاسي رایه ده او که الله ﷻ تاسي ته امر کړی دی؟ د سعد رضي الله عنه مطلب دا دی چې که د الله امر وي نو بیا خو د خبرې ځای پکې نشته بیا خو به یې خامخا منو او که چېرته د رسول الله ﷺ خپله بشري رایه وي نو بیا به مونږ هم خپله رایه وړاندې کړو رسو ل الله ﷺ ورته وویل نه دا زما خپله رایه ده او ستاسي لپاره مې دا فکر کړی دی چې عرب ستاسي په مقابل کې یو شوي دي او تاسي له یو غیشي نه ولي نو که دا کار وشي ددوی فشار به یو څه کم شي .. حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه ورته وویل : ای د الله رسوله ﷺ مونږ ته په اسلام او ستاسي په مبارک وجود باندې عزت راکړی دی ددې امله مونږ دوی ته اوس مال ورکړو؟ بالکل مو دې صلح ته ضرورت نشته مونږ به د دوی سره صرف په توره سره مخامخ کیږو ترڅو چې الله ﷻ زمونږ او د دوی په مینځ کې فیصله وکوي .

د حضرت معاذ رضي الله عنه رایه اګر چې د رسول الله ﷺ له رایې نه بدله وه لکن بیا هم رسول الله ﷺ د حضرت معاذ رضي الله عنه رایه خوښه کړه او ورته یې وویل سمه

ده او د غطفان مشرانو ته يې خبر ور ولېږلو چې ستاسې پروني شرط په تړون کې مونږ ته منظور نه دی او هغه صلح مونږ نه کوو .
د حضرت سعد بن معاذ او سعد بن عبادة رضی الله تعالی عنهما رايه ډېره ژوره وه ځکه دلته مشکل صرف د دريمې برخې خورما (کجورو) نه وو مشکل دلته د مسلمانانو کمزوري ښکاره کېدل وو ددې امله دوی ترېنه انکار وکولو .

حضرت سعد بن معاذ ❽ ددې فيصلې نه وروسته په پښه باندې په غيشي باندې ولګيد د يو قول له مخې په لاس ولګېد او سخت زخمي شو پدې وخت کې دی د ۳۷ کلونو وو ، د خپل قوم اَوس مشر وو، هر چا يې خبره منله، د زماني حکيم وو او د الله ① او دهغه د رسول دوست وو په زخمي کېدو باندې يې هېڅ خواشيني ښکاره نه کړه او ويې فرمايل : ای الله که دا جنګ نور دوام کوي نو ما مه وژنه ماته وس راکړه چې نور هم و جنګېږم او که چېرته دا جنګ اوس د ختمېدو په حالت کې وي نو بيا مې شهادت نصيب کړه .
د حضرت سعد بن معاذ ❽ په زړه کې د مسلمان امت لپاره درد وو او دا درد يې په زړه کې وو چې د مسلمانانو سره به څه کېږي او هغه ددېنه ښکاره کېده چې ده دعا کوله وَلاَ تُمِتْنِي حَتَّى تُقِرَّ عَيْنِي مِنْ بَنِي قُرَيْظَةَ (تر هغه وخته پورې مې مه وژنه ترڅو مې چې په بني قريظة باندې سترګې يخې شوې نه

وي يعني چې د مسلمانانو په لاس مې د دوی تباهي په خپلو سترګو ليدلې نه وي .

حضرت نعيم بن مسعود ❽

دا يو داسې مشرک وو چې دده اسلام راوړل ډېر مشکل کار وو او په داسې وخت کې چې ټول عرب تر مدينه منوره را تاو شوي وو او هره لحظه د مسلمانانو د ماتې او تباهي انتظار کېدو يهودو هم خپل مخالفت اعلان کړو نو دده اسلام بالکل محال وو لکن پداسې حالاتو کې هغه راغلو رسول الله ﷺ ته يې ويل ما اسلام قبول کړی دی لکن زما قوم وربانديې نه دی خبر امر راته وکوئ څه خدمت درته وکوم ؟

رسول الله ﷺ ورته وويل : بس ته خپل ايمان همداسې پټ وساته او څومره چې کولی شي ددوی په مينځ کې مشکل جوړ کړه ځکه جنګ هسې هم دوکه وي او څه يې هم ورته ونه ښودل چې بايد څه وکوي هرڅه يې ده ته پرېښودل چې ده ته کوم کار ښه ښکاره کيږي بس هغه دې وکوي .

نعيم بن مسعود هغه کس وو چې قريشو او يهودو دواړو ډلو د احترام په نظر ورته کتل او د ښه قيادت ملکه يې لرله او هر چا يې قدر کولو د بني قريظة يهودو ته راغلو پداسې حال کې چې دوی فکر کاوه چې دا خو مشرک دی نو يې ښه ا

ستقبال وكولو او د غطفان د قبيلي د مشر په صفت يې ورته كتل دوى ته يې وويل چې تاسې ته خو معلومه ده چې زه لتاسې سره څومره مينه كوم ستاسي زه ډير احترام كوم دوى ورته وويل هو بالكل ده ورته وويل خبر شوم تاسې د مشركينو سره د كمك وعده كړې ده لكن كه تاسې فكر وكوئ قريش ستاسې په ډول نه دي يثرب ستاسې وطن دى پدې كې ستاسې مالونه دي كورونه دي ماشومان او ستاسې ښځې دي دا خو تاسې بل چېرته نه شئ وړلي تاسې په مدينه كې تړلي ياست او قريش خو د دوو پښو خلک دي له مكې نه راغلي د محمد سره جنگ كول غواړي كه كامياب شول خو ښه خبره ده او كه ناكام شول نو بېرته به لاړ شي مكې ته خوتاسې به بيا څه كوئ؟ محمد به بيا ستاسې نه خامخا انتقام اخلي ...

دوى ورته وويل : نعيمه بيا ته وواېه مونږ څه وكوو؟ ده ورته وويل د دوى نه گرو او گانړه څه لوى شى وغواړئ ترڅو يې چې دركړي نه وي نو په جنگ كې ورسره مه كوئ هغوى به درنه لاړ شي تاسې به پريږدي بيا به مسلمانان لتاسې نه انتقام اخلي ..

دوى وويل : ډېره ښه مشوره ده .

نعيم ددې ځاى نه روان شو مشركينو ته ورغلو د هغوى په مينځ كې خو هسې هم منلى كس وو دوى ته يې وويل بني قريظة ستاسې سره د كمک په وعده كې پښېمانه شوي دي رسول الله ﷺ بېرته ورسره

خپله رابطه ټینګه کړېده زه خبر شوی یم چې ستاسې نه څه زیات شی په ګرو کې غواړي هغه مسلمانانو ته ورکوي که لتاسې نه ګرو وغواړي چې ور یې نه کړئ بیا د غطفان قبیلي خلکو ته راغلو هغوی ته یې هم همداسې وویل نو قریش او غطفان یعنې ټول مشرکین پوه شول چې کېدای شي بني قريظة رښتیا پښېمان شوي وي نو یې فوراً په شریکه سره یو لیک ور ولېږلو چې پکې لیکلي یې وو راځي چې په مدینه باندې حمله کوو او نور د انتظار وخت نشته .

د الله ① د رحم او کرم سره دا د شنبې ورځ وه او یهود د شنبې په ورځ د جنګ نه منع کړل شوي دي نو هغوی ته ښه بهانه په خوله ورغله چې نن خو شنبې ده او پدې ورځ مونږ جنګ نه کوو او بیا هم چې مونږ جنګ کوو مونږ ته به په ګرو کې خپل کسان راکوئ هغوی به له مونږ سره د مونږ په ځای کې وي که تاسې و تښتئ هغوی به له مونږ سره وي .

مشرکینو وویل قسم ده نعیم خو رښتیا ویل له مونږ نه کسان اخلي هغه مسلمانانو ته حواله کوي نو یې یهودو ته وویل مونږ تاسې ته هېڅ شی نشو درکولی له مونږ سره مو بغیر د ګرو او ګانې نه تعهد کړی دی راځئ چې په مدینه باندې حمله وکوو .

یهودو وویل قسم ده نعیم رښتیا ویل .

هماغه وو چې یهود بېرته ځینې بېل شول او د مسلمانانو له سرونو څخه لوی خطر بېرته کم شو

او د خندق د لارې کوښښ روان وو لکن هلته مسلمانان ورته ناست وو دوی وربانديې نه شوای راتللی .

په باد سره د مسلمانانو مرسته

الله ① په كفارو باندې داسې يو بادر را پورته كړو چې هېڅ خيمه يې ورته پرې نهښوده ټولې خيمې يې له بيخه ورته وويستلې دېګونه يې ورته واړول اورونه يې ورته ګل كړل نظام يې ور ګډ وډ كړو او دومره وربانديې سخت شو چې تېښتې ته يې مجبور كړل.

كه پوښتنه وشي چې دا باد اوله ورځ ولې نه راتلو پوره يوه مياشت وروسته ولې؟

ځكه چې الله ① غوښتل چې پاك مسلمانان او منافقين ښه سره بېل كړي .

دې باد دوى ولي ټول لكه عاد او ثمود هلاك نه كړل؟

ځكه چې په همدې خلكو كې وروسته ډېر خلك په اسلام مشرف شول بيا د اسلام په خپرولو كې يې لوى رول درلود .

الله ① فرمايي چې مونږ په دوى باندې باد مسلط كړو او ځينې داسې فوځونه وو چې هغه تاسې نه ليدل يعني ملائكې مو پرې مسلطې كړې الله ① فرمايي :

سورة احزاب آية ۹

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَمْ تَرَوْهَا وَكَانَ اللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا

ترجمه : اى هغه كسانو چې تاسې ايمان راوړى دى په تاسې باندې د الله نعمت درياد كړئ كله چې

تاسې ته لښکرې راغلې نو مونږ په هغوی باندې باد مسلط کړو او داسې فوځونه مو پرې مسلط کړل چې تاسې نه ليدل الله هغه څه وينې چې تاسې يې کوئ .

د کفارو ماتې

الله تعالی د نصرت وعده له مسلمانانو سره يو ځل بيا رښتيا کړه او له هر لوري را ټولو شويو کفارو ته يې شرمونکې تېښته ور په نصيب کړه څرنګه چې د کفارو مرکز د مسلمانانو له ځای نه لرې وو او نه ښکارېدو رسول الله ﷺ حضرت حذيفه بن يمان د حالاتو د معلومولو لپاره دهغوی مرکز ته ور ولېږلو هغه ؓ ټول هغه څه ولیدل چې په دوی باندې باد کړي وو او د خوشحالی نه ډک خبر يې بېرته راوړو .

د خندق په غزوة کې مهم کاڼی

حضرت براء بن عازب ؓ فرمايي مونږ چې کله خندق کيندلو يو کاڼی مخې ته راغلو چې هېڅ شي ورباندې کار نه کولو مونږ رسول الله ﷺ ته دهغه په اړه شکايت وکولو هغه مبارک ﷺ پخپله راغلو کولنګ يې د حضرت سلمان فارسي ؓ نه را واخيستو وويل: بسم الله او په هغه کاڼي يې

ګذار وكولو د هغه كاني دريمه برخه تري بېله شوه يوه رڼا ترينه را ووتله چې ټوله ساحه يې رڼا كړه رسول الله ﷺ وويل الله اكبر د شام فتوحات مو په نصيب شول زما د قسم وي چې د شام تعميرونه ماته اوس د همدې ځای نه ښكاره كيږي .

بل وار يې پري وكولو بله دريمه برخه تري بېله شوه د فارس خواته سپرميغی لاړو او رڼا يې وكوله ده ﷺ وويل الله اكبر د فارس فتح الله راكړه زما د قسم په الله وي زه قصر مداين ابيض وينم له دې ځای نه ماته جبريل خبر راكړو چې زما امت به پدې ځای باندې غالب كيږي د كاميابي زيری قبول كړئ .

دريم ګذار يې پري وكولو پاتې تېږه ماته شوه د يمن خواته رڼا تري لاړه داسې رڼا وه لكه په تياره كې چې چراغ بل كړل شي رسول الله ﷺ وويل الله اكبر د يمن فتح راكړل شوه زما د قسم وي زه د صنعاء دروازه اوس لدې ځايه وينم .

منافقينو چې ټول عمر يې د شيطانت نه بغير بل كار نه وو پدې وخت كې هم ويل چې له ضعف نه بله لاره نشته د مدينې د ساتلو لپاره خندق وباسو او رسول الله ﷺ مونږ ته د كسرى او د يمن د فتح خبري كوي ...

لكن الله تعالى دا ټولې خبرې چې رسول الله ﷺ كړې وې رښتيا كړې .

غزوة بني قريظة

جبل احد
وادي القناة
الحرة الشرقية (واقم)
المسجد نبوي
وادي بطحان
وادي مهزوز
بنو قريظة
وادي العقيق
Map by
M.Nazir Zabih

د هجرت پنځم کال د ذی القعدې میاشت

کله چې رسول الله ﷺ د خندق نه بېرته کور ته راغلو جنګي لباس او سلاح يې له ځان څخه لرې کړه د ام سلمة رضی الله تعالی عنها په کور کې وو د ماسپښين وخت وو غسل يې کولو چې جبريل ؑ ورته راغلو ورته ويل يې تاسې سلاح ايښې ده؟ ملائکو چې د خندق غزا ته سلاح را اخيستې وه تر اوسه پورې يې نه ده ايښې ځه لاړ شه مجاهدين له ځان سره کړه په بني قريظة پسې ورشئ زه لتا نه مخکې ځم په هغوی باندې زلزله راولم حضرت جبريل ؑ په خپله هم د يوې ډلې ملائکو سره هغه لوري ته لاړو رسول الله ﷺ په خلکو کې اعلان وکولو

چې څوک هم زمونږ خبره آوري او مني يې هغوی به د مازيګر مونځ د بني قريظة د ځايونو سره کوي حضرت عبد الله بن ام مکتوم ❽ يې په مدينه منوره کې خپل خليفه پرېښودو بيرغ يې حضرت علي ❁ ته په لاس ورکړو او روان شول حضرت علي ❽ چې کله د دوی قلا ګانو ته ورسېدو د رسول الله ❁ په اړه يې بدې خبرې د دوی له قلاګانو څخه آورېدلې رسول الله ❁ د مهاجرينو او انصارو په يوه ټولې کې د بني قريظة يوه کوهي ته چې بير انا (په تشديد د نون سره) يې ورته ويل ورسېدو مسلمانان ټول د رسول الله ❁ د حکم منلو ته پاځېدل او ټولو کوښښ کاوه چې څومره زر کېدلای شي چې د بني قريظة د قلا ګانو خوا ته ځان ور ورسوي په لاره کې د مانځه وخت شو ځينو صحابه وو ﷺ په لاره کې مونځ نه کولو ويل يې رسول الله ❁ امر کړی دی چې مونځ به د بني قريظة د قلا ګانو سره کوو او دهغوی نه مونځ قضاء شو بيا يې د ماسخوتن له مانځه وروسته وکولو او ځينو يې ويل : د رسول الله ❁ مطلب دا وو چې په وتلو کې بيړه وکوئ هغوی مونځ په لاره کې وکولو او په يوه ډله باندې هم ملامتي رانغله . ټول ۳۰۰۰ مجاهدين د ۳۰ آسونو سره لاړل اود بني قريظة د قلاګانو په خوا کې د رسول الله ❁ سره يو ځای شول او بني قريظة يې محاصره کړل د دوی مشر کعب بن اسد دوی را ټول کړل ورته يې وويل

د رسول الله ﷺ سره خو مو خيانت وکولو او دوی اوس راغلل مونږ يې محاصره کړو اوس به په دريو خبرو کې په يوه باندې عمل کوو .
۱. مونږ به ټول په شريکه باندې اسلام قبلوو او دا خو ثابته ده چې هغه د الله ① په حقه پيغمبر دی او دا ستاسې په کتابونو کې ښکاره ده نو بيا ولې مونږ په ده ايمان نه راوړو ايمان به قبول کړو زمونږ ځانونه او مالونه به ورسره په امن شي .
۲. يا به خپلې ښځې او ناموسونه په خپلو لاسونو باندې مړه کړو بيا به د رسول الله ﷺ جنګ ته ورانديز شو ترڅو مو چې هغوی نه وي ختم کړي او يا يې مونږ ټول نه وو ختم کړي .
۳. يا به په رسول الله ﷺ باندې د شنبې په ورځ حمله کوو چې د هغوی يقين وي چې مونږ د شنبې په ورځ د جنګ کولو نه منع يو .
قوم يې په دې دريو خبرو کې يوه هم ورسره ونه منله د دوی سردار کعب بن اسد زيات غصه شو او دا مجلس يې پای ته ورسېدو .
بيا يې مشوره وکوله چې بله لاره نشته بس رسول الله ﷺ چې څه فيصله کوي هغه به منو نو يې د مسلمانانو څخه وغوښتل چې ابو لبابة راوليږئ (يو صحابي دی) مونږ ورسره مشوره کوو دا چې کله ورغلو هغوی خپلې ښځې او ماشومان ورته را ټول کړل ټولو ورته ژړل ددې صحابي زړه ورته نرم شو دوی ترې پوښتنه وکوله چې ستا څه رايه

ده که مونږ د محمد ﷺ په فيصله باندې رضا شو؟ هغه پداسې وخت کې چې د ماشومانو او ښځو ژړا يې آورېدله په زړه نرم شوی وو او هغوی ته يې اشاره وکوله د مرۍ خوا ته مطلب يې وو چې د هغه ﷺ فيصله ستاسې په اړه حلالول دي ددې اشارې نه وروسته فوراً پوه شو چې ما د الله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ سره خيانت وکولو نو لاړو په مسجد نبوي کې يې ځان په ستنه پورې وتړلو او ويل يې ما به ځوک نه خلاصوي ترڅو چې رسول الله ﷺ په خپل لاس ما خلاص نه کړي رسول الله ﷺ ته دده خبره وشوه نو رسول الله ﷺ وفرمايل راغلی به وو ما به ورته ښنه غوښتې وه الله ﷻ به ښلی وو اوس چې ده دا کار وکړو نو زه يې هم نه خلاصوم ترڅو يې الله ﷻ توبه قبوله کړي.

څرنګه چې دوی په خپلو لويو قلاګانو کې وو او هرډول د خوراک او څښاک مواد يې په خپل ځای کې د ننه وو دوی تر ډېره وخته پورې د محاصرې په حالت کې پاتې کېدلی شول او مسلمانان چې تر دوی تاو وو په دښته کې پراته وو ورې تږې او د يوې مياشتې د خندق له واقعو څخه ستړي ستومانه وو او اوس د دوی د محاصرې ۱۵ مه ورځ وه لکن ددې سره سره يې الله ﷻ په زړونو کې وېره ور واچوله کله چې حضرت علي ❽ او حضرت زبير ابن العوام ❽ ور مخې ته شول او حضرت علي ❽ اواز وکولو چې ای د مومنانو ډلې يا به

زه هغه څه څکم چې حضرت حمزة ❽ وڅکل (شهادت) او یا به د دوی قلاګانو ته ور ننوزو او فتح کوو به یې دوی چې دا خبري واورېدې ویې ویل رسول الله ﷺ دې زمونږ په اړه فیصله وکوي چې هغه هر ډول فیصله کوي مونږ یې منلو ته تیار یو.

ټول سړي یې راغلل رسول الله ﷺ یې لاسونه وربانده وتړل او ښځې یې تر ېنه بیلې کړې د اوس قبیلې خلک رسول الله ﷺ ته راغلل ورته ویل یې په بني قینقاع کې چې مونږ څه وکول هغه مو وکول او هغوی د خزرج قبیلې سره په تړون کې وو او دا بني قریظة د مونږ (اوس) سره په تړون کې دي خیر دی لږ ښه رویه ورسره وکوئ رسول الله ﷺ ورته وویل سمه ده تاسي ته دا منظوره ده چې ستاسي نه به یو مسلمان را پورته شي او په دوی باندې به فیصله وکوي؟ دوی ټولو وویل هو نو رسول الله ﷺ ورته وویل دا سعد بن معاذ ❽ ستاسي په قبیله کې مخور او د ښې رایې خاوند کس دی دا به د دوی په اړه فیصله وکوي چې څه ورسره وکوو.

سعد ابن معاذ د هغه زخم له امله چې په غزوة خندق کې ورته رسېدلی وو (قصه یې تېره شوه) دې غزا ته نه وو راوتلی په هغه پسې یې احوال ور ولېږلو چې ورشئ هغه راولی خلک ده ته راغلل ورته ویل یې چې ګوره رسول الله ﷺ تاسي مقرر کړي یاست چې د بني قریظة په اړه باندې فیصله

وکوئ هغوی خو زمونږ سره په تړون کې وو (زمونږ حلفيان وو) د دوی په اړه ښه فيصله وکوه چې ددوی سره پکې نرمي وي دا خبرې حضرت معاذ ته ډېرې کېدلې لکن ده ورته هېڅ جواب نه ورکولو کله چې دا خبرې ورته ډېرې زياتې شوې ده ورته وويل اوس د سعد هغه وخت دي چې د الله ① لپاره به فيصله کوي او پدې لاره کې به د هېڅ ملامت کونکي د ملامتې څخه ونه ډار شي دوی چې د سعد بن معاذ ❽ نه دا خبره واورېده نو ترې غلي شول او نا اميده شول .

حضرت معاذ ❽ راوستل شو چې کله د رسول الله ﷺ مجلس ته را ورسېدو رسول الله ﷺ صحابه وو ته وويل خپل مشر ته ور پاڅېږئ هغه يې د خره نه را ښکته کړو هغه چې راغلو رسول الله ﷺ ورته وويل چې سعد بن معاذ ❽ دا خلک ستا په حکم را ښکته شوي دي ته چې څه فيصله د دوی په حق کې کوې ؟

ده وويل : زما فيصله به په دوی باندې عملي کېږي؟

رسول الله ﷺ ورته وويل : هو

سعد ❽ ويل په مسلمانانو هم ؟

رسول الله ﷺ ورته وويل : هو

سعد ❽ د رسول الله ﷺ لوري ته مخ ور واړولو ويل يې په هغه کسانو به هم زما فيصله عملي کېږي کوم چې پدې ځای کې دي؟

رسول الله ﷺ ورته ويل : هو ستا فيصله به په ما باندې هم عملي کيږي .

حضرت معاذ ؓ وويل بيا زه د دوی په اړه حکم کوم چې د دوی مالونه د تقسيم شي او د دوی سړي دې ټول قتل شي .

رسول الله ﷺ ورته وويل هغه فيصله دې وکوله چې کومه تر اوو اسمانونو څخه پورته د الله فيصله ده .

د حضرت سعد بن معاذ ؓ فيصله په پوره عدل او انصاف باندې بناء وه ځکه دوی د خندق په غزا کې د کفارو سره ملګري وکوله او د اسلام او مسلمانانو ريښې يې وپستل غوښتل او د مسلمانانو د قتل لپاره دوی ۱۵۰۰ توري ، ۲۰۰۰ نيزې ، ۳۰۰ زغرې ، ۵۰۰ ډالونه راټول کړي وو او سعد بن معاذ هغه کس هم وو چې د خندق د غزوې په وخت کې ددوی د خيانت په اړه د خبر د رښتيا او درواغو معلومولو لپاره رسول الله ﷺ دوی ته ورلېږلی وو او سعد ؓ ته دوی ويلي ووي چې رسول الله ﷺ څوک دی؟ د محمد سره زمونږ هيڅ ډول تړون نشته او رسول الله ﷺ ته يې ښکنځل کړي وو .

د حضرت سعد بن معاذ ؓ فيصله په دوی باندې نافذه شوه او د ټينګ تړون څخه د سرغړونې رښتونې سزا دوی ته ورکړل شوه او څرنګه چې د خندق له غزا نه د مکې او بني غطفان کفار خپاره شول حيی بن اخطب راغلی وو د سعد بن کعب

سره مېلمه وو پدې سلسله کې هغه هم په خپله سزا باندې ورسېدو هغه کله چې راوستل شو رسول الله ﷺ ته يې ويل زه اوس هم ستا په دښمني کې خپل ځان نه ملامتوم لكن الله ① چې څوک کاميا ب کوي هغه کاميا ب کيږي .

په دوی کې ځينې داسې خلک وو چې ددې فيصلې نه يوه شپه وړاندې په اسلام مشرف شول دهغوی ځانونه مالونه او کورونه مسلمانانو په امن کې پرېښودل هېڅ يې هم ورته ونه ويل .

عمرو ابن سعدي هغه کس وو چې د بني قريظة وو نه وو لکن د رسول الله ﷺ سره د خيانت په کولو کې د دوی سره مخالف وو او هغه ويل چې بايد درسول الله ﷺ د دښمنانو سره مرسته ونه کوله شي هغه د شپې را ووتلو حضرت محمد بن مسلمة ❽ ولېدلو چې کله يې وپېژندلو نو لاره يې ورته پرېښوده او هېڅ معلوم نه شو چې کومې خوا ته لاړو .

د بني قريظة په غزا کې حضرت خلاد بن سويد ❽ عنه په شهادت ورسېدو چې د قلا نه يوې ښځې وربانډې دروند کاڼی را وغورځولو .

او لبابة چې ځان يې په مسجد نبوي کې په ستنه پورې تړلی وو تر شپږو شپو پورې هلته تړلی پاتې شو ښځه به يې ورته راتله د مانځه په وخت کې به يې راخلاصولو او بېرته به يې تړلو شپږ شپې وروسته رسول الله ﷺ ته الله ① وويل چې دهغه توبه قبوله شوه پدې وخت کې رسول الله ﷺ د ام


سلمة رضى الله تعالى عنها په كور كې وو د پيشمني وخت وو رسول الله ﷺ له حجرې نه ورته اواز وكولو اى لبابة زيرى قبول كړه الله ① ستا توبه قبوله كړه خلكو ورته را منډه كړه چې خلاص يې كړي ده ويل نه ما به رسول الله ﷺ خلاصوي رسول الله ﷺ چې د سحر مانځه ته را ووتلو په خپلو مباركو لاسونو يې خلاص كړو .

لكه مخكې چې تېرشول (د خندق په غزوه كې) چې حضرت سعد بن معاذ ⑧ زخمي شو بيا يې دعا وكوله : اى الله ترڅو مې مه وژنه څو مې چې په بني قريظة باندې سترګې يخې شوې نه وي (هغوى مې په سزا رسېدلې ليدلي نه وي) نو دده د زخم له امله رسول الله ﷺ ده ته په جومات كې خيمه جوړه كړې وه چې په اسانه سره دده هروخت ديدن او پوښتنه وكوي چې كله د بني قريظة سزا پاى ته ورسېده دده ⑧ زخم وينه وكوله او الله ① يې شهادت په نصيب كړو.

رسول الله ﷺ فرمايي : د حضرت معاذ ⑧ د وفات سره د الله تعالى عرش و شورېدو .

الله ① يې دې مرتبې لوړې كړي .

د څلورمې برخې پاى پنځمې برخې ته مو انتظار غواړم چې د سرية عبد الرحمن بن عوف ⑧ نه به شروع كيږي



ماخذونه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة، الإسكندرية.

2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.

3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.

4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث ,د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.

5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412هـ مكتبة الملك فيصل.

7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .

8-القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ-

1990م.

9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.

10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403هـ.

11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.

12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة، 1408هـ - 1998م.

13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى، 1411هـ - 1991م.

14- على خطى الحبيب :عمرو خالد

17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م

18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.

19- فقه السيرة النبوية، منير الغضبان، معهد البحوث العلمية وإحياء التراث مكة

المكرمة.

20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ - طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ.

21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.

22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.

23-غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ- 1982م.

24- غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة 1394هـ

25-فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.

26- الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.

27-زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.

28-السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة الثالثة، 1417هـ - 1996م.

٢٩-المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1418هـ- 1997م.

٣٠- طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

٣١- المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

٣٢- القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

٣٣- إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.

